# په مختلفو شعبو کي د خلکو نه سر زد غلطياني

## (المنظار في بيان كثير من الاخطاء الشائعة)

تألیف : صالح بن عبدالعزيز بن محمد ال الشيخ

پښتو ترجمه،تحقيق وتخريج : عامر حسن

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په عقیده او توحید کي غلطیاني

**هغه شرکونه چې انسان ددین نه اوباسی او د شرک اکبر بعضی انواع په لاندی ډول دی**

## ۱ د مړو نه مدد غوښتل دعا کول او د عبادت په یو نوع هغوی ته نزدیکت حاصلول

او دا شرک اکبر دی چي انسان له دینه اوباسي

دلیل دالله تعالی دا قول دی ((ایاک نعبد))

د مفعول( ایاک) تقدیم د اختصاص فایده ورکوي چي پدي باندي د توحید کلمه لا اله الا الله دلیل دی او د عبادت د اقسامو نه یو قسم دعا هم ده بلکي دعا عین عبادت دی لکه په سنن کی د نعمان بن بشیر رضي الله عنه نه روایت دی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: «**إِنَّ الدُّعَاءَ هُوَ الْعِبَادَةُ**»

**((دعا عبادت دی))**

د الله نه علاوه د بل چا عبادت کول شرک او کفر دی الله تعالی فرمايي:

**وَمَنْ يَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلهاً آخَرَ لا بُرْهانَ لَهُ بِهِ فَإِنَّما حِسابُهُ عِنْدَ رَبِّهِ إِنَّهُ لا يُفْلِحُ الْكافِرُونَ (117)المؤمنون**

**څوک چي د الله تعالی سره بل معبود راوبلي چي په هغي هيڅ دلیل نه وي نو دده حساب به په الله وي او بیشکه کافران نه کامیابیږي**

او من د عموم د صیغو څخه ده چي ټولو افرادو ته شامل ده

ددی نه معلومه شوه چی چا د الله سره بل څوک راوبله هر څوک چي وی نو دا به د کافرانو څخه شی

او الله تعالی فرمایی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**{أَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا} [سورة الجن، الآية: 118**

جوماتونه د الله لپاره دی نو د الله سره هیڅوک مه رابلی

او الله فرمایی

**وَقالَ الْمَسِيحُ يَا بَنِي إِسْرائِيلَ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ إِنَّهُ مَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْواهُ النَّارُ وَما لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصارٍ (72)**

**او وویل عیسی علیه السلام ای بنی اسرایلو د الله عبادت وکړی چی زما او ستاسو رب دی بیشکه چا چې د الله سره شرک وکه نو الله به په هغه باندی جنت حرام کړی او دده ځای به جهنم وی او نشته د ظالمانو لپاره مددګاران**

او د دعا څخه د طلب ټول انواع دی لکه مدد غوښتل وغیره وغیره

## ۲ د مړو نه د سپارش سوال کول شرک اکبر دی

الله تعالی فرمایی

**أَمِ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ شُفَعاءَ قُلْ أَوَلَوْ كانُوا لا يَمْلِكُونَ شَيْئاً وَلا يَعْقِلُونَ (43) قُلْ لِلَّهِ الشَّفاعَةُ جَمِيعاً لَهُ مُلْكُ السَّماواتِ وَالْأَرْضِ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ (44)**

**ایا دوی د الله نه علاوه نور سپارشیان نیولی دی ته ورته ووایه اګر که دوی د هیڅ شی مالکان ندی او نه عقل لری ووایه خاص الله لره شفاعت ټول دی**

او دالله دا قول

**وَأَنْذِرْ بِهِ الَّذِينَ يَخافُونَ أَنْ يُحْشَرُوا إِلى رَبِّهِمْ لَيْسَ لَهُمْ مِنْ دُونِهِ وَلِيٌّ وَلا شَفِيعٌ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ (51)**

**او پدی قران سره هغه چا ته یره ورکړه چی د حشر نه ویریږی نشته ددوی لپاره دوست او نه شفاعت کونکی دی لپاره چی دوی تقوی اختیار کړی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

او داسې نور اياتونه هم شته

کله چې شفاعت صرف د الله لپاره خاص دی او نشته د هيچا لپاره سپارش کونکی د الله نه بغير کوم چې مړه شوی وی او عمل يې قطع شوی وی نو دا ثابت شوه چې د الله نه علاوه د مړو نه د سپارش سوال کول شرک دی او بختور خلک چې د نبی عليه السلام سپارش به ورته د قيامت په ورځ ميلاو شی هغه اهل توحيد دی چې د شرک د انواعو نه پاک وی او د لا اله الا الله په ويلو کی مخلص وی

## ۳ د قبرونو، مړو او زيارتونو لپاره ذبح کول يا نذر منل شرک دی

هر چې ذبح ده نو د الله ددی قول د وجی ( نه حرامه ده)

**قُلْ إِنَّ صَلاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعالَمِينَ لا شَرِيكَ لَهُ**

**الانعام (162)**

**(( ووايه بيشكه زما مونځ حج مرګ زندګی ټول د الله لپاره خاص دی چې هيڅ شريک نلری))**

نو لکه څنګه چې مونځ د الله لپاره خاص دی دغه شان نسک يعنی ذبح کول هم د الله لپاره خاص ده چې هيڅ شريک نلری او دا ددی ايت د نص څخه معلومه ده

او د الله دا قول

**{فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ} [الكوثر: 2]**

**((پس خپل رب لپاره مونځ وکړه او قربانی وکړه))**

او قربانی کول د بهترينو عباداتو څخه ده ځکه پدی کی د الله د رضا لپاره وينه تويه ول وی او پدی سره بنده په خشوع خضوع سره د وينی په ذريعی د الله تعالی تقرب حاصلول غواړی

او د علی رضی الله عنه په حديث کی راځی

(c) ketabton.com: The Digital Library

«لَعَنَ اللَّهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللَّهِ،الادب المفرد17

**((الله تعالی په هغه چا لعنت کړی چی د غیر الله لپاره ذبح کوی))**

او هر چی نذر دی نو د الله ددی قول د وجی نه

وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ نَفَقَةٍ أَوْ نَذَرْتُمْ مِنْ نَذْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُهُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ (270)البقرة

**((او کوم مال چی تاسو یی خرچ کوی یا کوم نذر چی تاسو یی منی پدی ټولو باندی الله عالم دی))**

او دالله دا قول

يُوفُونَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُ مُسْتَطِيرًا {7}الانسان

**دوی په نذر باندی وفا کوی او د هغه ورځ نه ویریږی چی شر یی خپور دی**

دا ایت دلیل دی چی په نذر باندی وفا کول الله تعالی ته محبوبه ده او په نذر باندی وفا کونکی ته الله اجر ورکوی نو دا یو عبادت شو او د عبادت حق بل چا ته ورکول شرک دی

لکه په اولنی مساله کی ددی تفصیل ذکر شو

## ۴ په قبرونو باندی طواف کول هغه مسح کول د هغی نه تبرک حاصلول دا ټول شرک دی

طواف یو عظیم عبادت دی او د بیت الله نه علاوه د بل ځای نه طواف کول مشروع ندی ځکه  د طواف عبادت په کعبه پسی خاص دی او د غه شان د صفا او مروه مابین کی منډی وهل نو د غیر بیت الله نه طواف کول ددی عبادت په هغه ځای کی کیخودل دی چی لایق ورله ندی بل دا  د قبرونو تعظیم او د قبرونه د بیت الله مشابه ګڼړل او دطواف  عبادت د الله نه علاوه بل چا ته اړول دی

او په قبرونو پسی لاس راښکل یا تبرک حاصلول ددی لپاره چی فایده حاصله شی د قبرونو تعظیم او

(c) ketabton.com: The Digital Library

قبرونو ته د معبودانو درجه ورکول دی لکه د جاهلیت په دور کی چی به مشرکانو د خپلو معبودان تعظیم کولو

دی وجی نه ځوک چی قبرونه مسح کوی یا هغی سره تبرک پدی نیت حاصلوی چی نفع حاصله شی نو ده دهغه شی تعظیم وکه چی الله یی تعظیم ندی مشروع کړی او ددی کار په شرک والی باندی دلیل د ابو واقد رضی الله عنه حدیث دی

**: أَنَّهُمْ خَرَجُوا عَنْ مَكَّةَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى حُنَيْنٍ، قَالَ: وَكَانَ لِلْكُفَّارِ سِدْرَةٌ يَعْكُفُونَ عِنْدَهَا، وَيُعَلِّقُونَ بِهَا أَسْلِحَتَهُمْ، يُقَالُ لَهَا: ذَاتُ أَنْوَاطٍ، قَالَ: فَمَرَرْنَا بِسِدْرَةٍ خَضْرَاءَ عَظِيمَةٍ، قَالَ: فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، اجْعَلْ لَنَا ذَاتَ أَنْوَاطٍ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " قُلْتُمْ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ كَمَا قَالَ قَوْمُ مُوسَى: {اجْعَلْ لَنَا إِلَهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ} [ص:226][الأعراف: 138] إِنَّهَا السُّنَنُ، لَتَرْكَبُنَّ سُنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ سُنَّةً سُنَّةً "**

**21897احمد**

هغه فرمایی ((**مونږ د نبی علیه السلام سره حنین ته وتلی وو مونږ پدغه وخت کی نوی مسلمانان وو د مشرکانو یوه ونه وه چی د هغی ګیر چاپیره به ناست وو او خپلی اسلحی به یی ورته راځوړندی کړی وی دی ونی ته یی ذات انواط ویله نو مونږ پدی ونه باندی تیر شول او نبی علیه السلام ته مو وویل ای د الله رسول مونږ لپاره هم یو داسی ونه وګرځوه لکه ددی مشرکانو چی ده هغه وفرمایل الله اکبر دا د پخوانو قومونو خبره ده تاسو هغه خبره وکړه چی بنی اسرایلو موسی علیه السلام ته کړی وه زمونږ لپاره معبود وګرځوه لکه څنګه چی ددی خلکو معبودان دی))**

**هغه ویلی وو ((بیشکه تاسو یو جاهل قوم یی))**

دی خلکو صرف تبرک او د ونی ګیرچاپیره منجورتوب اختیار کړی وو لیکن ددی باوجود نبی علیه السلام ددوی دا کار د الله سره عبادت کول وګڼړل او همدا عین شرک دی نو کله چی نبی علیه السلام دوی ته مساله بیانه کړه دوی وګرځیدل او انابت یی اختیار که او په قبرونو باندی تبرک حاصلول د هغی نه ګیر چاپیر طواف کول یا د هغی مسح کول ددی کار نه غټ دی کوم چی دوی طلب کړی وو

## په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵ د ژوندو غایبو خلکو رابلل او د هغوی نه مدد غوښتل پدی عقیده لرلو سره چی دوی پہ نفع ورکولو او د لری نه پہ مدد کولو قادر دی**

دا شرک اکبر دی

الله تعالی فرمایی

{أَمَّنْ يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ , وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَاءَ الْأَرْضِ} [النمل: 62]

**څوک دی چی د محتاج دعا قبلوی کله چی ترینه دعا وکړی او د هغه نه تکلیف لری کوی او الله تعالی تاسو لره پہ ځمکه کی خلیفه ګان کرځولی یی ایا د الله سره بل شریک شته**

او نور دلایل پہ اولنی مساله کی تیر شوی دی

**۶ د پیغمبرانو یا صالحینو باره کی غلو کول لکه هغوی ته د الوهیت خاصیت ورکول یا د هغوی عبادت کول شرک اکبر دی چی د دین نه سړی اوباسی**

الله تعالی فرمایی

{يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ أَأَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَهَيْنِ مِنْ دُونِ اللهِ} [المائدة: 116]

**(( کله چی وویل الله تعالی ای عیسی ابن مریم ایا تا خلکو ته ویلی وو ونیسی ما او زما مور لره معبودان د الله نه علاوه هغه وویل سبحان الله))**

او الله تعالی فرمایی

{يَا أَهْلَ الكِتَابِ لاَ تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ وَلاَ تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ إِلَّا الحَقّ إِنَّمَا المَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ اللَّهِ وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ } [النساء: 171]

**ای اهل کتابو د خپل دین باره کی غلو مه کوی او مه وایی پہ الله باندی مګر حق خبره بیشکه عیسی علیه السلام د الله رسول دی او د الله کلمه ده چی مریم ته یی رانازله کړی ده او دالله**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له طرفه روح دی**

او نبی علیه السلام فرمایی **" لَا تُطْرُونِي كَمَا أَطْرَتِ النَّصَارَى عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ، وَلَكِنْ قُولُوا: عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ "مسند ابي يعلى 153**

**زما باره کی هغه شان غلو مه کوی لکه نصاری و چی د ابن مریم باره کی کړی وه زه دالله یو بنده یم نو تاسو ووایی د الله بنده او رسول دی**

## ۷ د اولیاو او جناتو نه یریدل لکه دی نه ویریږی چی که دا کار ونکړی نو ولی یا جنی به ورته مصیبت ورسوی نو دا شرک اکبر دی

ددی دلیل دادی الله تعالی فرمایی

**إِنْ نَقُولُ إِلاَّ اعْتَرَاكَ بَعْضُ آلِهَتِنَا بِسُوءٍ قَالَ إِنِّي أُشْهِدُ اللَّهَ وَاشْهَدُوا أَنِّي بَرِيءٌ مِمَّا تُشْرِكُونَ (54)هود**

**مونږ نه وینو مګر زمونږ بعضی معبودانو تاته ضرر رسولی دی هغه وویل زه الله ګواه کوم او تاسو هم ګواه شی چی زه د هغه څه نه بری یم چی تاسو یی د الله سره شریکوی**

او ویره د هغه عباداتو نه ده چی د زړه سره تعلق لری دي وجي نه د الله لپاره خالص کول يي پکار دی څوک چی د بل چا نه داسی یریږی لکه دالله نه نو دا مشرک دی البته به هر چی طبعی خوف او ویره باندی څه باک نشته لیکن هغه ویره چی د انسان حالت داسی جوړ کړی چی واجباتو کی کوتاهی کوی د حرامو کارنو ارتکاب کوی دا جایز نده لکه د امر بالمعروف او نهی عن المنکر کار ددی وجی نه پریخودل چی خلک به پسی خبری وکړی یا ضرر به ورته ورکړی

## ۸ د ضرر د خوف د وجی یا د نظر نه د بچ کیدو په وجه تعویذونه جوړول او د هغی راځوړنول شرک دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی فرمایی ما د نبی علیه السلام نه اوریدلی دی فرمایلی

**«الرُّقَی، وَالتَّمَائِمُ، وَالتِّوَلَةُ شِرْكٌ»ابن ماجه 3530**

**یی بیشکه دمونه تعویذونه او توله شرک دی**

او د عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روایت دی نبی علیه السلام فرمایی

**" مَنْ عَلَّقَ تَمِيمَةً فَقَدْ أَشْرَكَ "**أخرجه الطبراني في "الكبير" 17/ (885)

**چا چی غاړه کی تعویذ واچوو بیشکه ده شرک وکه**

او ددم باره کی نبی علیه السلام فرمایلی دی

**لَا بَأْسَ بِالرُّقَى مَا لَمْ يَكُنْ فِيهِ شِرْكٌ»**

**3886ابوداود**

**په دمونو باندی څه باک نشته تر څو چی شرکی الفاظ پکی نه وی**

او شرکی دمونه هغه دی چی په هغی کی د الله نه علاوه د بل چا نه مدد وغوښتل شی یا د الله سره پکی  څوک شریک کړی شی

لیکن  د ضرر نه د ویري په وجه یا د نظر نه د حفاظت په وجه تعویذونه راځوړندول شرک اصغر دی اکبر ندی مګر که دا تعویذونه پداسی الفاظو مشتمل وی چی د الله نه علاوه بل چا نه پکی مدد غوښتلی شوی وی یا د جناتو نه مدد پکی غوښتلی شوی وی یا دا عقیده ولری

چی دا تعویذونه په خپله نفع ورکوی او د نفع ورکول سبب ندی نو بیا به شرک اکبر وی

لهذا دی خبری ته متوجه کیدل پکار دی چی دا به په مذکوره حالاتو کی شرک اکبر وی

## ۹ د نجومیانو کاهنانو او ساحرانو نه پوښتنه کول او بیا د هغوی تصدیق کول کفر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی دلیل د نبی علیه السلام دا قول دی

**«مَنْ أَتَى عَرَّافًا أَوْ سَاحِرًا أَوْ كَاهِنًا فَسَأَلَهُ فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ، فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ»**
مسند ابي يعلى**5408**

**څوک چې نجومي یا کاهن ته راغلی او بیا یې د هغه د خبری تصدیق وکه نو ده په هغه شریعت باندی کفر وکه چې په محمد صلی الله علیه وسلم باندی نازل شوی دی**

او دابن مسعود رضی الله عنه په موقوف حدیث کی راغلی دی څوک چې کاهن یا ساحر ته راغلی او د هغه تصدیق یې وکه نو ده په نبی علیه السلام باندی د نازل شوی شریعت څخه انکار وکړ

او ایا پدي احادیثو کی مذکور کفر کفر دون کفر دی یعنی کفر اصغر دی که نه هغه کفر دی چې ددین نه ویستل کوی یا دا چې دی کی توقف وکړی شی نو نه به داسی وایو چې ددین نه پری سړی وځی او نه به وایی چې نه وځی

اولنی قول راجح دی او دویم قول د امام احمد مشهور قول دی

## ۱۰ د شرمخ د خرمنی بعضی ټکړی په کورونو کی راځوړندول او دا عقیده لرل چې دا د جناتو نه د حفاظت سبب دی دا شرک دی

ددی خبری دلیل او د کلام تفصیل په اتمه مساله کی ذکر شو

## ۱۱ د دروازی مخی ته د جناتو نه د یری په وجه ذبح کول شرک دی

ددی دلیل په دریمه او ومه مساله کی تیر شو

## ۱۲ د علم غیب دعوی کول او دا دعوی کول چې مونږ لوح محفوظ ته رسیدل کړی دی دا کفر دی

الله تعالی فرمایی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**{لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ} [النمل: 65]**

**ووایه کوم مخلوق چی په ځمکه او اسمانونو کی دی په غیب نه پوهیږی مګر الله تعالی**

او الله فرمایی

**{وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ} [الأنعام: 59]**

**د الله سره د غیب چابیانی دی په هغی باندی د الله نه علاوه بل څوک ندی عالم**

او پدی کی د صوفیانو دا دعوی هم داخله ده چی وایی مونږ سره د غیب چابیانی دی

**د شرکی نظمونو اوریدل پدی شرط چی راضی  او عالم وی پری**

لکه قصیده برده د بوصیری وغیر هغه قصیدی چی د هغی لیکونکو پکی د نبی علیه السلا یا د نورو صالحینو په شان کی غلو کړی ده او د مخلوق هغه صفتونه یی بیان کړی دی چی الله سره خاص دی

او بعضی دا شرکی قصیدی په میلادونو کی غږول کیږی باید ددی نه اجتناب وشی او خلک ترینه منع کړی شی دی لپاره چی د مسلمانانو ددین حفاظت وشی

الله تعالی دی مسلمانان د ټولو شرکیاتو نه وساتی

## ۱۴ دا عقیده لرل چی الله تعالی په بعضی ځایونو یا بعضی کسانو کی حلول کړی دی او دا کفر  اکبر دی

دویم شرک اصغر او ددی بعضی مثالونه او د شرک وسایل

## ۱ په غیر الله باندی قسم کول پدی شرط چی چا باندی قسم کوی د هغی به په زړه کی داسی تعظیم نه ساتی لکه دالله او دا شرک اصغر دی

ددی دلیل د نبی علیه السلام دا قول دی

**«مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللَّهِ فَقَدْ كَفَرَ وَأَشْرَكَ»**

**چا چی د الله نه علاوه په بل چا باندی قسم وکه نو بیشکه ده شرک او کفر وکه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه شان د نبی علیه السلام دا قول

« فَمَنْ كَانَ حَالِفًا، فَلْيَحْلِفْ بِاللَّهِ أَوْ لِيَصْمُتْ»
مسند ابي يعلى 5832

## څوک چی د قسم کولو اراده لری نو په الله دی قسم وکړی یا دی غلی کینی

البته که د مقسم به داسی تعظیم یی وکه لکه د الله چی کیږی لکه بعضی قبر پرست چی په اولیاو او قبرونو والاو باندی قسمونه کوی نو دا شرک اکبر دی

البته کله چی په ژبه باندی قسم جاری شی او قسم کولو اراده یی نه وی نو دا شرک لفظی دی د شرک اصغر په انواعو کی داخل دی او کفاره یی داده چی ووایی لا اله الا الله بیا کلکه اراده وکړی چی بیرته به دا کار نکوی

## د قبرونو نه مساجد جوړول یو خبیث بدعت حرام کار او شرک ته وسیله ده

نبی علیه السلام فرمايي " لَعَنَ اللهُ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى، اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ "البخاري (437)

**الله دي په یهودو او نصارو لعنت وکړي دوی د خپلو پیغمبرانو د قبرونو نه مساجد جوړ کړي وو خبردار تاسو د قبرونو نه مساجد مه جوړوی بیشکه زه تاسو ددي کار نه منع کوم**

او هر ځاي چي مونځ پکي ادا کولی شي هغه مسجد وي

## ۴ د قبرونو پخواه کی مونځ او دعا کول یو بدعت دی او شرک ته وسیله ده

او دا چی کله د الله نه دعا کیږی لیکن کله چی د مړی نه دعا غوښتل کیږی نو دا خو یقینی شرک دی د نبی صلی الله علیه وسلم څخه ثابت دی چی هغه د قبرونو خواته د مونځ کولو نه منع کړی ده هغه فرمایلی دی قبرونو ته مونځ مه کوی او عمر رضی الله عنه یو ورځ انس رضی الله عنه ولیده چی د قبر خواته یی مونځ کوو او پته ورته نه وه چی قبر دی نو عمر وفرمایل قبر دی قبر دی

او نبی علیه السلام فرمایلی دی د قبرونو نه مساجد مه جوړوی او په مساجدو کی دالله نه دعا غوښتلی کیږی نو دینه معلومه شوه چی د قبرونو خواته دعا کول منع دی البته که دا دعا د مړی لپاره د بخشش مغفرت یا تثبت وی نو دا په احادیثو کی ثابته ده او مړی ددی محتاج دی چی دعا ورته وشی



## په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم بدعتونه او بعضی د توحید متعلق کارونه چې منع ترینه شوی ده

## ۱ د قبرونو پخول په هغی باندی لیکل کول او د هغی خواته د بوټو نالول بدعت دی

ددی دلیل د جابر رضی الله عنه حدیث دی هغه فرمایی

«نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُجَصَّصَ الْقُبُورُ، أَوْ يُبْنَى عَلَيْهَا»
مسند احمد15286

**نبی علیه السلام ددی نه منع کړی چې قبرونه پاخه کړی شی یا په هغی باندی کیناستل وشی یا په هغی مسجد جوړ شی**

او ترمذی کی دا لفظ اضافی دی او ددینه چې لیکل پری وشی او دا اضافه هم د سند په اعتبار سره صحیح دی

او د فضاله بن عبید نه روایت دی هغه فرمایی ما د نبی علیه السلام نه اوریدلی دی د قبرونو په هوارولو یی امر کوو او د ابی الهیاج په حدیث کی دی هغه فرمایی

أَبْعَثُكَ عَلَى مَا بَعَثَنِي عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَدَعْ قَبْرًا إِلَّا سَوَّيْتَهُ، وَلَا تِمْثَالًا إِلَّا طَمَسْتَهُ»
اخرجه الترمذي1049

(( **ماته علی رضی الله عنه ویلی وو ایا زه تا د هغه حکم سره نه لیږم چې نبی علیه السلام زه هغی سره لیږلی وم هغه دا چې ته به نه وینی یو تصویر مګر وران یی کړه او نه به وینی یو اوچت قبر مګر برابر به یی کړی**))

## ۲مختلف تقریبات پدی نیت منعقدول چې الله ته پری نزدیکت حاصل شی

لکه د عید میلاد النبی جشن د نبی علیه السلام د هجرت په ورځ جشن د هجری کال په اوله ورځ جشن د معراج جشن وغیره

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو دا ټول جشنونه بدعت دی ځکه دا ټول هغه اعمال دی چی الله ته پری نزدیکت مقصود دی او الله ته نزدیکت په هغه څه کیږی چی الله شریعت ګرځولی وی او د الله عبادت به په هغه څه سره کولی شی چی شریعت وی او هر نوی کار په دین کی بدعت دی او د بدعاتو څخه منع شوی ده

الله تعالی فرمایی **أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُمْ مِنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ (21) الشوری**

**ایا ددوی لپاره شریکان شته ددوی لپاره یی هغه شی دین ګرځولی دی چی الله یی اجازت نکوی**

او نبی علیه السلام فرمایی

**«مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ»**

**سنن ابن ماجه 14**

**چا چی زموږ په دین کی نوی کار پیدا که نو هغه به رد وی**

او یو بل حدیث کښې دي

**«مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا، فَأَمْرُهُ رَدٌّ»مسند احمد25128**

**چا چي داسي عمل وکه چي زموږ حکم پري نشته نو دا به رد وي**

او نبی علیه السلام فرمایلي دي هر نوی کار بدعت دی او هر بدعت ګمراهي ده

او د عرباض بن ساریه په حدیث کي دي نبی علیه السلام فرمایي

**«عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ بَعْدِي عَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ»**
**تاسو زما او د خلفای راشدینو سنت راټینګ کړی هغه کلک ونیسی او په هغی باندی غاښونه ولګوی او د نوی کارونو نه ځان وساتی ځکه هر نوی کار بدعت دی**

داسي نور بیشماره احادیث شته چي په دین کي د نوي کارونو دایجاد نه او ددي نه منع کوي چي خلک د ځان لپاره داسي عبادتونه ایجاد کړی چي الله ته پري نزدیکت حاصلوي

حالانکه دا داسي اعمال وي چی نه الله مشروع کړي وي او نه د هغه رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳ مختلف بدعي اخترونه لمانځل لکه عید میلاد د کال د اولنی ورځي جشن د مور د میلاد جشن وغیره

او دا اخترونه ددري وجوهاتو د وجي نه منع دي ۱ دا بدعت دي چی دین کی یي اجازت ندی شوی بلکي خلکو د خپلو خواهشاتو نه جوړ کړي دي او اخترونه چونکه پدي کي خوشحالي وي نو دا عبادت دی او په عباداتو کي ابتداع او ایجاد جایز ندی او نه پدي باندي خوشحالي او اقرار پکار دی

۲ د مسلمانانو په کال کی دوه اختره دی ددی نه علاوه هیڅ اختر نشته او هغه وړوکی اختر کله چی خلک د روژی په تکمیل باندی خوشحالی کوی او بل غټ اختر

د عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روایت دی رسول الله صلی الله
علیه وسلم **فرمایی**

**«يَوْمُ عَرَفَةَ وَيَوْمُ النَّحْرِ وَأَيَّامُ التَّشْرِيقِ، عِيدُنَا أَهْلَ الْإِسْلَامِ، وَهُنَّ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ»**
**مسند احمد17379**

**د عرفی ورځ د اختر ورځ او د منی ورځی زمونږ اختر دی ای مسلمانانو**

او بل روایت کی دی نبی علیه السلام فرمایی

**إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيدًا، وَهَذَا عِيدُنَا»**

**سنن ابن ماجه 1898**

**بیشکه د هر قوم لپاره اختر وی او دا زمونږ اختر دی**

نو دا اضافت دلیل دی چی اخترونه په دین پسی خاص وی

۳ پدی کی د کفارو سره مشابهت دی چی اهل کتاب وغیره کافر دی ځکه هغوی داسی اخترونه

**په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمانځۍ او دی کې هیڅ شک نشته چې مونږ د هغوی د مشابهت او دوستی نه منع شوی یو

## ۴د پینځلسم شعبان د شپې عبادت کول

او دا عبادت کول په یو خاص شپې پسې بې دلیله عبادت دی نو دا هم د بدعاتو څخه دی

اوکوم احادیث  چې ددی د مشروعیت باره کې راغلی ټول ضعیف دی او کوم دلایل چې د بدعت نه منع کوی دی بدعت ته هم شامل دی

## ۵ په روژی سره د رجب د میاشتی تخصیص کول

دا هم یو بدعت دی ځکه د رجب د میاشتی د روژی باره کې هیڅ صحیح حدیث ثابت ندی بلکې کوم احادیث چې ددی باره کې راغلی ټول سخت ضعیف دی اعتماد او استدلال پری ندی پکار سره ددی چې عمر رضی الله عنه نه یو روایت کې راغلی  هغه به ددی میاشتی د روژی نه منع کوله لیکن ددی په سند کی هم مقال دی

## ۶ د ورځو جمعو او میاشتو په یو خاص عبادت پوری تخصیص کول

او دا تخصیص بدعت دی ځکه د عبادت لپاره د ورځو یا میاشتو خاص کول د شارع کار دی نو کوم شی چې شریعت یی مقرر کړی هغی باندی به عمل کیدای شی او د کوم وخت باره کې جی دلیل نه وی چې دا فلانی عبادت پسی خاص دی نو ددی تخصیص کول ندی پکار او پدی باندی عمل کول او خاص کول د بدعات څخه دی

## ۷ هر هغه عبادت کول چې الله ته پری نزدیکت مقصد وی او د شریعت په طریقه نه وی

نو دا هم بدعت دی او ټول بدعتونه په اسلام کی مذموم دی ځکه نبی علیه السلام فرمایی **هر بدعت ګمراهی ده** او دا دلیل عام دی هر هغه نوی کار ته شامل دی چې الله ته پری نزدیکت مقصد وی او په دین کی بدعت حسنه نشته بلکی هر بدعت قبیح دی کول یی جایز ندی او نه په بدعت عمل باندی عمل کول پکار دی او ټول خیر به هغه عبادت کی دی چې د نبی علیه السلام صحابه کرامو کړی وی چې د نبی علیه السلام نه یی په میراث کی اغستی وی او د هغه د طریقی تابعداری یی پکی کړی وی

ابن مسعود رضی الله عنه فرمایی هر هغه عبادت چې د نبی علیه السلام صحابه و نه وی کړی هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مه کوی ځکه اولنو خلکو د اخیرنو لپاره څه مقال ندی پریخی

وکل خير في اتباع من سلف وكل شر في ابتداع من خلف

## په طهارت کی غلطیانی

### ۱ د اودس په شروع کی په ژبی سره نیت کول

دا کار جایز ندی ځکه د نیت محل زړه دی او په ژبی سره نیت زمونږ نبی ندی کړی او نیت شرعی دادی چی د اودس کونکی په زړه کی راولی چی دا اودس زه د مونځ لپاره کوم یا د قران لوستلو لپاره یا د حدث رفع کولو لپاره وغیره نو دا صحیح نیت دی

نیت دیته وایی چی زړه د عبادت اراده وکړی او نبی علیه السلام ددی ترغیب ورکړی چی د اودس شروع په بسم الله سره وشی نه په بل شی سره نو په جهری نیت سره د اودس شروع کول د نبی علیه السلام ددی امر خلاف دی

### ۲ په اودس او غسل شرعی باندی اهتمام نه کول او د صفایی او د طهارت د احکامو په پیژندلو کی تساهل او سستی کول

دا د هغه کارونو څخه دی چی مسلمان لره ددینه اجتناب پکار دی ځکه طهارت اودس غسل د مونځ د صحت لپاره شرط دی او څوک چی پدی کی سستی کوی د هغه مونځ صحیح ندی ځکه هغه د واجب په ادا کولو کی کوتاهی کړی ده

او نبی علیه السلام لقیط بن صبره ته فرمایلی وو

«أَسْبِغِ الْوُضُوءَ،سنن ابن ماجه 407

**اودس په کامله طریقه سره کوه**

او یو بل حدیث کی دی نبی علیه السلام فرمایی

«وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ،سنن ابن ماجه 450

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پوندو لپاره دی دجهنم اور وی**

دا ځکه چی دا ځای اکثر د وینځلو نه پاتی کیږی او دا دلیل دی چی د پوندو نه علاوه نور اندامونه ددی په حکم کی دی نو په اودس کی د ټولو اندامونو وینځل ضروری دی هغه داسی چی اوبه پری واچوی مګر په سر باندی پدی باندی مسح کول کافی دی او غوږونه به هم د سر سره مسح کولی شی ځکه غوږونه د سر حصه ده لکه د نبی علیه السلام نه ثابت دی هغه فرمایی غوږونه د سر حصه ده

مسلمان له پکار دی چی د اودس احکام زده کړی او داسی اودس به کوی چی هر اندام به دری کرته وینځی ځکه پدی کی د نبی علیه السلام تابعداری ده او دا طریقه بهتره ده

عثمان رضی الله عنه نه روایت دی نبی علیه السلام فرمایلی

**«مَنْ تَوَضَّأَ كَمَا أَمَرَهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ، فَالصَّلَوَاتُ الْمَكْتُوبَاتُ كَفَّارَاتٌ لِمَا بَيْنَهُنَّ»**

**چا چی هغه اودس وکه په کوم چی الله امر کړی دی نو ټول فرضی مونځونه د هغه ګناهونه کفاره ده چی ددی مینځ کی ادا کیږی**

او دی باره کی بیشماره احادیث راغلی چی اودس په صحیح طریقه ادا کول پکار دی او د اودس په وجه ګناهونه ختمیږی

## ۳ په اودس کی وسوسه راتلل چی ما دری ځل نه اندام ډیر وینځلی دی یا په اودس کی شکوک کول

دا د شیطان وسوسه ده نبی علیه السلام په اوس کی ددری ځل نه ډیر اندام ندی وینځلی لکه بخاری کی راځی چی نبی علیه السلام دری ځله هر اندام ووینځه

مسلمان له پکار دی چی د اودس ختمیدو نه پس ټولی وسوسی او شکونه ختم کړی او ددری کرت نه ډیر اندام ونه وینځی پدی سره به د شیطان وسوسه ختمه شی

## ۴په اوبو کی اسراف کول

دا کار منع دی الله تعالی فرمایی اسراف مه کوی ځکه الله تعالی اسراف کونکی نه خوښوی

د سعد رضی الله عنه نه روایت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَرَّ بِسَعْدٍ، وَهُوَ يَتَوَضَّأُ، فَقَالَ: "مَا هَذَا السَّرَفُ؟ " فَقَالَ: أَفِي الْوُضُوءِ إِسْرَافٌ؟ قَالَ: "نَعَمْ، وَإِنْ كُنْتَ عَلَى نَهَرٍ جَارٍ"**إسناده ضعيف لضعف عبد الله بن لهيعة وحُيي بن عبد الله المَعافري، قاله البوصيري في "مصباح الزجاجة" الورقة 33.
وهو في "مسند أحمد" (7065)

**چې نبی علیه السلام د هغه په خواه باندی تیر شو او هغه اودس کوو نو نبی علیه السلام وفرمایل په اوبو کی اسراف مه کوه هغه وویل ایا اوبو کی هم اسراف وی**

**هغه وفرمایل هو اګر که ته د یو جاری نهر په خواه کی اودس کوی**

## ۵ په بیت الخلا کی د الله ذکر کول یا بیت الخلا ته داسی شی داخلول چې د الله نوم پکی وی

دا مکروه دی نو مسلمان له پکار دی چې اجتناب ترینه وکړی د ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی

**«مَرَّ رَجُلٌ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَبُولُ، فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ،ابن ماجه 351**

**چې یو سړی تیر شو او نبی علیه السلام قضای حاجت ته ناست وو نو هغه پری سلام وکه نبی علیه السلام جواب ورنکړ**

دا ځکه چې د سلام جواب ورکول ذکر دی

## ۶ د یو ځل نه ډیر سر مسح کول

داکار د نبی علیه السلام د سنت خلاف دی ځکه نبی علیه السلام به یو ځل سر مسح کوو لکه د علی رضی الله عنه په حدیث کی راغلی دی

**فَمَسَحَ بِرَأْسِهِ مَرَّةً وَاحِدَةَ**

**مسند احمد 1324**

**چې نبی علیه السلام یو ځل په سر باندی مسح وکړه**

امام ابوداود فرمایی د عثمان رضی الله عنه نه په صحیح سند سره ټول وراد احادیث پدی دلالت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوی چی د سر مسح یو ځل ده

## ۷ د څټ مسح کول

دا هم د غلطیانو نه ده بلکی بعضی علماو دیته بدعت ویلی دی ځکه د نبی علیه السلام نه دی باره کی هیڅ حدیث ندی ثابت البته موضوع روایات دی باره کی شته او بعضی علماو د څټ مسح جایز ګڼرلی ده لیکن هغوی باندی دا خبره پټه پاتی شوی چی دی باره کی حدیث ضعیف دی دی وجی نه د څټ مسح کول جایز ندی او دی مسالی ته متوجه کیدل پکار دی دی لپاره چی په شریعت کی د نوی کار نه ځان وساتو

## ۸ د موزو یا جورابو لاندی حصه مسح کول

دا یوه غلطی او جهالت دی ځکه نبی علیه السلام د موزو په بره حصه باندی مسح کړی ده مغیره بن شعبه رضی الله عنه فرمایی

**«كَانَ يَمْسَحُ أَعْلَى الْخُفِّ،معرفة السنن 2063**

**ما نبی علیه السلام ولیده چی د موزو په بره حصو باندی یی مسح وکړه**

علی رضی الله عنه فرمایی **که ددین تعلق د عقل سره وی نو د موزی لاندی حصه به د بری حصی نه په مسح کولو ډیره لایقه وی**

**او ما نبی علیه السلام لیدلی چی د موزو په بره حصو یی مسح کړی ده**

## ۹ د بادو د وتلو په وجه استنجا کول

د بادو د وتلو په وجه استنجا نه وی استنجا صرف د ډکو او تشو متیازو په وجه وی

نو د چا نه چی باد ووتل هغه له ندی پکار چی د اودس نه مخکی استنجا وکړی لکه دا کار ډیر خلک کوی ځکه هیڅ دلیل دی باره کی نشته چی د بادو په وجه استنجا لازمه ده صرف دومره ثابت ده چی

(c) ketabton.com: The Digital Library

باد وتلو په وجه اوس ماتیږی او د الله شکر دی چی مونږ باندی یی اسانی کړی ده

امام احمد فرمایی **د باد وتلو په وجه استنجا په قران او حدیث کی نشته صرف دی وجی نه اودس پکار دی**

## مونځ

### ۱ بالکل مونځ پریخودل

دا کفر دی الله تعالی ددینه زمونږ د ټولو حفاظت وکړی پدی باندی د قران حدیث او اجماع څخه دلایل موجود دی

الله تعالی فرمایی

**{فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ} [التوبة: 11]**

**که دوی توبه اوباسی مونځ قایم کړی او زکات ورکړی نو دوی په دین کی ستاسو ورونه دی**

او الله تعالی فرمایی

**{مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرٍ قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ } [المدثر: 42]**

**څه شی تاسو په جهنم کی اچلی یی هغوی به ووایی مونږ د مونځ کونکو څخه نه وو**

د سنت څخه

د جابر رضی الله عنه نه روایت دی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی

**«مَا بَيْنَ الْكُفْرِ أَوِ الشِّرْكِ وَالْإِيمَانِ تَرْكُ الصَّلَاةِ»**
سنن الدراقطني **1754**

**د سړی او د شرک په مابین کی د مونځ پریخودل دی**

یو بل حدیث کی دی نبی علیه السلام فرمایی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**" الْعَهْدُ الَّذِي بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمُ الصَّلَاةُ، فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ "سنن ابن ماجه 1079**

**هغه عهد چې زمونږ او د کفارو مابین کې دی هغه مونځ دی چا چې مونځ پریخوده نو دا کافر شو**

اجماع

عبدالله بن شقیق رضی الله عنه فرمایی

**" مَا عَلِمْنَا شَيْئًا مِنَ الْأَعْمَالِ قِيلَ: تَرْكُهُ كُفْرٌ، إِلَّا الصَّلَاةَ "الترمذي2622**

**د نبی علیه السلام صحابه و به د مونځ نه علاوه بل شی ته کفر نه ویله**

## ۲ د خپل وخت نه د مونځ وروسته کول

دا د الله ددی قول مخالفت دی

**{إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَوْقُوتًا} [النساء: 103]**

**بیشکه مونځ په مومنانو باندی په یو مقرر وخت کی فرض دی**

نو د مونځ د هغه وخت نه وروسته کول چی ورله مقرر شوی دی کبیره ګناه ده

د انس رضی الله عنه نه روایت دی فرمایی

**«تِلْكَ صَلَاةُ الْمُنَافِقِينَ، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، يَجْلِسُ أَحَدُهُمْ حَتَّى إِذَا اصْفَرَّتِ الشَّمْسُ، وَكَانَتْ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ، قَامَ فَنَقَرَ أَرْبَعًا، لَا يَذْكُرُ اللَّهَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا»**
مسند احمد **12509**

**ما د نبی علیه السلام نه اوریدلی دی چی د منافق مونځ دادی چی ناست وی د نمر انتظار کوی کله چی نمر د شیطان د ښکرو مابین کی شی نو پاځیږی او څلور ټونګی ووهی او د الله ذکر ډیر کم کوی**

نو کله چی دا قسم مونځ د منافق مونځ دی نو دهغه چا مونځ به څنګه وی چی د خپل وخت نه یی وروسته کوی تر دی چی وخت بالکل ختم شی او هیڅ عذر نلری

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳ د همیشه لپاره یا بعضی وختونو کی په جماعت سره مونځ پریخودل او دا دسړو لپاره خاص دی چی قادر وی

مونځ باندی حکم شوی چی په مساجدو کی په جماعت سره قایم شی او په جماعت سره مونځ واجب دی البته د چا لپاره چی عذر شرعی وی هغه په کور کی مونځ کولی شی نبی علیه السلام فرمایی چا چی اذان واوریده او بیا مسجد ته حاضر نشو نو د هغه مونځ نشته مګر د عذر شرعی په وجه

حافظ ابن حجر فرمایی ددی حدیث سند د مسلم د شرط مطابق دی

او الله تعالی فرمایی

{وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ} [البقرة: الآية:43]

**د رکوع کونکو سره رکوع وکړی**

په یو بل حدیث کی راځی نبی علیه السلام فرمایی

**فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ بُيُوتَهُمْ بِالنَّارِ»سنن ابن ماجه 791**

**بیا زه هغه کسانو پسی ورشم چی مونځ کی نه حاضریږی او د هغوی کورونه وسیزم**

## ۴ مونځ په اطمینان سره نکول

او دا کار ډیر عام دی چی دا یوه ښکار ګناه ده ځکه په مونځ کی اطمینان او خشوع رکن دی دی نه بغیر مونځ نه صحیح کیږی او د مسی الصلاه حدیث پدی باندی واضح دلیل دی او د اطمینان معنی داده چی مونځ کونکی په رکوع د رکوع نه پس په سجده د سجدو مابین کی په ناسته کی اطمینان او اعتدال وکړی داسی چی دومره وخت هیسار شی چی هر اندام یی خپل ځای ته راوپس شی او د یو رکن نه دی بل رکن ته تر هغه پوری نه ځی تر څو چی یی هر اندام خپل ځای ته واپس شوی نه وی نبی علیه السلام هغه کس ته فرمایلی وو چی مونځ کی یی جلدی کوله او اطمینان یی نه کوو

**«ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ»مسند ابي يعلى6577**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**واپس شه پس مونځ وکړه ځکه تا مونځ ندی کړی**

د رفاعه رضی الله عنه په حدیث کی دی

**چې دی کس بیا الله اکبر وویل او رکوع یی وکړه کیخودل خپل لاسونه په زنګونونو باندی تر دی چې ټول اندامونه یی اطمینان کی شو او خپل ځایونو ته لاړل بیا یی وویل سمع الله لمن حمده او وبه دریده تر دی چې هر اندام به خپل ځای واغسته ( یعنی ښه به په ارام شول )**

## ۵ په مونځ کی خشوع نه کول او په کثرت سره خوځیدل

خشوع د زړه سره تعلق لری او په اندامونو هم ددی اثر وی

الله تعالی د خپلو بنده ګانو تعریف کړی دی کوم چي په مونځ کي خشوع کوي

**{قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ} [المؤمنون: 2] "**

**او مومنان هغه کسان دی چې په خپلو مونځونو کی خشوع کوی**

او د پیغمبرانو باره کی الله تعالی فرمایی

**{إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ , وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا , وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ} [الأنبياء: 90]**

**بیشکه هغوی به د خیر په کارونو کی سبقت کوو او زمونږ عبادت به یی د شوق او ویری د وجی نه کوو او زمونږ لپاره به یی خشوع کوله**

نو د بنده لپاره پکار ده چی اندامونه یی په ارام وی او په زړه کی یی هم خشوع وی تر دی چی د مونځ اجر او ثواب ورته میلاو شی د عمار بن یاسر رضی الله عنه نه روایت دی هغه فرمایی ما د نبی علیه السلام نه اوریدلی دی فرمایل یی یو کس د مونځ نه واپس کیږی او نه وی او د هغه لپاره صرف د مونځ لسمه حصه اجر لیکلی شوی وی یا نهمه یا اتمه یا ومه یا شپږمه یا پینځمه یا څلورمه یا دریمه یا نیم

او د اجر د کموالي وجه د مونځ کونکی خپل مونځ لره په په عدم خشوع خرابول دی چی نه یی زړه کی خشوع وی او نه د بدن په نورو اندامونو باندی

## په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۶ قصدا د امام نه په مونځ کی مخکی کیدل یا د هغه مخالفت کول

دا کار پوره مونځ یا یو رکعت لره باطلوی چا چی د امام نه مخکی رکوع وکړه د هغه رکعت باطل شو بیا به وروسته رکوع کوی او دغه شان نور ارکان هم ددی په حکم کی دی نو په مونځ کونکی باندی واجب دی چی د امام اقتدا وکړی او د هغه د ښکته کیدو او پورته کیدو نه پس ښکته او پورته شی نه به تری مخکی کیږی او نه به ډیر وروسته کیږی او دا په ټولو ارکانو کی

ابو هریره رضی الله عنه فرمایی رسول الله صلی الله علیه  وسلم فرمایلی دی

**" إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ، فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا، وَإِذَا قَرَأَ فَأَنْصِتُوا، وَإِذَا قَالَ: {غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ} [الفاتحة: 7] ، فَقُولُوا: آمِينَ، وَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوا، وَإِذَا قَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، فَقُولُوا: اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، وَإِذَا سَجَدَ فَاسْجُدُوا، وَإِذَا صَلَّى جَالِسًا، فَصَلُّوا جُلُوسًا أَجْمَ**

**سنن ابن ماجه 846**

**امام خو ددی لپاره دی چی د هغه اقتدا وکړی شی نو کله چی هغه الله اکبر ووایی تاسو هم الله اکبر ووایی او کله چی هغه رکوع وکړی تاسو هم رکوع وکړی او تاسو رکوع تر هغه مه کوی چی هغه رکوع نه وی کړی**

البته که څوک د نسیان یا جهل په وجه دا کار وکړی نو هغه باندی ګناه نشته

## ۷ دپاتی شوی رکعت لپاره د امام ددویم سلام ګرځولو نه مخکی پاڅیدل

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی زما نه په رکوع سجده او پاڅیدلو کی مخکی والی مه کوی

علماو لیکلی دی چی د انصراف معنی سلام ګرځول دی او دیته انصراف ځکه وایی چی دی نه پس مونځ کونکی له ګرځیدل جایز وی او دا ګرځیدل صرف ددویم سلام نه پس وی

او چا نه چی یو یا دوه رکعته پاتی شوی وی هغه به انتظار کوی تر دی چی امام مونځ مکمل کړی بیا به پاڅیږی او باقی مونځ به ځانله ادا کوی

والله اعلم



## په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۸ د مونځ په شروع کې په ژبې سره نیت کول

دا بدعت دی او د بدعت په تحریم باندی دلایل مخکې ذکر شو نبی علیه السلام هیڅکله د مونځ لپاره په جهر باندی نیت ندی کړی امام ابن قیم فرمایی

**کله چې به مونځ ته ودریده الله اکبر به یی وویله د الله اکبر نه مخکی به یی هیڅ نه ویل نه به یی ژبې سره نیت کوو او نه به یی ویل زه د الله لپاره فلانی مونځ کوم مخ می د قبلې په طرف دی څلور رکعته مونځ کوم یا امام یم یا مقتدی او نه به یی ویل چې دا قضا مونځ دی که ادا نه به یی ویل چې په خپل وخت باندی دی دا لس بدعات دی هیڅ صحابی د نبی علیه السلام نه ندی نقل کړی نه په صحیح سند سره نه ضعیف نه مسند نه مرسل سره یو لفظ هم ندی نقل نه دا عمل د یو صحابی څخه ثابت دی نه تابعینو کې چا دیته جایز ویلی دی نه ایمه اربعه وو**

## ۹ په مونځ کې د سورت فاتحه نه لوستل

د سورت فاتحه لوستل رکن دی او د هغه چا مونځ صحیح ندی چې سورت فاتحه پکې ونه لولی نبی علیه السلام فرمایی

**«مَنْ صَلَّى صَلَاةً لَمْ يَقْرَأْ فِيهَا بِأُمِّ الْقُرْآنِ، فَهِيَ خِدَاجٌ غَيْرُ تَمَامٍ»ابن ماجه 838**

**چا چې مونځ وکه او سورت فاتحه یی پکی ونه لوسته نو دا مونځ یی ناقص دی ناقص دی ناقص دی او مکمل ندی**

د عباده بن صامت رضی الله عنه نه روایت دی نبی علیه السلام فرمایی

**«لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ فِيهَا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ»ابن ماجه 837**

**د هغه چا مونځ نشته چې سورت فاتحه پکې ونه وایی**

او بل روایت کې دی نبی علیه السلام صحابه وو ته فرمایلی وو

**«أَتَقْرَءُونَ خَلْفِي؟» قَالُوا: نَعَمْ، وَاللَّهِ هَذًّا، قَالَ: «فَلَا تَفْعَلُوا إِلَّا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ، فَإِنَّهُ لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْهَا»مسند احمد22671**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ایا تاسو د امام شاته قرات کوی هغوی وویل هو نبی علیه السلام وفرمایل قرات مکوی مګر سورت فاتحه لولی ځکه ددی نه بغیر مونځ نه کیږی**

دا دلیل دی چی سورت فاتحه په مقتدی باندی هم فرض ده

او د مقتدی لپاره په عامو مونځونو یا جهری مونځونو کی د سورت فاتحی لوستلو باره کی اختلاف مشهور دی چی ایا واجب دی لوستل یی که نه

جمهور علما وایی د مقتدی لپاره سورت فاتحه لوستل نشته لیکن لوستل یی ذمی لره بری کوی او ډیر احتیاط دی پکی او کوم علما چی دا قول کوی دی کی اکثر وایی چی لوستل یی مستحب دی

## ۱۰ په رکوع او سجده کی د قران تلاوت کول

ددی نه منع راغلی ده

د ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی نبی علیه السلام فرمایی **خبردار زه ددی نه منع شوی یم چی د رکوع یا سجدی په حالت کی قران ولولم**

د علی رضی الله عنه نه روایت دی هغه فرمایی **نبی علیه السلام زه منع کړی وم چی د رکوع یا سجدی په حالت کی قران ولولم**

## ۱۱ په مونځ کی اسمان ته کتل یا بغیر د حاجت نه سترګی اخواه دیخواه اړول

اسمان ته نظر اوچتول دی نه حدیث کی منع راغلی دی او سخت وعید یی وارد دی د جابر بن سمره رضی الله عنه نه روایت دی نبی علیه السلام فرمایی دا کوم خلک چی په مونځ کی اسمان ته نظر اوچتوی دوی دی منع شی که نه وی ددوی دا نظر دی الله ختم کړی ( چی بیرته ښکته راونګرځی)

او په مونځ کی یو طرف ته کتل یا مخ اړول د مونځ په ثواب کی د کمی باعث دی کله چی دا کتل په پوره بدن سره نه وی که پوره جسم یی یو طرف ته واړو نو مونځ به یی باطل وی د عایشه رضی الله عنها نه روایت دی چی ما د نبی علیه السلام نه په مونځ کی د کتلو باره کی پوښتنه وکړه نو هغه وفرمایل دا یوه حمله ده چی شیطان یی د انسان په مونځ باندی کوی

## په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو بل روایت کی راځی په مونځ کی د  اخوا دیخوا کتلو نه ځان وساتی ځکه دا بربادی او هلاکت دی

دی باره کی نور احادیث هم شته دی

## ۱۲ په مونځ کی د سپی پشان کیناستل او په سجد ه کی متې په ځمکه ایخودل

په مونځ کی د سپی پشان د ناستی نه منع راغلی ده ( په دواړه ښپو باندی کیناستل ) ابو هریره رضی الله عنه فرمایی نبی علیه السلام زه ددری کارونو نه منع کړی یم د د بانګی د ټونګی نه ( په مونځ کی د بانګی پشان ټونګی وهلو نه ) د سپی پشان کیناستلو نه او په مونځ کی د ګیدړی د کتلو پشان کتلو نه

او نبی علیه السلام منع کړی ده چی د سجدی په حالت کی انسان خپل متې د درنده ګانو پشان خوری کړی د جابر رضی الله عنه نه مرفوع روایت دی چی کله تاسو کی یو تن سجده کوی نو ارام سره دی وکړی او خپل متونه دی د سپی پشان په ځمکه نه ځملوی

## ۱۳ نری جامی اغوستل چی عورت لره نه پټوی

دی سره مونځ باطلیږی ځکه په مونځ کی ستر پټول د مونځ د صحت لپاره شرط دی او د راجح قول مطابق د سړی ستر د نامه نه تر زنګون پوری دی دغه شان هغه باندی د اوږو پټول هم لازم دی الله تعالی فرمایی ای د ادم بچو د مسجد په خواه کی زینت اختیار کړی

او یوه کپړه هم کافی ده چی ستر پټوی د عمر بن ابی سلمه رضی الله عنه نه روایت دی چی هغه نبی علیه السلام لیدلی دی چی د ام سلمه په کور کی یی په یوه کپړه کی مونځ کوو دواړه طرفونه یی په خپل ځان راچلی وو

ابن قدمه رحمه الله فرمایی په هغه کپړه باندی ځان پټول پکار دی چی څرمن لره پټوی نو کله چی کپړه داسی وی چی د هغی لاندی د څرمن رنګ ښکاری د هغی سپین والی او سور والی معلومیږی نو داسی کپړه کی مونځ کول جایز ندی ځکه پدی سره ستر ندی حاصل

## ۱۴ په مونځ کی ښځی لره زړوکی نه پسرول یا د ښپو نه پټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مونځ کی د ښځی ستر د هغی ټول بدن دی سوا دا مخ نه او هغی باندی څه ګناه نشته که د سږو د تیریدو په وجه یی مونځ کی مخ پټ کړ او ښځی باندی لازمه ده چی لوپټه به پسر کوی داسی لوپټه چی سر او سینه پټوی ځکه نبی علیه السلام فرمایی الله تعالی د ښځی مونځ بغیر د لوپټی نه نه قبلوی

او د ښپو د بره حصو پټول ورله هم واجب دی ځکه حدیث کی راځی چی ښځه ټول عورت دی

**محمد بن زید د خپلی مور نه روایت کوی هغی د د ام سلمه رضی الله عنها نه پوښتنه وکړه چی په کومو کپړو کی به ښځه مونځ کوی هغی وویل په لوپټه او داسی قمیص کی چی د ښپو بره حصی ورله پټوی**

## ۱۵ د مونځ کونکی مخی ته تیریدل کله چی د امام په طور مونځ کوی یا منفرد وی او د جمعی په ورځ د خلکو په اوږو باندی مخی ته اوړیدل

څوک چی د مونځ کونکی مخی ته تیریږی سخت ګناه ګار دی که ستره نه وی نو د جانماز یو طرف دی ځانته ستره کړی او څوک چی تیریدل غواړی هغه دی بیا تیر شی

د ابو جهیم رضی الله عنه نه روایت دی نبی علیه السلام فرمایی **که چیرته هغه چاته پته وی چی د مونځ کونکی مخی ته تیریږی چی ده باندی څومره ګناه ده نو دا به یی خوښه ګڼړلی وی چی الله ته څلویښت کاله په عبادت ودریږی ددینه چی د مونځ کونکی مخی ته تیر شی**

او څوک چی د جمعی په ورځ د خلکو په اوږو باندی ښپی اړوی دا خلکو ته ضرر ورکوی او د مونځ نه هم وروسته شوی دی

نبی علیه السلام هغه کس ته فرمایلی وو چی د خلکو د اوږو دپاسه اوړیده

**کینه تا خلکو ته تکلیف هم ورکه او مونځ ته هم وروسته راغلی یی**

نو دا کار منع دی کوم کس چی مسجد ته داخل شی هغه له پکار دی چی هغه ځای کی کینی کوم ځای چی ورته خالی میلاو شی البته که د خلکو د صف نه دننه خالی ځای وی نو بیا تلی شی

## ۱۶- دهغه کس تکبیره الاحرام لره  پریخودل چی دامام سره مونځ کی شریک شی او امام رکوع کی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا کار غلط دی ځکه تکبیره الاحرام رکن دی نو د مونځ کونکی لپاره دا ویل ضروری دی په ولاړه به یی وایی بیا به د امام سره رکوع کی شاملیږی او تکبره الاحرام د رکوع د الله اکبر په ځای کار ورکوی لیکن تکبیره الاحرام بیل ویل بیا د رکوع لپاره الله اکبر بیل ویل ډیر احتیاط دی ابو هریره رضی الله عنه فرمایی

**نبی علیه السلام چی به کله مونځ ته ودریده نو الله اکبر به یی ویله کله چی به راپورته کیده او کله چی به یی رکوع کوله**

## ۱۷ کوم کس چی مسجد ته راشی او امام ناست وی یا سجدی کی وی نو امام سره په دی حالت کی د امام سره نه شاملیدل ( تر دی چی هغه بل رکعت ته راپاڅیږی )

بهتر عمل دادی چی څوک مسجد ته داخل شی هغه له پکار دی چی امام سره شامل شی که هغه هر حالت کی وی سجده کی وی او که بل حالت کی

نبی علیه السلام فرمایی

**کله چی تاسو مونځ ته راشی او مونږ سجده کی پراته یو نو تاسو هم مونږ سره سجده وکړی**

او کله چی یو کس د سجدی نه ځان وروسته کړی دا پدی سره د هغه عبادت نه ځان محرومو ی چی الله ته خوښ دی

د علی او معاذ بن جبل رضی الله عنهما نه روایت دی فرمایی نبی علیه السلام فرمایلی دی

**کله چی یو کس پتاسو کی مونځ ته راشی او امام په هر حال کی وی نو داسی کار دی کوی څنګه چی امام کوی**

دا حدیث ضعیف دی لیکن مخکنی حدیث ددی په معنی کی وو او یو بل حدیث هم ددی تایید کوی هغه دا چی معاذ رضی الله عنه فرمایی

**زه چی امام په کوم حالت کی وینم هغی کی ورسره زه هم شاملیږم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نو نبی علیه السلام وفرمایل معاذ ستاسو لپاره یو سنت ایجاد کړی دی نو دا هم د معاذ پشان کار کوی**

## ۱۸ په مونځ کی پداسی شی مشغولیدل چی  مونځ خرابوی

او دا دلیل دی چی دی کس دنیا په اخرت باندی غوره کړی ده او د خواهش تابعداری یی د الله په تابعداری غوره کړی ده او دا د الله د ذکر نه په لهویاتو باندی مشغولیدل دی چی یو تاوان او گناه ده

الله تعالی فرمایی

**ای مومنانو ستاسو مالونه او اولاد دی تاسو د الله د ذکر نه مشغول نکړی او څوک چی دا کار وکړی نو بیشکه همدوی تاوانیان دی**

او د مومنانو په صفت کی الله فرمایی

مومنان داسی سړی دی چی هیڅ تجارت او بیع دوی لره د الله د ذکر او مونځ څخه نه مشغولوی

او هر هغه عمل جایز ندی چی د مونځ نه انسان مشغولوی یا په دی کی د سستی باعث گرځی لکه شوگیر کول وغیره

ځکه هغه وسایل چی حرام ته رسول  کوی هغه خپله هم حرام دی

## ۱۹ په مونځ کی د جامو یا گهینتیی سره لوبی کول

دا عمل د خشوع منافی دی په پینځمه مساله کی د خشوع باره کی دلایل تیر شوی دی

او نبی علیه السلام د مونځ په حالت کی د کاڼو سره د لوبو کولو نه منع کړی ده ځکه دا د خشوع سره منافی عمل دی نبی علیه السلام فرمایلی دی **کله چی یو کس پټاسو کی مونځ ته ودریږی نو کاڼو ته دی لاس نه وروړی ځکه پدی حالت کی دیته رحمت متوجه دی**

او کله چی دا عبث ډیر وی تر دی چی د حرکت کثیره حد ته ورسیږی او مونځ پری باطل شی

## ۲۰ د ضرورت نه بغیر په مونځ کی سترگی پټول

دا عمل مکروه دی

# په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام ابن قیم فرمایي **په مونځ کس سترګې پټول د نبی علیه السلام طریقه نه وه او فقهاوو ددی په کراهت کی اختلاف کړی دی امام احمد وغیره دیته مکروه ویلی دی او فرمایلی یی دی چی دا د یهودو عمل دی او بعضی علماو دیته مباح ویلی دی او فرمایلی یی دی چی کله پدی سره خشوع نوره هم زیاتیږی کومه چی د مونځ روح او اصل مقصود دی**

**او حق خبره داده چی وویل شی که د سترګو کولاو ساتل په خشوع باندی څه اثر نه کوو نو بیا یی کولاو ساتل افضل دی ابته که د خشوع او دده مابین کی داسی یو شی حایل وی چی دده خشوع خرابوی لکه مخی ته ډولی شیان وغیره نو پدی وخت کی سترګی پټول قطعا مکروه ندی بلکی پدی حالت کی سترګی پټولو باندی قول کول د شریعت د اصولو او مقاصدو مطابق دی ددینه چی قول په کراهت سره وشی**

## ۲۱ په مونځ کی خوراک څښاک او خندا کول مونځ لره باطلوی

د خوراک او څښاک باره کی اجماع ده چی دا مونځ باطلوی امام ابن المنذر فرمایي

**پدی باندی علماو اجماع کړی چی مونځ کونکی د خوراک او څښاک نه منع دی او ټولو علماو پدی اجماع کړی چی چا په فرض مونځ کی قصدا خوراک یا څښاک وکه نو مونځ به دوباره راګرځوی**

او ابن منذر رحمه الله پدی باندی هم اجماع نقل کړی چی په خندا باندی مونځ ماتیږی

## ۲۲ د قران د تلاوت په وخت اواز اوچتول او خلکو ته تکلیف ورکول

بهتره داده چی خپل ځان ته یی ورواوری داسی جهر دی نکوی چی بل تلاوت کونکی یا مونځ کونکی ته تکلیف ورکړی

**د عمران بن حصین رضی الله عنه نه روایت دی چی نبی علیه السلام یو ورځ د ماسپښین مونځ کوو یو کس شاته سبح اسم ربک الاعلی سورت په اوچت اواز سره شروع که کله چی نبی علیه السلام مونځ ختم که ویی فرمایل کوم کس تاسو کی قرات کوو**

**یو کس وویل ما نبی علیه السلام وفرمایل ما ګمان وکه چی پتاسو کی بعضو ما سره په قران کی جګړه وکړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

علماو لیکلی دی ددی کلام مقصد هغه ته توبیخ ورکول وو

ابن تیمیه رحمه الله فرمایی

**چا چی قران لوسته او خلکو نفلی مونځ کوو نو دی له ندی پکار چی داسی جهر سره ولولی چی هغوی د مونځ نه خراب کړی ځکه نبی علیه السلام یوه شپه راووته او صحابه و مونځ کوو ویی فرمایل ای خلکو پټاسو کی هر یو د خپل رب سره خبری کوی نو په یو بل باندی په قرات سره جهر مه کوی**

## ۲۳ په ټېل سره مونځ کونکو ته تکلیف ورکول

ددی کار نه منع راغلی ده مونځ کونکی له پکار دی چی هغه ځای کی ودریږی کوم ځای چی ورته میسر شوی وی مگر که په مخکی صف کی خالی ځای ووینی او هغی ته ورتلی شی نو څه باک نشته

او خلکو ته تکلیف ورکول خاص طور سره د جمعی په ورځ دینه منع راغلی ده نبی علیه السلام هغه کس ته فرمایلی وو چی د خلکو په اوږو باندی اوختو

**کینه بیشکه تا خلکو ته تکلیف ورکه او لیټ هم راغلی یی**

## ۲۴ د صفونو صحیح طریقی سره نه برابرول

الله تعالی د مونځ په اقامت باندی امر کړی دی **او مونځ قایم کړی**

او نبی علیه السلام فرمایی

**«سَوُّوا صُفُوفَكُمْ، فَإِنَّ تَسْوِيَةَ الصُّفُوفِ مِنْ تَمَامِ الصَّلَاةِ»ابن ماجه 993**

**صفونه برابر کړی ځکه د صفونو برابرول د مونځ د اقامت څخه دی**

د نعمان بن بشیر رضی الله عنه څخه روایت دی نبی علیه السلام

**«سَوُّوا صُفُوفَكُمْ، أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللَّهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ»ابن ماجه 994**

**فرمایی تاسو به خامخا صفونه برابروی یا به الله تعالی ستاسو په زړونو کی د یو بل سره**

**په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مخالفت واچوی**

د صفونو په برابرولو او پدی باندی ترغیب ډیرو احادیثو کی راغلی دی

## ۲۵ په سجده کی قدمونه اوچتول

دا د هغه څه خلاف کار دی چی نبی علیه السلام پری امر کړی دی د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دی چی نبی علیه السلام ته حکم شوی وو چی په اوه اندامونو باندی سجده وکړی او ویښتان او کپړه نه رانغاړی په تندی لاسونو زنګونونو قدمونو

نو مونځ کونکی په سجده کی ددواړو ښپو په کیخودلو سره مامور دی او ددی طریقه داده چی د ښپو ګوتی قبلی ته مخامخ کړی دا کامل صورت دی او دومره هم کافی ده چی د هر قدم حصه په ځمکه باندی کیږدی که چیرته یی یو قدم دومره وخت اوچت که چی د سجدی نه یی سر پورته که نو سجده یی ونشوه

## ۲۶ د ښی لاس په چپ باندی کیخودل او مری پوری یی خیژول

دا د سنت خلاف عمل دی ځکه نبی علیه السلام به ښی لاس په چپ باندی په سینه باندی کیخودل دا حسن حدیث دی په مختلفو ضعیفو سندونو سره روایت شوی دی لیکن یو د بل تایید کوی

که د سینی په مینځ یا د هغی نه لاندی د زړه سره لاس کیږدی هم سنت ادا کیږی ځکه زړه د سینی حصه ده الله تعالی فرمایی

**{ف وَلَكِنْ تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ} [الحج: 46]**

**لیکن ړانده دی هغه زړونه چی په سینو کی دی**

او د مری پوری د لاسونو اوچتول د سنت خلاف دی

دی باره کی چی د علی رضی الله عنه نه ددی ایت په تفسیر کی کوم روایت نقل دی هغه ضعیف دی

## ۲۷ په سجدو کی رفع الیدین کول یا د سجدو نه د پاځیدو په وخت کی



**په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د هغه مشهور او معروف سنت خلاف عمل دی چی صحابه کرامو د نبی علیه السلام نه امت ته نقل کړی دی هغوی د رفع الیدین ځایونو نقل کړی دی نو په عام حالت کی د مشهور سنت التزام پکار دی البته که طالب علم ځانله وی او کوم سنت ورته راجح ښکاره شی په ځانله والی کی به پری عمل کوی او د خلکو په مخکی به په مشهوری طریقی باندی عمل کوی ځکه هغه طریقی کافی شافی دی چی مشهوری دی او علماو پری عمل کړی

په مونځ کی د رفع الیدین څلور ځایونه دی

د تکبیره الاحرام په وخت کی د رکوع په وخت د رکوع نه د سر اوچتولو په وخت کی دریم رکعت ته د پاڅیدو په وخت کی

د ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی

**«رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ، وَإِذَا رَكَعَ، وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ»ابن ماجه 858**

**نبی علیه السلام به اوږو پوری لاس اوچتول کله چی به یی مونځ شروع که او کله چی به یی رکوع لپاره الله اکبر ووایه او کله چی به یی د رکوع نه سر اوچت که**

د بخاری په روایت کی دی

**وَلَا يَرْفَعُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ "** البخاري (736)

**دا کار به یی په سجدو کی نه کوو**

**نه د سجدی نه د سر اوچتولو په وخت**

مسلم کی دی دا کار به یی د سجدی نه د سر اوچتولو په وخت کی نه کوو

د نافع نه روایت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ثُمَّ إِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ،ابن ماجه 1061**

**ابن عمر رضی الله عنه ددوه رکعته نه پاڅیده او رفع الیدین یی وکړل او ددی کار نسبت یی نبی علیه السلام ته وکه**

پدی څلور ځایونو کی د رفع الیدین احادیث نور هم شته

## ۲۸ په مونځ کی د بعضی امامانو جلدی کول چی نه خپله اطمینان اختیاروی او نه مقتدی پریږدی چی مونځ کی اطمینان وکړی سورت فاتحه ولولی خصوصا په اخیری رکعتونو کی

د امام نه به د مونځ د ښکلا باره کی پوښتنه کیږی ځکه پدی پسی خلک اقتداکوی هغه باندی د سنت اتباع لازمه ده او اطمینان رکن دی بیا دا د امام په حق کی نور تاکید لری ځکه پده پسی خلک اقتدا کوی

دغه شان د سورت فاتحه لوستل هم رکن دی هغه باندی لازمه ده چی مقتدیانو ته ددی د لوستلو موقع ورکړی

د سورت فاتحه او اطمینان او خشوع د رکنیت دلایل مخکی تیر شو

## ۲۹ په وه اندامونو باندی د سجدی کولو اهتمام نه کول

د عباس رضی الله عنه نه روایت دی هغه د نبی علیه السلام نه اوریدلی دی **" إِذَا سَجَدَ الْعَبْدُ سَجَدَ مَعَهُ سَبْعَةُ آرَابٍ: وَجْهُهُ، وَكَفَّاهُ، وَرُكْبَتَاهُ، وَقَدَمَاهُ "ابن ماجه 885**

**کله چی بنده سجده وکړی نو د هغه سره وه اندامونه هم سجده کوی د هغه تندی لاسونه زنګونونه قدمونه**

ماته په وه اع؟...

(c) ketabton.com: The Digital Library

بعضی خلک د سجدی په وخت تندی او پوزه د ځمکی سره صحیح نه لګوی یا قدمونه اوچت نیسی او بعضی د لاسونو مینځنی حصه په ځمکه نه لګوی

دا ټول د سنت خلاف عملونه دی

## ۳۰ د مونځ د احکامو په معرفت باندی اهتمام نکول

مسلمان باندی ددی پیژندل لازم دی ځکه مونځ د اسلام د ارکانو څخه رکن دی او الله تعالی د مونځ په قایمولو باندی په اویا یا ددی نه ډیر ایاتونو کی امر کړی دی د مونځ قایمول د دی د احکامو د پیژندلو نه بغیر قایمول ممکن ندی د نبی علیه السلام د مونځ کیفیت پیژندل او کوم احکام چی مسلمان باندی د هغی پیژندل ضروری دی د هغی شروط ارکان واجبات پیژندل دی د اقتدا او سهو احکام پیژندل هم لازم دی

او ددی احکامو معرفت فرض دی ځکه ددی په زده کولو کی سستی وشی نو مسلمان ته به د مونځ د مفسداتو او مبطلاتو علم نه وی

## ۳۱ ۳۲ ۳۳ ۳۴ د سورت فاتحه اهتمام نه کول په هغی کی غلطیانی کول لکه په عالمین کی په لام باندی زیز ویل د اهدنا په الف باندی زبر ویل د انعمت په ت باندی پیش ویل وغیره

دا او ددی پشان نوری غلطینای لحن جلی دی باید اجتناب تری وشی ددی قسم غلطیانو والا کس دی امامت نکوی ځکه پدی کی بعضی داسی دی چی معنی ورسره بدلیږی لکه د انعمت په تا باندی پیښ ویل دا مونځ لره هم فاسدوی

## ۳۵ د ګوتو نه ټقی ایستل

دا د مونځ د مکروهاتو څخه دی چی منع ترینه شوی ده د ابن عباس د یو غلام نه روایت دی وایی
**صَلَّيْت إِلَى جَنْب ابْنِ عَبَّاس – رضي الله عنهما – فَفَقَعْت أَصَابِعِي، فَلَمَّا قَضَيْتُ الصَّلَاَة قَالَ لِي: لَا أُمَّ لَك , تُقَعْقعُ أَصَابِعَك وَأَنْتَ فِي الصَّلَاَة؟.**



## په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ش) 7280 , وحسنه الألباني في الإرواء تحت حديث: 378

**ما د بن عباس خواته مونځ کوو ما د خپلو ګوتو نه ټقی ویستلی کله چی می مونځ ختم کړ هغه وویل ستا مور دی مړه شی لاسونو نه ټقی اوباسی حالانکه ته په مونځ کی یی**

ددی نه د منع باره کی مرفوع حدیث د علی رضی الله عنه په روایت سره دی چی ابن ماجه نقل کړی دی لیکن هغه ضعیف دی

## ۳۶ په مونځ کی او مونځ نه مخکی د لاسونو ګوتی یو بل کی داخلول

دا عمل مکروه دی دکعب بن عجره رضی الله عنه نه روایت دی

**«إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ، ثُمَّ خَرَجَ عَامِدًا إِلَى المَسْجِدِ فَلَا يُشَبِّكَنَّ بَيْنَ أَصَابِعِهِ، فَإِنَّهُ فِي صَلَاةٍ»،ترمذي 386**

**ما د نبی علیه السلام نه اوریدلی دی فرمایل یی کله چی یو کس اودس وکړی بیا د مونځ په ارادی دکور نه ووځی نو د لاسونو ګوتی دی یو بل کی نه داخلوی ځکه پدی وخت کی دا په مونځ کی دی**

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی**«إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فِي بَيْتِهِ ثُمَّ أَتَى الْمَسْجِدَ كَانَ فِي صَلَاةٍ حَتَّى يَرْجِعَ فَلَا يَقُلْ هَكَذَا، وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ»**
**[التعليق]صحيح ابن خزيمه**
**439 – قال الأعظمي: إسناده صحيح.**

**((کله چی یو کس په کور کی اودس وکړی بیا مسجد ته راشی دا به د مونځ په حالت کی وی تر دی چی واپس شی نو داسی کار دی نکوی او نبی علیه السلام د لاس ګوتی یو بل کی داخل کړی))**

دی باره کی نور ضعیف احادیث شته یو بل ته تقویت ورکوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳۷ دداسی امام مونځ ته مخکی کول چی اهل نه وی یا بل دهغه نه غوره موجود وی

ځکه دا د امامت د مقصود خلاف کار دی او هغه اقتدا ده امام باید قاری او فقیه وی نبی علیه السلام السلام فرمایی قوم له دی هغه کس امامت وکړی چی د قران قاری وی

اهل علمو دا خبره بیان کړی چی د امامت لپاره به هغه کس نشی مخکی کولی شی قرات صحیح طریقی سره نشی کولی یا په ظاهری ګناه کی مبتلا وی یا بد سیرته وی یا بدعتی وی یا فاسق وی وغیره نو دا به نشی مخکی کولی که چیرته دوی امامت وکړی پدی صورت کی د مقتدیانو مونځ به صحیح وی

## ۳۸ د قران په لوستلو کی غلطی کول

دا ظاهری نقصان دی د قران حق دادی چی د غلطی نه بغیر ولوستل شی او مسلمان باندی لازم دی چی د قران په تجوید سره لوستلو کوشش وکړی الله تعالی فرمایی

{وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا} **[المزمل: 4]**

**قران په ترتیل سره ولوله**

او فرمایی

**فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ} [القيامة: 17]**

**کله چی مونږ قران ولولو ته د دی دلوستلو تابعداری وکړه**

ددی معنی داده چی د تلاوت تابعداری وکړه داسی یی ولوله چی د اعراب تبیین خیال ساتی او د غلطی نه ځان بچ کوی

ددی فضیلت هم دی لیکن د هغه چا لپاره چی نیت یی خالص وی عایشه رضی الله عنها فرمایی

نبی علیه السلام فرمایلی دی

**«الْمَاهِرُ بِالْقُرْآنِ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ، وَالَّذِي يَقْرَؤُهُ يَتَتَعْتَعُ فِيهِ وَهُوَ عَلَيْهِ شَاقٌّ لَهُ أَجْرَانِ اثْنَانِ»ابن ماجه 3779**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په قران باندی ماهر کس به د قیامت په ورځ د نیکو فریشتو سره وی او کوم کس چی قران وایی او هغی کی ګډوډیږی د هغی لوستل ورته مشکل وی دده لپاره دوه اجره دی**

## ۳۹ په حرم کی د ښځو شاته د سړو مونځ کول

یا د حرم نه بغیر ځکه دا د مونځ د مکروهاتو څخه ده حدیث پدی دلالت کوی چی د ښځو صفونه د سړو نه شاته وی او د ښځی شاته د سړی مونځ کول د مونځ خشوع خرابوی ځکه پدی کی ښځی ته کتل وغیر راځی نو پکار ده چی سړی مطلقا د ښځی شاته ونه دریږی البته که ضرورت وی لکه د اختر یا جمعی مونځ فوت کیږی یا په جماعت سره مونځ فوت کیږی نو بیا مکروه نده

د علماو یو جماعت وایی ددی نه حرم مکی مستثنی دی

او دا د شیخ ابن باز رحمه الله قول هم دی

## ۴۰ د زنانه و مسجد ته پدی حالت کی راتلل چی ډول یی کړی وی یا یی عطر لګولی وی

دا د منکراتو څخه دی چی خاص طور په رمضان کی لیدل کیږی نو ښځه د مونځ او عبادت لپاره راځی نه د ډول او جامو د اظهار لپاره او کیدای شی د سړو نظر پری ولګی نو ګناه ګاره به شی او ددی عمل په وجه به یی اجر کی کمی راشی

نبی علیه السلام فرمایی **کومه ښځه چی عطر ولګوی مونځ سره دی د ماښوستن مونځ ته نه حاضریږی**

یو بل حدیث کی دی دالله وینزی ( زنانه ) د الله د مساجدو نه مه منع کوی

او په داسی حالت کی دی ووځی چی تفلات وی د تفلات معنی ده نه به یی ډول کړی وی نه به یی عطر لګولی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په دعا کی غلطیانی

### ۱ د فرض مونځ نه پس ددعا لپاره لاس اوچتول

کله چی یو کس ددی التزام وکړی دا بدعت دی د فرض مونځونو نه پس استغفار او لا اله الا الله ویل سبحان الله الحمدلله الله اکبر ویل سنت دی او په انفرادی طور سره د لاس اوچتولو نه بغیر دعا کول هم مستحب دی داسی به نبی علیه السلام کول او د فرض مونځونو نه پس به یی ددعا لپاره لاس نه اوچتول

نو دا کار ندی جایز ځکه د سنت خلاف عمل دی او ددی التزام بدعت دی

### ۲ د فرض مونځونو مینځ کی ددعا لپاره لاس اوچتول

لکه د رکوع نه پس د دعا قنوت لپاره لاس اوچتول وغیر دا د نبی علیه السلام نه ثابت ندی نه خلفاو او صحابه کرامو دا کار کړی دی او کوم کار چی دارنګه وی دا به دنبی علیه السلام پدی قول کی شامل وی

من عمل

### ۳ ددعا په وخت کی د خشوع او د زړه د حاضروالی اهتمام نکول

الله تعالی فرمایی د خپل رب نه په خشوع او پټه سره دعا وکړی

انهم کانوا یسارعون...

ددعا کونکی باندی لازم دی چی ددعا په وخت خشوع خضوع او د زړه حاضری اختیار کړی دا د دعا اداب دی او دعا کونکی پدی حریص وی چی سوال یی قبول شی نو ده له پکار دی چی په کامله او ښه طریقی سره دعا وکړی چی الله ته یی دعا اوچته شی او قبوله یی کړی

## په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی نبی علیه السلام فرمایی

**«ادْعُوا اللَّهَ تَعَالَى وَأَنْتُمْ مُوقِنُونَ بِالْإِجَابَةِ، وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ لَا يَسْتَجِيبُ دُعَاءً مِنْ قَلْبٍ غَافِلٍ لَاهٍ»**
الدعاء للطبراني 62

**کله چی دالله نه دعا کوی نو داسی دعا وکړی چی تاسو د هغی په قبلیدو باندی یقین لری ځکه الله د هغه چا دعا نه قبلوی چی په غافل زړه سره یی کوی**

## ۴ د دعا د قبلیدو نه نا امیده کیدل او ددعا قبلیدل په جلدی سره غوښتل

دا د دعا د قبلیدو لپاره رکاوټ دی رسول الله صلی الله علیه وسلم **فرمایی**

**«يُسْتَجَابُ لِأَحَدِكُمْ مَا لَمْ يَعْجَلْ» قِيلَ: وَكَيْفَ يَعْجَلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: " يَقُولُ: قَدْ دَعَوْتُ اللَّهَ فَلَمْ يَسْتَجِبِ اللَّهُ لِي "ابن ماجه 3853**

**تر هغه پوری د یو تن دعا قبلیږی تر څو چی یی جلدی نه وی کړی داسی وایی ما دعا وکړه خو الله قبوله نکړه**

مونږ مخکی وویل چی دعا کونکی به ددعا د قبلیدو یقین لری ځکه هغه د اکرم الاکرمین نه دعا کوی الله تعالی فرمایی

**{وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ} [غافر: 60]**

**او ستاسو رب وایی زما نه دعا وکړی زه به ستاسو دعا قبوله کړم**

او د چا دعا چی قبوله نشی هغه به ددوه حالته نه خالی نه وی

۱ چی دلته په دعا کی څه رکاوټ موجود دی د هغی په وجه دعا نه قبلیږی لکه د صله رحمی کټ کول په چا ظلم یا د حرامو خوړل وغیره دی په وجه غالبا دعا رد کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ دا چې دده ددعا قبلیدل موخر شی یا ددی په وجه دده نه مصیبت لری کړی شی نبی علیه السلام فرمایی

**«مَا عَلَى الْأَرْضِ مِنْ رَجُلٍ مُسْلِمٍ يَدْعُو اللهَ بِدَعْوَةٍ إِلَّا آتَاهُ اللهُ إِيَّاهَا، وَكُفَّ عَنْهُ مِنَ السُّوءِ مِثْلَهَا، مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ» فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: إِذًا نُكْثِرُ؟ قَالَ: «اللهُ أَكْثَرُ»مسند ابي يعلى 1019**

**کوم مسلمان چې داسی دعا وکړی چې نه پکی ګنا وی یه پکی د صله رحمی کټ کول الله به ده ته دری شیان ورکړی یا به ورله دعا قبوله کړی یا به یی د اخرت لپاره ذخیره کړی یا به دده نه مصیبت لری کړی**

**صحابه کرامو وویل بیا خو مونږ له ډیر دعا ګانی کول پکار دی نبی علیه السلام وفرمایل الله هم ډیر ورکونکی دی**

کوم حدیث کی چې راځی نبی علیه السلام فرمایی

**((زما د عزت او مرتبې په وجه د الله نه دعا کوی ځکه زما عزت د الله په نزد عظیم دی))**

دا حدیث موضوع دی نبی علیه السلام ته یی نسبت صحیح ندی

## ۵ په دعا کی اعتدا کول لکه د ګناه یا صله رحمی د قطع کولو دعا کول

دا هم د دعا په قبولیت کی رکاوټ دی نبی علیه السللام فرمایی

**«سَيَكُونُ قَوْمٌ يَعْتَدُونَ فِي الدُّعَاءِ»**
سنن ابن ماجه **3864**

**((پدی امت کی به څه خلک راشی په دعا کی به د حد نه تجاوز کوی))**

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی فرمایی

**{ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ} [الأعراف: 55]**

**(( د خپل رب نه په خشوع او پټه سره دعا کوی ځکه الله تعالی د تجاوز کونکو سره مینه نه لری))**

او د اعتدا نه داده چی په ګناه د صله رحمی په کټ کولو یا مصیبت سره دعا وشی

نبی علیه السلام فرمایی **" مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَدْعُو بِشَيْءٍ إِلَّا اسْتَجَابَ لَهُ فِيهِ: فَإِمَّا أَنْ يُعْطِيَهُ إِيَّاهُ، وَإِمَّا أَنْ يُكَفِّرَ عَنْهُ بِهِ مَأْثَمًا، مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ "**
أخرجه الترمذي3381 حسن لغيره، وهذا إسناد ضعيف لسوء حفظ ابن لهيعة.

**((د ځمکی په مخ داسی مسلمان نشته چی دالله نه دعا کوی مګر الله به ورله قبوله کړی یا به دهغه نه مصیبت لری کړی مګر هغه کس چی په ګناه یا د صله رحمی په کټ کولو دعا کوی))**

## د جمعی په ورځ غلطیانی

### ۱ د جمعی شپه د تهجدو سره او ورځ د روژی سره خاص کول

ددی نه منع راغلی ده حمد بن عباد وایی **سَأَلْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، وَأَنَا أَطُوفُ بِالْبَيْتِ: «أَنَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صِيَامِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ؟» قَالَ: «نَعَمْ، وَرَبِّ هَذَا الْبَيْتِ»**
ابن ماجه **1724**

**ما د جابر رضی الله عنه نه پوښتنه وکړه ایا نبی علیه السلام به د جمعی د ورځی د روژی نه منع کوله هغه وفرمایل هو**

نبی علیه السلام فرمایی

**«لَا تَخُصُّوا يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِصِيَامٍ مِنْ بَيْنِ الْأَيَّامِ، وَلَا تَخُصُّوا لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ بِقِيَامٍ مِنْ بَيْنِ اللَّيَالِي»**
صحیح ابن خزیمه **1176**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د عامو ورځو په نسبت د جمعې شپه په عبادت سره مه خاص کوی او د عامو ورځو په نسبت د جمعې ورځ په روژې سره مه خاص کوی مګر که یو کس د مخکې نه د روژې نیولو عادی وی**

دا نهې د جمهور په نزد د کراهت لپاره ده او بعضې علماو به نزد د تحریم لپاره ددوی څخه شیخ الاسلام هم دی

که د جمعې په ورځ د عرفه یا عاشوری روژه راشی نو دا په نهې کې نده داخل یا هغه څوک چې یوه ورځ روژه نیسی یو ورځ یې ترک کوی اکثر علما وایی دا به د نبی علیه السلام پدی قول کې داخل وی مګر هغه څوک چې مخکې نه یې روژې نیولی

## ۲ د خطبې په اوریدلو کې تساهل کول یا د امام د خطبې په دوران کې خبرې کول

د خطبې اوریدل او هغې ته چپ کیناستل موکد دی او د خبرو نه منع راغلی ده نبی علیه السلام فرمایی " **إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ: أَنْصِتْ، يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ، فَقَدْ لَغَوْتَ** "**ابن ماجه 1110**

**کله چې ته خپل ملګری ته د جمعې په ورځ ووایی چپ شه او امام خطبه ورکوی نو تا بې ځای خبره وکړه**

خپل ملګری ته چپ شه ویل د خطبې په اوریدلو کې خلل دی اګر که لګ ساعت دی او دا د نصیحت کونکی حال دی نو د هغه چا حال به څه وی چې خبری کوی

حافظ ابن حجر فرمایی ((**کله چې د نصیحت کونکی خبری ته لغو ( بې ځای ) ویل شوی ده سره ددی چې هغه په نیکی باندی حکم کوی نو د هغه چا خبری ته لغو ویل به من باب اولی وی چې ناصح نه وی**))

## ۳ ددویم اذان نه پس اغستل خرڅول

د دویم اذان نه پس اغستل خرڅول حرام دی او بیع به فاسده وی الله تعالی فرمایی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللهِ} [الجمعة: 9]**

**ای مومنانو کله چی تاسو ته د جمعی مونځ لپاره اواز وکړی شی تاسو د الله ذکر ته منډې ووهی او تجارت پریږدی**

دا د دویم اذان نه پس د تجارت نه منع ده او پدی وخت کی تجارت فاسد دی ځکه نهی د فساد تقاضا کوی

## ۴ د اذان نه پس مونځ کول کله چی خطیب مسجد ته داخل شی او دیته د جمعی سنت ویل کیږی

دا مونځ سنت ندی نه نبی علیه السلام ادا کړی دی امام ابن قیم فرمایی

**کله چی به بلال د اذان نه فارغ شو نبی علیه السلام به فورا په خطبه شروع وکړه هیڅوک به نه پاځیده چی دوه رکعته ادا کړی او صرف یو اذان به کیده دا دلیل دی چی چی د اختر پشان ده مخکی ترینه سنت نشته دا راجح قول دی او سنت پری دلالت کوی**

بیا فرمایی ((**کوم کس چی ګمان کوی چی کله به بلال د اذان نه فارغ شو نو صحابه به دوه رکعته کول دا په سنت باندی جاهل انسان دی او دا چی مونږ ذکر کړه چی د جمعی نه مخکی سنت نشته دا د مالک او امام احمد قول دی او د امام شافعی نه هم یو قول داسی نقل دی))**

## ۵ د خلکو په اوږو ښپې اړول

دا د شایع غلطیانو څخه ده پدی سره مونځ کونکو ته تکلیف رسیږی او  په احادیثو کی ترینه منع راغلی ده د عبدالله بن بسر رضی الله عنه نه روایت دی یو سړی د جمعی په ورځ راغلی چی د خلکو په اوږو یی ښپې اړولی او نبی علیه السلام خطبه ورکوله نبی علیه السلام وفرمایل

**«اجْلِسْ، فَقَدْ آذَيْتَ وَآنَيْتَ»ابن ماجه 1115**

**کینه خلکو ته دی تکلیف ورکه او په تاخیر سره هم راغلی یی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۶ د خطبې اوږدول او مونځ لنډول

دا د سنت خلاف عمل دی د خطبې لنډول سنت طریقه ده داسې خطبه ورکول چې نه ډیره اوږده وی نه لنډه ( درمیانه ) او مونځ اوږدول سنت دی عبدالله بن ابی اوفی فرمایی نبی علیه السلام به مونځ اوږدوو او خطبه به یې لنډه ورکوله

**«إِنَّ طُولَ صَلَاةِ الرَّجُلِ وَقَصَّرَ خُطْبَتِهِ مَئِنَّةٌ مِنْ فِقْهِ الرَّجُلِ، فَأَطِيلُوا الصَّلَاةَ وَاقْصِرُوا الْخُطَبَ»المسند البزار 1398**

د عمار رضی الله عنه نه روایت دی **ما د نبی علیه السلام نه اوریدلی دی فرمایل یې د مونځ اوږدول او د خطبې لنډول د سړی په فقاهت باندی دلیل دی نو مونځ اوږد کوی او خطبه لنډوی او بعضی بیان د سحر پشان اثر کوی**

دی حدیث کی د مونځ په اوږد والي او د خطبې په لنډوالي امر شوی دی نو دی مساله کی د نبی علیه السلام قول او فعل دواړه راجمع شو

## ۷ په لاس کی د کاڼو یا تسپو سره لوبی کول

دی څخه منع شوی ده پدی کی د کپړو فرش مسواک تسبی ګهینټه قلم سره لوبی کول هم شامل دی نبی علیه السلام فرمایی

**«مَنْ تَوَضَّأَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ، ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَدَنَا وَأَنْصَتَ وَاسْتَمَعَ، غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ، وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ» ، قَالَ: «وَمَنْ مَسَّ الْحَصَى فَقَدْ لَغَا»**
مسند احمد**9484**

**چا چې اودس وکه بیا د جمعې مونځ ته راغلی خطبې ته یې غوږ ونیو او چپ کیناسته ددوه جمعو مابین کی ټول ګناهونه به یې معاف شی سره ددری ورځو د اضافې او چا چې د کاڼو سره لوبی وکړی هغه فضول کار وکه**

## ۸ د جمعې ورځ په روژې نیولو سره خاص کول ( په انفرادی طور سره د جمعې په په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ورځ روژه کیدل)**

صرف دجمعی د ورځی د روژی نه په ډیرو احادیثو کی منع راغلی ده ابو هریره رضی الله عنه فرمایی ما د نبی علیه اللسلام نه اوریدلی دی فرمایل یی

**«لاَ يَصُومَنَّ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الجُمُعَةِ، إِلَّا يَوْمًا قَبْلَهُ أَوْ بَعْدَهُ»**
أخرجه مسلم في الصيام باب كراهة صيام يوم الجمعة منفردا رقم 1144

**پتاسو کی دی هیڅوک د جمع د ورځی روژه نه نیسی مګر که د هغی نه یو ورځی مخکی یا وروسته روژه ونیسی**

**عَنْ جُوَيْرِيَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَى جُوَيْرِيَةَ فِي يَوْمِ جُمُعَةٍ وَهِيَ صَائِمَةٌ، فَقَالَ لَهَا: «أَصُمْتِ أَمْسِ؟» قَالَتْ: لَا، قَالَ: «تَصُومِينَ غَدًا؟» قَالَتْ: لَا، قَالَ: «فَأَفْطِرِي»**
مسند احمد**26755**

**جویریه بنت حارث  فرمایی چی نبی علیه السلام د هغی کور ته راغلی او هغه روژه وه نبی علیه السلام وفرمایل ایا پرون روژه شوی وی؟ هغی وویل: نه هغه وفرمایل ایا سبا د روژی اراده لری؟ هغه وویل: نه نو نبی علیه السلام وفرمایل: نو روژه ماته کړه**

دی باره کی احادیث بیشماره دی او د نهی حکمت ابن قیم رحمه الله ذکر کړی دی هغه فرمایی

**سد ذریعه دادی چی په دین کی هغه څه اضافه کړی شی چی ددین څخه نه وی او دی کی د یهودو او نصارو سره مشابهت دی ځکه هغوی به بعضی ورځی په عبادت پسی خاص کولی او هر کله چی د جمعی ورځ په باقی ورځو باندی فضیلت لری نو خلکو به ددی ورځی روژه په پابندی سره نیولی نو شریعت کی به هغه څه سوا شوی وی چی د هغی څخه نه دی دی وچی نه صرف د جمعی ورځی د روژی او دشپی د عبادت نه منع شوی ده**

**د زکات باره کی غلطیانی**

**۱ زکات نه ورکول یا پخپل وخت کی د هغی په ویستلو کی سستی کول**

**په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د منکراتو او ستروګناهونو څخه ده ځکه زکات د اسلام دریم رکن دی او د مال حق دی نو هر مسلمان باندی یی مستحقینو ته ورکول فرض دی په خوښی سره او د الله رب العزت تقرب به یی مقصود وی الله تعالی د زکات منع کونکو ته سخت وعید ورکړی

فرمایلی یی دی

**وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ال عمران(180)**

**ګمان دي نکوي هغه کسان چی په هغه مالونو بخل کوی کوم چی الله د خپل فضل نه ورکړی دی چی دغه ددوی لپاره خیر دی بلکی شر دی د قیامت په ورځ به واچولی شی په څټونو ددوی کی هغه چی دوی پری بخل کوی او د الله لپاره د ځمکی او اسمانونو میراث دی الله ستاسو په اعمالو خبردار دی**

ابو هریره رضی الله عنه فرمایی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی

**«مَا مِنْ صَاحِبِ ذَهَبٍ وَلَا فِضَّةٍ، لَا يُؤَدِّي مِنْهَا حَقَّهَا، إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ، صُفِّحَتْ لَهُ صَفَائِحُ مِنْ نَارٍ، فَأُحْمِيَ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ،**

**صحیح مسلم 24**

**هیڅ د سرو یا سپینو زرو مالک چی ددی حق زکات نه ورکوی مګر د قیامت په ورځ به د اور وسپنی جوړی کړی شی او دجهنم په اورکی به ګرمی کړی شی ( ده ته به په هغی سره عذاب ورکړی شی)**

یو بل مقام کی الله **فرمایی**

**{وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالفِضَّةَ وَلاَ يُنْفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ، } [التوبة: 35]**

**کوم خلک چی سره او سپین خزانه کوی او د الله په لاره کی یی نه خرچ کوی دوی ته د سخت عذاب بشارت ورکړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نغدو پیسو د زکات د کال تیریدل دی هر کال به مسلمان د خپل مال نه زکات ورکوی کله چی نصاب ته ورسیږی دا زکات به مستحق ته ورکوی چی هغه اته د اته کسانو نه یو دی

د هیچا لپاره د خپل وخت نه زکات وروسته کول جایز ندی مګر که شرعی عذر یی وی

## ۲ د زکات د مسایلو په زده کولو بی پرواهی کول دغه رنګه په هغه مالونو جهل چی زکات پکی فرض کیږی او د زکات په وخت باندی ایستلو کی سستی کول

څوک چی مال لری هغه باندی لازمه ده چی د زکات مسایل زده کړی یا د اهل علمو نه پوښتنه وکړی ځکه زکات پده باندی فرض دی او هیڅکله یی د شریعت مطابق نشی ایستلی مګر که احکام یی زده وی چی نصاب څومره دی کوم مال کی زکات وی څومره زکات به اوباسی چا ته به یی ورکوی وغیره

او څوک چی ددی احکامو په زده کولو کی تساهل کوی هغه به په ممنوع کار کی واقع کیږی او علم به ورته نه وی یا به د زکات د موخر کولو په وجه ګناه ګار شی یا به یی غیر مستحق ته ورکړی

زکات په مالونو کی فرض دی ددی ادا کول او د فرض په صحیح طریقی سره ویستلو لپاره ددی د احکامو علم لرل ضروری دی

## ۳ مستحقینو ته د زکات په ورکړه کی تساهل ( بی پرواهی )

الله تعالی فرمایی :

{إنما الصدقات للفقراء والمساكين والعاملين عليها والمؤلفة قلوبهم وفي الرقاب والغارمين وفي سبيل الله وابن السبيل فريضة من الله والله عليم حكيم}.**[التوبة: 60]**

**بیشکه زکاتونه د فقیرانو مسکینانو د زکات راټولونکو او هغه کافرو لپاره چی اسلام طرفته یی د زړونو مایله کول مقصد وی او د غلامانو په ازادولو د قرض دارو د الله په لار کی د مسافر لپاره دی دا د الله له طرفه فریضه ده او الله علم او حکمت والا دی**

نو دا د زکات اته مصارف دی چا چی په خپل زکات کی تساهل وکه او دی اته کسانو کی یی هیڅ یو ته ورنکړ زکات به یی ونشی او فرض به تری ساقط نه وی

بعضی خلک زکات هر چا ته ورکوی اګر که فقیر نه وی او د غریبانانو او هغه خلکو تلاش نکوی چی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی مصارفو څخه دی دا کار د سستی په وجه مخی ته راځی چی جایز ندی

## د روژی باره کی واقع غلطیانی

### ۱ په ژبه باندی د روژی نیت کول

مخکی ذکر شو چی په ژبه باندی نیت کول د نبی علیه السلام عمل نه وو نه د هغه صحابه وو کړی دی او نه تابعینو نه څلورو امامانو نه سلفو دا یو نوی کار دی او بدعت دی د نیت محل زړه دی او نیت د عبادت ارادی ته وایی

په احادیثو کی ثابته ده چی نبی علیه السلام په فرض روژه کی د دشپی نه نیت کول ضروری ګرځولی دی ددی معنی داده چی په زړه سره نیت وکړی چی سبا به روژه کیږم حفصه رضی الله عنها فرمایی نبی علیه السلام فرمایلی دی

چا چی د سحر اذان نه مخکی د روژی نیت ونکه نو روژه یی هیڅ حیثیت نلری

نو دی حدیث کی د روژی نیت ذکر دی او د نیت معنی ده په زړه سره اراده کول لکه د تبییت د معنی نه ده ظاهر ده

### ۲ د چرباناګی په وخت کی د خوراک نه بس کولو کی تساهل کول

لکه بعضی خلک خوراک څښاک تر هغه پوری کوی چی موذن اذان ختم کړی بعضی وخت کی خو لا دومره تساهل کوی چی تر هغه خوراک جاری ساتی چی ټول موذنین اذانونه ختم کړی کوم چی دوی ته نژدی مساجد وی او اواز یی اوری

دا یوه سنګینه غلطی ده دی سره روژه خرابیږی

الله تعالی فرمایی خوراک څښاک وکړی تر دی چی سپین تار د تور تار نه جدا شی د سحر په وخت

ددی وخت نه مراد د فجر اولنی وخت دی او دا د اذان وخت دی او حتی به غایت باندی دلالت کوی نو کله چی موذن اذان باندی شروع وکړی فورا روژه بنده ول پکار دی

عایشه رضی الله عنها فرمایی نبی علیه السلام فرمایلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**«إِنَّ بِلَالًا يُؤَذِّنُ بِلَيْلٍ، فَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى تَسْمَعُوا تَأْذِينَ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ»،:**

**ترمذي203**

**بیشکه بلال دشپې اذان کوی نو تاسو خوراک ښباک جاری ساتې تر دی چې ابن ام مکتوم اذان وکړی**

بل روایت کی دی **ځکه ابن ام مکتوم د فجر راختو نه پس اذان کوی**

دا دلیل دی چې خوراک ښباک به ددویم اذان د شروع کیدو سره سم بنده ولی شی،

لیکن حدیث کي د هغه چا لپاره رخصت راغلی چې لاس کی یی روټۍ یا اوبه وی او اذان شروع شی نو هغه به خپل حاجت پوری کوی.

## ۳ په جماعت سره مونځ ادا کولو کی تساهل د هغی نه ویده پاتی کیدل او مونځونه جمع کول

د روژی په میاشت کی دا د سترو منکراتو څخه ده ځکه د شهادت د کلمی نه وروسته مونځ د اسلام دویم رکن دی پدی کی تساهل دسره جایز ندی مخکی د مونځ په باب کی په جماعت سره د مونځ باره کی احادیث تیر شو او ددی وجوب او خوب لره ترجیح ورکول په پریخودلو د مونځ جماعت سره او د عذر شرعی نه بغیر ددوه مونځونو جمع کول جایز ندی دا یو منکر دی

هر مسلمان باندی لازمه ده چې خپلو اوقاتو ته ترتیب ورکړی او د مونځ اوقات د ټولو نه مقدم کړی په ټولو مسلمانانو لازم ده چې دی کار کی د یو بل سره تعاون وکړی او یو بل ته نصیحت وکړی

الله تعالی فرمایی

**{وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى، وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ} [المائدة: 2]،**

**((د نیکی په کارونو کی د یو بل سره تعاون وکړی او په ګناه کی د یو بل مدد مه کوی))**

## ۴خصوصا د روژی په میاشت کی او نورو وختونو  دروغ ویل په دروغ خبره عمل

## په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کول**

دروغ ویل او هغی باندی عمل کول منکر او حرام کار دی ابو هریره رضی الله عنه فرمایی نبی علیه السلام فرمایلی دی

**«مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ [ص:522] الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ وَالْجَهْلَ، فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ»** مسنداحمد**9839**

**څوک چی دروغ خبره او دی باندی عمل کول پری نږدی نو دالله هیڅ حاجت نشته چی خوراک څښاک پریږدی**

او ښکنځل او فحش الفاظ استعمالول بد اخلاقی ده خصوصا د روژه دار لپاره نبی علیه السلام فرمایی

**"كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ يُضَاعَفُ، الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ إِلَى مَا شَاءَ اللَّهُ، يَقُولُ اللَّهُ: إِلَّا الصَّوْمَ؛ فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ، يَدَعُ شَهْوَتَهُ وَطَعَامَهُ مِنْ أَجْلِي،سنن ابن ماجه1638**

**د انسان ټول عملونه د هغه لپاره دی مګر روژه دا زما لپاره ده او زه ددی ثواب ورکوم او روژه ډال دی کله چی یو کس روژه وی نو فاحشی خبری دی نکوی نه دی ښکنځل کوی که چا ورته ښکنځل وکړل یا یی ورسره جنګ وکه نو ودی وایی زه روژه یم زه روژه یم**

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی نبی علیه السلام فرمایی

**چا چی دروغ په دی عمل او جهل پرینخود**

**مسند احمد9839**

په جهل کی فحاشی ښکنځلی غیبت چغل خوری دروغ وغیره د ژبی او اندامونو ټول اعمال داخل دی

روژه دار باندی لازمه ده چی د دروغو غیبت جهل او ښکنځلو نه ځان وساتی دغه شان په غیر روژه دار باندی هم لازم ده البته د روژه دار به حق کی ددی حرمت سخت دی ځکه روژه او د روژی میاشت احترام لری

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۵ د نظر او غوږونو په حرام کی استعمالول

الله تعالی فرمایی

**إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْؤُولًا} [الإسراء: 36]**

**بیشکه غوږونه سترګی او زړه ددی ټولو نه پوښتنه کیږی**

اندامونه یو امانت دی د بنده ګانو څخه به دی باره پوښتنه کیږی چی څه کی یی استعمال کړی دی

بعضی خلک د فاحشو شیان د کتلو عادت لری یا ګانی بجانی اوری لکه د ډمو اوریدل چی فتنی ته دعوت ورکوی یا د نورو ګانو اوریدل

ددی نه اجتناب پکار دی خاص طور په رمضان کی

ددی نه په رمضان کی ځان ساتل ډیر ضروری دی ځکه دا د مغفرت او رحمت میاشت ده ځومره به ښه وی چی د رمضان په میاشت کی هر مسلمان ددی محرماتو سره تعلقات ختم کړی او ټول خواهشات د الله لپاره پریږدی

په حدیث قدسی کی راځی الله فرمایی

**زما بنده زما لپاره خوراک څښاک او شهوت پریږدی**

## ۶ دروژی په میاشت کی خصوصا او په عامو میاشتو کی عموما د ټنګ ټکور الاتو ته غوږ نیول

د قران حدیث دلایل د ټنګ ټکور د ټولو اقسامو په تحریم دلالت کوی

الله تعالی فرمایی

**{وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيث لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللهِ} [لقمان: 6] الْآيَةُ "**

**بعضی خلک لهو الحدیث اخلی دی لپاره چی د الله د لاری نه ګمراه شی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابن مسعود رضی الله عنه فرمایی **د لهو الحدیث نه مراد ګانی بجانی دی**

او بیشکه د ټنګ ټکور ټول الات په لهو الحدیث کی داخل دی چی دالله د لاری نه خلک اړوی

نبی علیه السلام فرمایی

**" لَيَكُونَنَّ مِنْ أُمَّتِي أَقْوَامٌ، يَسْتَحِلُّونَ الحِرَ وَالحَرِيرَ، وَالخَمْرَ وَالمَعَازِفَ،البخاري**5590

**خامخا زما د امت نه به بعضی خلک زنا وریښم شراب او ګانی بجانی حلالی ګنړی**

دا د تحریم واضح دلیل دی ځکه استحلال صرف د حرام شی وی او نبی علیه السلام ریښتیا ویلی دی پدی وخت کی امت مسلمه د ټنګ ټکور الات په کثرت او بی پرواهی سره شروع کړی دی مسلمان باندی لازم ده چی د قران حدیث تابعداری وکړی او د روژی په میاشت کی دا محرمات پریږدی ځکه دا د فضیلت میاشت ده

## ۷ د روژی د احکامو په پیژندلو کی تساهل کول

هر مسلمان باندی د روژی احکام پیژندل ضروری دی لکه د روژی ماتولو او بندولو وخت د مفطراتو پیژندنه په روژه کی ممنوع شیان د روژی شروط وغیر تر دی چی عبادت یی په صحیح طریقه ادا شی او د بصیرت سره ددی عبادت د تر سره کولو په وجه ورته اجر میلاو شی

## په حج کی غلطیانی

## ۱ د احرام دوه رکعته واجب ګنړل

ددی په وجوب باندی هیڅ دلیل نشته نبی علیه السلام د فرض مونځ نه پس احرام تړلی وو نو د فرض مونځ نه پس احرام اچول سنت د ی

بعضی علماو د احرام تړلو نه وروسته او د تلبیه شروع کولو نه مخکی دوه رکعتو ته مستحب ویلی دی د هغوی ددلایلو څخه دا حدیث دی چی جبریل نبی علیه السلام ته ویلی وو پدی مبارک وادی کی مونځ وکړه او ووایه عمره په حج کی داخل شوه



## په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د احرام په وخت ددوه رکعته اداکولو لپاره دلیل دی د فرض او نفل قید پکی نشته ځکه حدیث مطلق دی

## ۲ په احرام کی د ممنوعه کارونو ارتکاب

دا د حج په فریضه کی د سستی کولو مرادف دی

نو د احرام د محظورات زده کول ضروری دی د احرام د محظوراتو نه مراد هغه شیان دی چی د احرام په حالت کی تری منع شوی ده

الله تعالی فرمایی سرونه مه خروی تر دی چی د قربانی ځناور خپل ځای ته ورسیږی

نبی علیه السلام فرمایی

**محرم به پګړی پرتوګ نه اغوندی**

النسائي في "المجتبى"135/5،

دا بعضی محظورات دی باید باقی محظورات هم زده کړی شی او اجتناب تری وکړی شی دی لپاره چی حج  صحیح طریقی سره ادا شی او اجر پوری میلاو شی

## ۳ د زنانه و لپاره د غیر محرم سړو نه پرده نه کول

په ښځه باندی د پردو سړو نه په حج او غیر حج کی  مخ او ټول بدن پټول لازم دی لیکن که په حج کی غیر محرم سړی مخی ته نه وی نو مخ به ښکاره کوی

عایشه رضی الله عنها فرمایی «**كَانَ الرُّكْبَانُ يَمُرُّونَ بِنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحْرِمَاتٌ، فَإِذَا حَاذَوْا بِنَا سَدَلَتْ إِحْدَانَا جِلْبَابَهَا مِنْ رَأْسِهَا عَلَى وَجْهِهَا فَإِذَا جَاوَزُونَا كَشَفْنَاهُ**»
ابوداود**1833**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**قال الالباني ضعيف**

**په سورلو باندی سواره خلک به په مونږ تیریدل مونږ د نبی علیه السلام سره د احرام په حالت کی وو کله چی به زمونږ په مخه تیریدل په مونږ کی به هری یو خپل څادر د سر نه په مخ راواچوو او کله چی به تیر شو مخونه به مو ښکاره کړل**

اسما بنت ابی بکر رضی الله عنها فرمایی

**مونږ به د سړو نه مخونه پټول او د احرام په حالت کی به مو سر ګمنزولو**

**۴ د زنانه و لپاره د هغه جامو اغوستل چی د سړو سره پکی مشابهت وی**

ددی نه منع راغلی ده ځکه ښځی ته د سړو سره په مشابهت نه اختیارولو امر شوی دی په لباس او شکل کی

بعضی زنانه د سړو پشان لباس اغوندی یا داسی څادرونه پسر کوی سړی یی په سر کوی

د ښځی لپاره په احرام کی خاص لباس نشته او د تشبه نه مطلقا منع راغلی ده

ابن عباس رضی الله عنهما فرمایی

**«لَعَنَ الْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ، وَلَعَنَ الْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ»**
سنن ابن ماجه**1904**

**نبی علیه السلام په هغه سړو لعنت کړی چی د ښځو سره مشابهت کوی او په هغه ښځو چی سړو سره ځان مشابه کوی**

ابن حجر رحمه الله د بعضی علماو نه نقل کوی چی  د تشبه نه مراد په لباس او بعضی صفاتو او حرکاتو کی تشبه دی نه د خیر په کارونو کی

**۵ په مشاعرو کی تصویران ویستل**

**په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قران او حدیث دلایل د تصویر د ټولو اقسامو په حرمت باندی دلالت کوی ځکه دلیل د تصویر ټولو انواعو ته عام دی او هیڅ صورت یی ندی خاص کړی

ابن مسعود رضی الله عنه فرمایی نبی علیه السلام فرمایلی دی

«إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمُصَوِّرُونَ»
مسند ابي يعلى**5107**

**د قیامت په ورځ به سخت عذاب تصویر ویستونکو لره وی**

دی باره کی د ابو هریره ابن عمر احادیث هم وارد دی بلکی د تصویر په حرمت باندی احادیث په کثرت سره وارد دی

او وجه الاستدلال دادی چی لفظ مصورون اسم فاعل دی ال موصوله پری داخل شوی دی نو د تصویر ټولو انواعو ته شامل دی

هیڅ قسم د تصویر مباح ندی کله چی روح پکی وی البته د غیر ذی روح تصویر جایز دی

او د کیمری تصویر دلغت او عرف اعتبار سره د تصویر په مفهوم کی داخل دی نهی ورته شامله ده او د تصویر تحریم د وسایلو تحریم دی نو کوم شی چی سدا للذریعه حرام وی هغه د مصلحت دپاره مباح ګرځی دی وجی نه د شناختی کارد وغیره لپاره تصویر ویستل د مصلحت د وجی وی البته زړه کی به یی بد ګنړی او راضی به پری نه وی

## ۶ د کاڼو دروازو مسح کول او ښکلول یا هغی پسی څه شی راځوړندول برابره ده که مساجدو دروازی وی که د کعبی دیوالونه وی وغیره

دا ټول بدعات د ی او د کاڼو او مختلفو دروازو مسح کولو کی د کاڼو او دروازو نه برکت غوښتل مقصد وی او دا شرک دی ځکه د برکت او تبرک نه مراد د نفع او خیر طلب کول دی او دا د کاڼي او لرګی نه غوښتل جایز ندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عقیدی به مسایلو کی د ذات انواط حدیث تیر شو هغه پدی مساله کی واضح دلیل دی

او د کعبی ددیوالونو مسح کول جایز ندی صرف د حجر اسود ښکلول یا مسح کول ثابت دی دغه شان د رکن یمانی مسح کول او په سنت کی د ملتزم سره مخ سینه او بدن لګول هم وارد دی نبی علیه السلام دا کار کړی دی

لیکن د کعبی د ټولو دیوالونو ارکانو کپړی مسح کول یا ښکلول بدعت دی سلفو کی نه وو معروف

**معاویه رضی الله عنه به اول کی د شامی دوه رکنونه هم مسحه کول لیکن بیا د ابن عباس رضی الله عنه قول ته رجوع وکړی معاویه رضی الله عنه وویل**

**په بیت الله کی هیڅ شی پریخودنکی ندی ( یعنی ټولو ارکانو له لاس وروړل پکار دی )**

**ابن عباس رضی الله عنه وفرمایل بیشکه ستاسو لپاره په رسول الله کی بهترینه نمونه ده**

**معاویه رضی الله عنه وویل تا ریښتیا وویل**

همدا رنګه مسلمان لره حدیث طرفته رجوع کول او د ټولو بدعات پریخودل ضروری دی

## ۷ د عرفه غر ته مخامخ کیدل او دعا کول او هغی ته د عبادت په نیت ختل

د عرفه د غر څه خاص فضیلت نشته نبی علیه السلام د هغی شاته ودریدلی وو او هغه یی د خپل ځان او قبلی ما بین کی ګرځولی وو

او فرمایلی یی وو

، ووقفت هاهنا وعرفه کلها موقف " مسلم ترتیب محمد فؤاد "ص893".
**زه دلته ودریدم لیکن عرفه ټول د ودریدو ځای دی**

نو د عرفه غر ته مخامخ کیدل او دعا کول څه فضیلت نلری نه مستحب عمل دی بلکی که ددی التزام وشی او بهتر وګنړلی شی بدعت به وګرځی او په هغی باندی د عبادت او تقرب په نیت ختل بدعت دی نبی علیه السلام ندی کړی نبی علیه السلام غره ته نه وو ختلی بلکی د هغی شاته ودریدلی وو لیکن نن سبا مونږ ګورو پدی باندی د خلکو ځومر رش جوړ وی چی دا یو بدعت عمل دی او هر بدعت ګمراهی ده



## په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۸ د بعضې هغه اثارو زيارت د عبادت به نيت کول چې زيارت يې مشروع ندی لکه د غار حرا وغيره زيارت د ثواب په نيت

دا ټول د بدعاتو څخه دی نبی علیه السلام ددی اثارو زيارت ندی کړی نه د هغه صحابه وو او تابعينو کړی حالانکه هغوی زمونږ نه د خير په کارونو کی مخکی وو او هغوی د بل چا نه د اتباع لايق او په ټولو خلکو باندی فضيلت لری

د زيارت په وجه د اثارو تعظيم کول شرک ته وسيله ده دی وجی نه عمر رضی الله عنه هغه خلکو ته ويلی وو چی يو ځای کی يی مونځ کوو او ويل يی دی ځای کی نبی عليه السلام مونځ کړی دی بيشکه مخکنی قومونه د پيغمبرانو د اثارو د تابعداری د وجی هلاک شوی وو

## ۹ دا عقيده لرل چې د زنانه و لپاره په احرام کی غوره لباس سپين دی

دا د عوامو غلط فهمی ده د احرام په حالت کی د ښځی لپاره هر قسم لباس جايز دی مګر نقاب او دس کشی به نه اچوی دی نه علاوه هر شی ورله حلال دی او په لباس کی يو رنګ په بل باندی افضليت نلری

( يعنی د احرام په حالت کی )

ليکن د ښځی لباس به د ډول لره ښکاره کونکی نه وی  او د هغی د بدن ښايست لره نه ښکاره کوی نه به د هغی د بدن څه حصه پکی ښکاری نه به داسی وی چی متې يا پنډلی يی ښکاره وی

**سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَنْهَى النِّسَاءَ فِي الْإِحْرَامِ عَنِ الْقُفَّازِ وَالنِّقَابِ، وَمَا مَسَّ الْوَرْسُ، وَالزَّعْفَرَانُ مِنَ الثِّيَابِ»**
مسنداحمد 4047

**د ابن عمر رضی الله عنهما نه روايت دی نبی عليه السلام زنانه د احرام په حالت کی د دس کشو نقاب او هغه کپړو نه منع کړی چی زعفران پکی لګيدلی وی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

زنانه به په احرام کی داسی لباس نه اچوی چی ډولی رنګونه لری یا د احرام د عاجزی خلاف وی علی رضی الله عنه د فاطمه خواته راغلی ویی کتل چی رنګینی کپړی یی اغوستی وی او رانجه یی لګولی ووی نو هغه یی منع کړه

لیکن علی رضی الله عنه ته پته نه وی چی هغه د احرام نه وتلی ده دینه معلومیږی چی د صحابه په نزد ښځه د رنګینو کپړو د اغوستو نه منع شوی وه

ددی نه علاوه نور هر قسم جامی اغوستلی شی پدی شرط سره چی د غیر محارم نه به مکمل پرده کوی

## ۱۰ دا عقیده لرل چی د نبی علیه السلام د قبر د زیارت نه بغیر حج نا مکمل دی

په بعضی هیوادونو کی خلکو کی دا غلطه عقیده رایج ده ځکه په اجماع د صحابه تابعینو او د قرون فاضله د ایمه سره د حج په ارکان واجباتو سننو کی د نبی علیه السلام د قبر د زیارت تذکره نشته

د حج نه وروسته د نبی علیه السلام د قبر زیارت کولو باره کی ټول وارد احادیث ضعیف دی راتلونکی مسالی کی به یی تفصیل راشی

البته که حاجی اراده لری چی په مسجد نبوی کی مونځ وکړی دا مستحب عمل دی ځکه ډی کی یو مونځ د زرو مونځونو په بدلی کی دی دا په حدیث سره ثابته خبره ده

بیا چی کله مسجد نبوی ته لاړ شی نو په نبی علیه السلام باندی سلام هم اچولی شی او دی باره کی نږدی او لری کس برابر دی سلام به اچوی او ډیر وخت به نه ودریږی بلکی په سلام به کفایت کوی او ځی به همدا عمل نبی علیه السلام ته محبوب دی

## ۱۱ دلاندینی موضوع احادیثو د صحت نظریه ساتل

**۱ چا چی حج وکه او زما زیارت یی ونکړ نو بیشکه ده ماسره بی وفایی وکړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲ چا چی زما او د ابراهیم علیه السلام د قبر زیارت په کال کی یو ځل وکه نو زما شفاعت ورله واجب شو**

**۳کله چی ستاسو کارونه بند شی نو د قبرونو والاو پسی ځان کلک کړی**

**۴ که څوک د کاڼی باره کی ښه ګمان ولری دا به ورته فایده ورکړی**

دا ټول دروغ احادیث دی محدثینو تصریح کړی چی دا ټول موضوع دی او هیڅ سند نه لری

## ۱۲ د طواف وداع نه پس شاته راتلل

دا د بدعاتو څخه ده ځکه نبی علیه السلام او صحابه وو چی کله طواف وداع وکه د هغوی نه ثابت ندی چی دا کار یی کړی وی نو د ځانه ددی کار جوړول بدعت دی

## ۱۳ د نبی علیه السلام د قبر نه طواف کول

عیاذ بالله دا شرک دی ځکه طواف عبادت دی دا کار کول د نبی علیه السلام د قبر نه د بوت جوړولو مرادف دی حال دا چی نبی علیه السلام فرمایلی دی

**«اللَّهُمَّ لَا تَجْعَلْ قَبْرِي وَثَنًايُعْبَدُ،**
**موطأ الامام مالك 183**
**ای الله زما د قبر نه بوت مه جوړوه چی عبادت یی کیږی**

او په تحقیق سره الله د هغه د قبر حفاظت کړی او دعا یی قبوله کړی ده د هغه قبر ته څوک نشی ورتلی

نو خلکو د نبی علیه السلام کور او حجره د بیت الله په څیر ګرځولی دی طواف ترینه کوی او دا شرک دی

حالانکه د بیت الله نه علاوه د بل ځای نه طواف کول مشروع ندی

## ۱۴ په مزدلفه او منی کی په شپه تیرولو کی تساهل کول

د اختر په شپه په مزدلفه کی شپه تیرول او په منی کی شپی تیرول د حج د واجباتو څخه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی فرمایی

**کله چی تاسو د عرفات نه راواپس شی نو د مشعر حرام سره الله یاد کړی**

دا د وجوب دلیل دی ځکه نبی علیه السلام په خپل عمل سره ددی ایت تفسیر او وضاحت کړی دی

په مزدلفه کی یی شپه تیره کړی وه تر دی چی هلته یی د سحر مونځ اده که او رڼا کی یی ادا که لیکن کوم خلک چی معذور دی لکه بوډا ګان یا ضعفا هغوی لپاره د مزدلفی نه د نیمی شپی نه وروسته د تګ اجازت شته

عایشه رضی الله عنها فرمایی سوده یوه بوډی ښځه وه د نبی علیه السلام نه یی د مزدلفی څخه په شپه کی د تلو اجازت وغوښته نبی علیه السلام ورته اجازت ورکړ

ابن عباس رضی الله عنهما فرمایی زه په هغه کسانو کی وم چی نبی علیه السلام د مزدلفه په شپه د نورو خلکو نه مخکی لیږلی وو

اسما رضی الله عنها فرمایی نبی علیه السلام زنانه و ته اجازت کړی وو( چی دشپی د مزدلفی نه لاړی شی )

دا عام دی معذورو او غیر معذورو زنانه و ته شامل دی

دشپی اکثره حصه په مزدلفه کی پاتی کیدل کافی دی د اکثری حصی نه مراد دادی چی شپه نیمه شی او لګ وخت تیر شی

دا د اکثرو علماو قول دی

د منی په ورځو کی په منی کی شپی تیرول واجب دی مګر د عذر والاو لپاره رخصت دی چی مکه یا بل ځای کی دا شپی تیری کړی لکه د حاجیانو ته اوبه ورکونکی یا نور خلک چی د حاجیانو خدمت کوی

یا نور چی ددوی پشان وی



**په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابن عباس رضی الله عنه فرمایی «**اسْتَأْذَنَ الْعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيتَ بِمَكَّةَ، أَيَّامَ مِنًى، مِنْ أَجْلِ سِقَايَتِهِ، فَأَذِنَ لَهُ**»
ابن ماجه **3065**

**عباس رضی الله عنه د نبی علیه السلام نه اجازت وغوښوتو چی د منی په شپو کی په مکه کی پاتی شی ځکه حاجیانو ته یی اوبه ورکولی نو نبی علیه السلام ورته اجازت ورکړ**

په غیر واجب شی کی اجازت غوښتلو ته ضرورت نه وی نو د اجازت غوښتل د وجوب دلیل دی

د وجوب دلیل د الله دا قول هم دی

{**وَاذْكُرُوا اللَّهَ فِي أيام معدودات**}(6) الآية (203) من سورة البقرة.

**دالله ذکر په معلومو ورځو کی وکړی**

او د نبی علیه السلام په منی کی شپی تیرول ددی ایت تفسیر او وضاحت دی او د وجوب دلیل دی

د وجوب یو دلیل دا هم دی

**" رَخَّصَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرِعَاءِ الْإِبِلِ فِي الْبَيْتُوتَةِ،ابن ماجه 3037**

**چی نبی علیه السلام د اوښانو څرونکو ته رخصت ورکړی وو چی په منی کی شپی نه تیروی**

## ۱۵ په مزدلفه او منی کی دشپی د ضرورت نه بغیر شوګیر کول

دا د سنت مخالف عمل دی ځکه نبی علیه السلام چی کله مزدلفی ته راغلی هلته یی د ماښام او ماښوستن مونځ په یو اذان او دوه اقامته سره جمع کړل ددواړو ما بین کی یی هیڅ سنت ادا نکړل

بیا ویده شو تر دی چی سحر شو

**حَتَّى أَتَى الْمُزْدَلِفَةَ فَصَلَّى بِهَا الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِأَذَانٍ وَإِقَامَتَيْنِ، ثُمَّ اضْطَجَعَ حَتَّى إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ، صَلَّى الْفَجْرَ،سنن الدرامي 1892**

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه د هغه عادت مبارکه د شوګیر نه کول وو مګر د حاجت د وجې لکه د علم یا مصلحت په خبرو شوګیر کول

## ۱۶ دا عقیده لرل چې د ګهینتې یا څپړو اغوستل کومو کې چې تارونه وي په شرعي طور سره ناروا دي

پدې وجه چې دې کې د منع سبب ګڼل دي

دا غلطه خبره ده ځکه د محرم د مخیط اغوستلو نه منع شوی دی  د مخیط نه مراد هغه کپړه ده چې د بدن د اندام مطابق ګڼل شوی وي لکه قمیص پرتوګ

سلفو د مخیط لفظ د نبی علیه السلام ددی قول د توضیح او تشریح لپاره ذکر کړی دی

«لَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ الْقَمِيصَ وَلَا الْعِمَامَةَ وَلَا الْبُرْنُسَ وَلَا السَّرَاوِيلَ

أخرجه مسلم في الحج باب ما يباح للمحرم بحج أو عمرة. . رقم 1177

**محرم به قمیص پګړی قراقولی او پرتوګ نه اغوندی**

نو د محرم لپاره د څپړو اغوستل جایز دي هر څنګه چې وي البته د ګهینتې نه اغوستلو کې احتیاط دی ځکه ابن عمر رضی الله عنه فرمایلی دی

**ځان پسې څه شی مه تړه**

( په احرام کې )

## ۱۷ په حج کې د ټنګ ټکور الات استعمالول

د ټنګ ټکور د الاتو استعمال جایز ندی ددی د حرمت دلایل د روژو د احکامو په اخیر کې ذکر شول

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۸ د وخت نه مخکی د جمرات ویشتل

د وخت نه مخکی جمرات ویشتل کفایت نکوی بلکی دوباره یی په خپل وخت کی راګرځول ضروری دی د رمی وخت د اختر ټوله ورځ او نیمه شپه ده د هغه چا لپاره چی د مزدلفه نه دشپی راغلی وی او د منی ورځو کی د زوال نه پس هم ویشتل کیږی

ابن عمر رضی الله عنه فرمایی

**«كُنَّا نَتَحَيَّنُ فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ رَمَيْنَا»**
صحيح البخاري 1746

**مونږ په وخت اندازه کوو کله چی به نمر زایله شو جمرات به مو ویشتل**

جابر رضی الله عنه فرمایی

**«كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْمِي يَوْمَ النَّحْرِ ضُحًى، وَأَمَّا بَعْدَ ذَلِكَ، فَبَعْدَ زَوَالِ الشَّمْسِ»:سنن الترمذي 894**

**نبی علیه السلم د اختر په ورځ د چاشت په وخت کی رمی کړی ده او ددی نه پس ( د منی په ورځو کی ) یی د نمر د زوال نه پس**

## ۱۹ د رمی نه مخکی د کاڼو وینځل

غلط کار دی ځکه کاڼی خو نجس نه وی او طهارت ورله شرط ندی نبی علیه السلام کاڼی ویشتلی دی او وینځلی یی نه وو په نبی علیه السلام کی د تابعدای ښه نمونه ده

موفق رحمه الله فرمایی

**د امام احمد څخه نقل دی چی دا مستحب ندی د نبی علیه السلام نه ثبوت نلری او همدا صحیح قول دی**

دا قول د عطا مالک او ډیرو علماو دی ځکه نبی علیه السلام په اوښه سور وو او کاڼی یی راوغستل نه یی ووینځل او نه یی د وینځلو چاته حکم وکړ

نه دیته ضرورت شته ځکه که په نجس کاڼی هم رمی وکړی کفایت کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲۰ د حجر اسود په خواه کی د زنانه سړو سره اختلاط( یو بل له دیکی ورکول)

ښځه عورت دی هغی باندی لازم ده چی دی نه ځان وساتی او هغی شی کی دی ګډون نه کوی چی ددی په ګناه ګاردیدو یا د حج او فرایضو د اجر د کمی باعث ګرځی چی هغه د سړو سره ټیل او زنانه و ته کتل دی

د حجر اسود ښکلول واجب ندی دی وجی نه چا چی په اسانی سره ښکلول وکولی شو بغیرد ټیل نه نو ښه ده که نه وی نو د ټیل او دیکو ضرورت نشته

نبی علیه السلام عمر رضی الله عنه ته ویلی وو

«**يَا عُمَرُ إِنَّكَ رَجُلٌ قَوِيٌّ لَا تُزَاحِمْ عَلَى الْحَجَرِ،**" السنن المأثورة " (510)

**ای عمر ته یو قوی سړی یی په حجر اسود باندی ټیل مه جوړوه**

نو یو بل له زحمت ورکول شرعا منع دی

**كَانَتْ عَائِشَةُ تَطُوفُ حَجْزَةً مِنَ الرِّجَالِ لَا تُخَالِطُهُمْ، فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مَعَهَا: انْطَلِقِي بِنَا يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ نَسْتَلِمُ فَجَذَبَتْهَا وَقَالَتْ: «انْطَلِقِي عَنْكِ» وَأَبَتْ أَنْ تَسْتَلِمَ،مصنف عبدالرزاق 9018**

**عایشی رضی الله عنها به یواځې طواف کوو د سړو سره به نه یو ځای کیده یوی زنانه ورته وویله ای ام المومنین راځه چی حجر اسود سره لاس ولګوو هغی په غصه کی وویل ته لاړه شه زه نه ځم**

## ۲۱ د ضرورت نه بغیر په رمی وغیره کی بل څوک نایب ګرځول

د زنانه و او بوډا ګانو لپاره د نایب مقررولو کی څه حرج نشته ځکه په رمی کی زحمت ( رش) او تکلیف وی البته که رش او تکلیف نه وو بیا رخصت نشته ( خپله به رمی کوی)

ډیرو علماو فتوی ورکړی چی په نفلی حج کی د رمی لپاره څوک نایب مقررول مطلقا جایز دی که خپله قدرت لری او کنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲۲ دا عقیده لرل چی د جمراتو د ویشتلو په ځای کی شیطان دی

دا غلطه نظریه ده ځکه پدی دری ځایونو کی زمونږ نبی ابراهیم علیه السلام ته شیطان راښکاره شوی وو نو دا د عبادت ځایونه دی په رمی او ذکر سره ددی پخواه کی عبادت کولی شی نه دا چی د هری جمری سره شیطان ولاړ وی

## ۲۳ د ماښام نمر ډوبیدو نه مخکی د عرفه نه وتل او د نیمی شپی نه مخکی د مزدلفه نه تلل

په عرفه کی د ماښام مونځ پوری پاتی کیدل واجب دی نبی علیه السلام تر هغه پوری پاتی شوی وو چی د نمر زیړوالی ختم شو او نمر غایب شو

نو په عرفه کی دومره وخت پاتی کیدل لازم دی نبی علیه السلام فرمایی

### څوک چی د نمر ډوبیدو نه مخکی ووت هغه باندی دم لازم دی

دغه رنګه په مزدلفه کی شپه تیرول واجب دی نبی علیه السلام شپه تیره کړی وه البته کمزورو او زنانه و ته یی رخصت ورکړی وو ( چی د نیمی شپی نه پس لاړ شی )

دی وجی نه څوک چی د نیمی شپی پوری په مزدلفه کی پاتی نشو نو واجب یی پریخوده دم پری لازم شو ځکه دا د حج د مناسکو څخه ده نبی علیه السلام دی باره کی فرمایلی دی«**خُذُوا عَنِّي مَنَاسِكَكُمْ**،**مسند احمد** (3548)

**زما نه د حج کارونه زده کړی**

## ۲۴ د عرفه په میدان کی د هغه چا روژه نیول چی دلته موجود دی

نبی علیه السلام د عرفه د ورځی روژه په عرفه کی نده نیولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

میمونه رضی الله عنها فرمایی

**، أَنَّ النَّاسَ، شَكُّوا فِي صِيَامِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ عَرَفَةَ، فَأَرْسَلَتْ إِلَيْهِ بِحِلَابٍ وَهُوَ وَاقِفٌ بِالْمَوْقِفِ فَشَرِبَ مِنْهُ وَالنَّاسُ يَنْظُرُونَ**

أخرجه مسلم في الصيام باب استحباب الفطر للحاج يوم عرفة رقم 1124

**خلکو د عرفه په ورځ د نبی علیه السلام په روژه کی شک وکړ نو دی نبی علیه السلام ته په لوخی کی پی ولیږل او هغه په میدان د عرفه کی ولاړ وو نو نبی علیه السلام هغه وڅکښل خلکو ورته کتل**

## ۲۵ مزدلفه ته د راتلو سره سم د رمی لپاره کاڼی راټولول

د نبی علیه السلام طریقه دا وه چی د اختر په ورځ په سحر وخت کی به یی کاڼی راجمع کول ابن عباس رضی الله عنهما فرمایی

**قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: غَدَاةَ الْعَقَبَةِ وَهُوَ عَلَى نَاقَتِهِ «الْقُطْ لِي حَصًى»ابن ماجه 3029**

**نبی علیه السلام ماته د اختر په سحر وویل هغه په اوښ باندی سور وو راشه زما لپاره کاڼی راټول کړه**

# په تجارت کی د شریعت مخالف کارونه

## ۱ د هغه شی خرڅول چی دا یی مالک نه وی نه د مالک له طرفه ده ته وکالت ورکړی شوی وی

## په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکیم بن حزام رضی الله عنه فرمایی

**قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ الرَّجُلُ يَسْأَلُنِي الْبَيْعَ وَلَيْسَ عِنْدِي، أَفَأَبِيعُهُ؟ قَالَ: «لَا تَبِعْ مَا لَيْسَ عِنْدَكَ»**
سنن ابن ماجه **2187**

**زه نبی علیه السلام ته راغلم او ومی ویل ما ته یو کس راځی د هغه څه د اخستلو مطالبه رانه کوی چی ما سره فی الحال نه وی ایا زه د بازار څخه دا شی راغستی شم او هغه باندی یی خرځولی شم ؟نبی علیه السلام وفرمایل هغه څه مه خرځوه چی تا سره نه وی**

اهل علم فرمایی **د ما لیس عندک معنی داده چی د څه چی ته مالک نه یی**

یو بل روایت کی دی نبی علیه السلام فرمایی

**«لَا يَحِلُّ سَلَفٌ وَبَيْعٌ، وَلَا شَرْطَانِ فِي بَيْعٍ، وَلَا رِبْحُ مَا لَمْ يَضْمَنْ، وَلَا بَيْعُ مَا لَيْسَ عِنْدَكَ»مسند احمد6671**

**قرض او بیع جمع کول حلال ندی نه په یو تجارت کی دوه شرطونه او نه د هغه څه ګټه چی ضمانت یی ده باندی نه وی او نه د هغه څه خرڅول چی تا سره نه وی**

## ۲ نا معلوم شی اغستل خرڅول

مثلا یو کس هغه څه خرخوی چی اغستونکی نه وی لیدلی نه ورله شکل صورت پیژنی

نو د مبیعی د نامعلوم والی په وجه بیع باطل ده

د تجارت مختلف صورتونه دی چی د جهالت په وجه د هغی نه منع شوی ده

لکه د تقسیم نه مخکی د غنیمت خرڅول بیع ملامسه او منابذه بیع حصات او هغه تجارت چی دهوکه پکی وی د حیوان په ګیډه د بچی خرڅول په اوبو کی د ماهی خرڅول وغیره

ددی ټولو نه په حدیث کی منع راغلی ده

دا د مجهول والی د وجی نه یا د جهالت عینی د وجی یا د وصفی

نو دا قسم مجهول د بیع اقسام او داسی نور چی د زمانی په ترقی سره مخی ته راځی ټول ممنوع دی او نهی د فساد تقاضا کوی لهذا عقد به فاسد وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳ د یو شی خرڅول او د هغی د عیب نه بیانول

دا دهوکه ده نبی علیه السلام فرمایی

**مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنَّا.**
سنن الترمذي **1315**

### چا چی دهوکه وکړه زمونږ نه ندی

د مبیعی د عیب پټول حرام دی نبی علیه السلام فرمایی مسلمان د مسلمان ورور دی د هیڅ مسلمان لپاره جایز ندی چی خپل ورور باندی څه شی خرڅ کړی هغی کی عیب وی او خبر یی تری نه کړی

## ۴ د نوو سرو په بدل کی زاړه سره زرخرڅول

دا په ربوی مالونو کی زیادت دی چی سود دی ځکه په سرو او سپینو زر د یو بل سره بدلول په دوه صورتونو کی جایز دی چی لاس په لاس وی ( قرض پکی نه وی ) یو بل سره مقدار کی برابر وی ( زیادت پکی نه وی )

برابره ده که نقدی وی یا جوړ کړی شوی سره زر د جوړولو څه اثر نه وی

نبی علیه السلام فرمایی سره زر د سرو په بدل کی مه اخلی مګر د یو بل سره په مقدار او وزن کی برابر

یو بل روایت کی دی سره زر د سرو په بدل کی او سپین د سپین په بدل کی مه خرڅوی مګر په وزن کی برابر لاس په لاس

نو څوک چی د نوی سرو د اغستلو اراده لری او ده سره زاړه پراته وی نو دا زاړه دی پخپل قیمت خرڅ کړی او پدغه پیسو دی د بل ځای نه سره زر واخلی برابره ده کی جوړ کړی شوی اخلی او که تانبه

## ۵ په یوی سودا کی دوه سوداګانی کول

ددی قسم بیع نه منع راغلی ده نبی علیه السلام فرمایی چا چی په یوه سودا کی دوه سوداګانی وکړی نو د هغه لپاره به کم قیمت وی یا به سود وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل حدیث کی دی نبی عیله السلام په یوه سودا کی ددوه سوداګانو څخه منع کړی ده

ددی معنی ابن قیم رحمه الله بیان کړی ده هغه فرمایی

ددی تفسیر دادی چی بایع ووایی دا شی په لس روپی نغدو واخله او زه به یی بیرته تا نه په شل په قرضو واخلم

دا بعینه د عینه تجارت دی او همدا تفسیر د حدیث مطابق دی

که دده مقصد د نقدو پیسو په قرضو سره بدلول وی نو دا صرف د راس المال ( همدغه لس روپو ) مستحق دی او همدا کم قیمت دی که اخلی یی نو کم قیمت به اخلی که اکثر قیمت یی واغسته ( چی شل روپی دی ) نو سود یی وکه

او حدیث ددی تفسیر نه علاوه د بل تفسیر احتمال نلری

## ۶ د حرام شیانو تجارت لکه  نشیی موادو  او د هغه مجلو خرڅول چی د زنانه وو په تصویرانو مشتملی وی فاحش فلمونه او په حرام کی مستعمل الات خرڅول یا هغه کتابونه چی د عشق خبری پکی وی

ددی مذکوره شیانو د تحریم فتوی علماو ورکړی ده ځکه د مجلو او فلمونو وغیره فتنه ټولو ته معلومه ده او تحریم یی په هر چا واضح شوی دی

الله تعالی فرمایی ای نبی خپلو بیبیانو لوریانو او د مومنانو زنانه و ته ووایه چی په خپلو ځانونو باندی څادر راچوی

او ځکه چی دا شیان د فحاشی دعوت ورکوی

الله تعالی فرمایی بیشکه کوم کسان چی د ایمان والاو په مابین کی فحاشی خپروی ددوی لپاه په دنیا او اخرت کی سخت عذاب دی او الله په هغه څه پوهیږی چی تاسو تری جاهل یی

نبی علیه السلام فرمایی ښځه عورت دی کله چی د کور نه ووځی شیطان یی د خلکو په سترګو کی اوچته کوی

کله چی د ښځی د کور نه وتل فتنه ده ) نو د کفارو او نورو زنانه وو ددی فتنه اچونکو تصویران به

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه حال وي

او کله چې ددی تحریم په قران حدیث او اجماع سره ثابت شو نو ددی محرماتو پیسی اغستل هم حرام دی ځکه نبی علیه السلام فرمایی کله چې الله یو شی حرام کړی د هغی پیسی هم حراموی

یو بل حدیث کی راځی

د حرام شی د پیسی خوړونکی سود او حرام خوری

## ۷ دګانو او فلمونو کیسټی خرڅول کوم چې د زنانه وو په تصویرانو فاسدو افکارو او فواحشو مشتمل وی

په ۶ مساله کی ددی تفصیل او حرمت تیر شو

## ۸ بیع النجش ددی نه مراد د په یو شی کی د رغبت نه بغیر دی هغی په قیمت کی اضافه کول

( لکه یو کس راشی چی زه فلانی شی خرڅوم هغه د دکاندار سره په سودا کولو بوخت وی پدیکی یو کس ووایی زه به درنه په دومره پیسو واخلم قیمت ورته ډیر کړی چی سودا پری خرابه شی)

دا کار حرام دی ابن عمر رضی الله عنهما فرمایی نبی علیه السلام د نجش نه منع کړی

## ۹ د بل مسلمان د سودا دپاسه سودا کول

یعنی یو کس هغه چا ته ووایی چی څه شی یی په لس ریاله خرڅ کړی وی مثلا زه به دنه په دولس ریاله واخلم یا یو کس د بایع نه څه شی په اته ریاله اغستی وی بل ورته ووایی زه به په شپږ درکړم

دا کار حرام دی ځکه د دشمنی او حسد سبب ګرځی

نبی علیه السلام فرمایی یو کس دی د خپل ورور د سودا دپاسه سودا نکوی

## په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۰ تجارت کی دهوکه او تدلیس کول

دهوکه کول حرام دی نبی علیه السلام فرمایی چاچی مونږ سره دهوکه وکړه هغه زمونږ نه ندی

بل لفظ کی دی ندی زمونږ نه هغه څوک چی دهوکه کوی

دغه رنګه تدلیس هم منع دی نبی علیه السلام فرمایی د اوښانو اوګډو بیزو غولانځه مه تړی ( پدی نیت چی پی پکی جمع شی او غټه ښکاری)

او دا هم یو قسم دهوکه ده د تدلیس معنی داده چی کوم شی چی د خرڅ اراده یی لری هغه وقتی طور لپاره ښایسته کړی چی عیب یی پټ وی او خرڅه شی

## ۱۱ د سودا خرڅولو په وجه دروغ قسمونه خوړل

په تجارت کی د قسم خوړل د تجارت برکت ختموی نبی علیه السلام فرمایی دروغ قسم سودا خرڅوی خو کسب تباه کوی

الله تعالی فرمایی

کوم کسان چی دالله په عهد او خپلو قسمونو باندی لګ قیمت اخلی ددوی لپاره په اخت کی څه برخه نشته نه به د قیامت په ورځ الله ددوی سره خبری وکړی او نه به ورته د رحمت په نظر وګوری نه به یی پاک کړی او ددوی لپاره به سخت عذاب وی

نبی علیه السلام فرمایی

**دری کسان دی د قیامت په ورځ به ورته الله د رحمت په نظر نه ګوری نه به یی پاک کړی او ددوی لپاره به دردناک عذاب وی**

**بیا نبی علیه السلام دا ایت دری ځله ولوسته**

**ما وویل ( ابو هریره ) دوی خو ډیر تاوانیان دی دا څوک دی ای د الله رسول**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هغه وفرمایل**

**د ګیټو ځخه پرتوګ ښکته کونکی احسان کونکی او هغه کس چی په دروغ قسم سره خپله سودا خرڅوی**

دی باره کی ډیر احادیث دی چی دروغ قسمونه حرام دی او د تجارت برکت ختموی

## ۱۲ د تجارت د احکامو په زده کولو کی تساهل نه کار اغستل

ډیر مسلمان د احکامو په زده کولو کی سستی کوی ددی د نه پیژندل د حرام مال د خوړلو د باطل تجارت د انعقاد او د حرام مال د حاصلول باعث ګرځی

د ټولو تاجرانو لپاره لازم ده چی د تجارت احکام زده کړی تر دی چی په دنیا او اخرت کی کامیابه شی

دی وجی نه یو روایت کی راځی عمر رضی الله عنه به په بازار کی ګرځیده او بعضی تاجران به یی په دره وهل او ویل به یی په بازار کی به هغه سړی سودا خرڅوی چی د دین علم لری که نه وی نو سود به وخوری

# د سړو مابین کی شایع غلطیانی

## ۱. په لباس او ویښتو لنډولو کی د کفارو سره مشابهت

د کفارو سره په لباس شکل او عام بدن کی مشابهت منع دی نبی علیه السلام فرمایی چا چی د کوم قوم سره مشابهت اختیار کړ هغه ددوی ځخه شو

نبی علیه السلام د کفارو د لباس نه منع کړی ده



## په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالله بن عمرو بن العاص فرمایی نبی علیه السلام ما باندی دوه زیړی جامی ولیدلی نو ویی فرمایل دا د کفارو جامی دی لهذا مه یی اغونده

دا دلیل دی چی د کفارو د خاص لباس اغوستل حرام دی

دغه شان په ویښتانو کی هم مشابهت منع دی نبی علیه السلام د ږیښتو په رازوړندولو کی د کفارو مخالفت کړی دی

پدی کی د کفارو مشابهت د نبی علیه السلام پدی عام قول کی داخل دی چا چی د کوم قوم سره مشابهت اختیار که هغه به ددوی څخه شی

علما فرمایی دا حدیث د کفارو سره په هغه شیانو کی د مشابهت د تحریم تقاضا کوی چی هغوی پوری خاص د ی

دغه رنګه د مشرکانو مشابهت مقصود دی او امر پری شوی دی

## ۲. په پوټبال باندی مشغولیدل او د فرض مونځونو خیال نه ساتل

دا د ایمان په کمزوری یا نشوالی دلالت کوی الله تعالی فرمایی

وروسته به څه خلک راشی مونځونه به ضایع کړی او خواهشاتو پسی به روان شی زر ده

چی  دوی جهنم ته داخل شی

چونکه مونځ د دین مهم رکن دی نو په هر خواهش او لوبه باندی یی مخکی کول فرض دی په خپل وخت کی به قایمولی شی

ځکه الله تعالی هغه کسانو ته وعید ورکړی چی د مونځ نه غافل دی او د هغوی په نزد د مونځ د عظمت د کمی په وجه یی هیر کړی دی

الله فرمایی هلاکت دی هغه مونځ کونکو لره چی د خپلو مونځونو څخه غافل دی

دی وجی نه هر مسلمان باندی لازم دی چی اذان واوری نو مونځ ته دی حاضر شی او په لوبو تجارت کی دی ځان نه مشغولوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳ د حرام ( ګانو ) اوریدل د فاحش فلمونو کتل او د ګنده مجلو او اخبارونو لوستل**

**۴. د تنګو او نرو جامو اغوستل د بریتونو غټول او د ګیر ی خرول**

**۵ باهر ملکونو ته د فحاشي په نیت سفر کول**

**۶. د موسیقی الات استعمالول**

ددی ټولو شیانو تفصیل ددی نه ویره ورکول او ددی په تحریم باندی دلایل مخکی بیان شو

الله دی په هغه کس رحم وکړی چی سلامتی تلاش کړی ګناهونه پریږدی او فرایض ادا کړی

## لوستل کتل اوریدل او د اوریدو او لیدو افات( تباهی )

**۱. د هغه مجلاتو کتابونو اخباراتو لوستل چی د فحاشي ترغیب ورکوی د اسلام مخالف وی او اخلاق خرابوی**

**۲ د هغه فلمونو عشقی ډرامو کتل چی د بدو اخلاقو دعوت ورکوی او د عشق محبت په زړه کی اچوی**

**۳. د کرکټونو او نورو لوبو په کتلو وخت ضایع کول چی هیڅ فایده پکی نشته په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴. د ګانو او موسیقی اوریدل

ددی څلورو شیانو نه منع د شریعت د نصوصو څخه معلومه ده مخکی ددی باره کی تفصیلی دلایل ذکر شو

الله تعالی فرمایی ان السمع .

نو د هغه تصویرانو کتل چی د سړ ی عورت پکی ښکاره وی لکه بعضی لوبو کی یا د ښځو عورت پکی ښکاره وی لکه فلمونه دا ټول منع دی

اجتناب تری ضروری دی دغه رنګه موسیقی هم ده چی ددی د تحریم باره کی دلایل مخکی ذکر شو

همدارنګه هغه کتابونو چی لوستلو کی یی هیڅ فایده نشته مسلمان باندی لازمه ده چی پریی بږدی ځکه پدی کی یی ددین حفاظت اجر او د ګناه نه بچاو دی

که د لوبو کتل د مونځ یا بل واجب شرعی نه انسان مشغوله کوی دا به حرام وی او که د مونځ وغیره نه انسان نه مشغوله کوی نه پکی شرعی ممانعت وی بیا یی هم پریخودل اولی ( بهتر) دی

ځکه پدوی ( لوبو کونکو) کی اکثره ډله بازی یو بل ناخوښ ګنړل د غیر الله سره محبت او د جاهلیت رواجونه وی

## ۵. د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په کارونو کی سستی ( بی پرواهی کول )

په نیکی حکم او د بدی نه منع کول په هر مسلمان باندی د وس مطابق فرض دی ځکه ددی په وجه دی امت ته غوره والی میلاو شوی دی الله فرمایی تاسو بهترین امت یی د خلکو لپاره راویستل شوی یی په نیکی به حکم کوی د بدی نه به منع کوی او په الله به ایمان راوړی

پدی کار خیر کی سستی کول هر ګز جایز نده بلکی ددی پریخودل د الله د لعنت غصی او دعذاب د نازلیدو سبب دی الله تعالی فرمایی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بنی اسرایلو په کافرانو باندی د داود او عیسی په ژبه لعنت کړی شوی دی ځکه دوی نافرمانی او د حد نه تجاوز کوو دوی به د بدی نه یو بل نه منع کول ډیر بد کار چی دوی به کوو

امت اسلامیه به خیر ته دعوت ورکوی په نیکی به امر کوی د نیکی نه مراد هر هغه کار چی الله پری حکم کړی یا شریعت خوښ ګنړلی وی او په نیکی حکم نه کول د بدی نه منع نه کول د دعا د نه قبلیدو سبب دی همدا وجه ده چی دی زمانه کی خلک دعاګانی کوی او قبلیږی نه چی دا یو لوی مصیبت دی ځکه مونږ د الله څخه یو سیکنډ هم نشو بی پرواه کیدلی نبی علیه السلام فرمایی خامخا تاسو به په نیکی حکم کوی د بدی نه به منع کوی یا به الله په تاسو باندی د خپل طرفه عذاب راولیږی بیا به دعا کوی او الله به یی نه قبلوی

چا ته چی په نیکی حکم وکړی شی د بدی څخه منع کړی شی هغه باندی لازم ده چی د الله او رسول د حکم تابعداری وکړی او باید پوهه شی چی کوم کس ورته په نیکی حکم کوی ده لپاره خیر او نجات غواړی ده ته نصیحت کوی او دده لپاره نیکی او ددرجاتو بلندی غواړی نو باید د هغه خبره په احترام سره قبوله کړی الله به ده ته بخشش وکړی او د ګناهونو څخه به یی پاک کړی

# په سفر کی غلطیانی

## ۱. د چکر یا هغه څه لپاره سفر کول چی د واجباتو ضایع کیدل او د محرماتو ارتکاب پکی وی

دا د ښکاره منکراتو او واضح محرماتو څخه دی ځکه هغه هیوادونو ته سفر کول چی شرک فسق د محرماتو استحلال پکی وی د ضرورت نه بغیر جایز ندی خصوصا د هغه چا لپاره چی دین داره او ښکاره موحد وی

بیا د ګناه سفر چی واجبات ادا کول او ددین ښکاره کول پکی ممکن نه وی ددی د حلال والی فتوی هیڅ عالم نده ورکړی لیکن دا مصیبت دی وخت کی عام دی کامیاب هغه څوک دی چی الله یی وساتی

## ۲ـد کفارو سره محبت او د هغوی سره په افعالو او اقوالو کی مشابهت اختیارول



## په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی فرمایی ته به هیڅ قوم مونده نکړی چی په الله او اخرت باندی ایمان لری چی د الله او د رسول دشمنانو سره محبت کوی اګر که کافر ددوی پلاران ..هم وی

دی وجی نه د کفارو محبت او دوستی د ایمان منافی دی دی سره یا ټول ایمان ختمیږی یا یی کمال ته نقصان رسی نو ددوی سره بغض دشمنی او قطع تعلقی پکار ده ځکه د الله شریعت او ددین دد شمنانو سره هغه څوک مینه نه کوی چی الله او رسول سره محبت لری

امام ابن قیم څه ښه خبره کړی ده

اتحب اعدا الحبیب وتدعی حبا له ما ذاک فی امکان

ایا ته د نبی ددشمنانو د محبت باوجود د نبی د محبت دعوی کوی دا چیرته کیدای شی

د کفارو سره په اقوالو او افعالو کی مشابهت اختیارولو باره کی تفصیل مخکی تیر شو چی دا حرام کار دی

## ۳. د کافرو په ملکونو کی د دعوت پریخودل او د اسلام او د هغی د محاسنو اظهار نکول

د کافرو ملک ته سفر کول پدی شرط مباح دی چی هلته به ددین اظهار کولی شی نو څوک چی پدی قادر نه وی هغه له سفر جایز ندی مسلمان د دین په کمال په دعوت سره دایمان په زیادت او په هر ځای کی د اسلام په اظهار مکلف دی خصوصا د کفارو په ملک کی

همدا د نبی علیه السلام او صحابه وو طریقه وه د کفارو ملک ته چی به لاړ هلته به یی اسلام ته دعوت ورکوو نو ددوی په وجه الله خلکو ته نفع ورکړه الله دی ددوی نه راضی شی زه هم تری راضی یم

### ۴. په باهر ملک کی بد اخلاق اختیارول دی لپاره چی د مسلمانانو نوم بدنام شی

مسلمان باید یوه نمونه وی ددین او امت محافظ وی او ددی کار په وجه کیدای شی ډیر خلک چی د اسلام اراده لری ددین نه واوړی ځکه چی مسلمانان پخپله په دین عمل نکوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵. د مسلمانو ښځو د پردی لحاظ نه ساتل او د ډول او سینګار ښکاره کول خصوصا کله چی د کافرو ملک ته لاړی شی**

مخکی د پردی د ستر د وجوب او د ټول بدن د پټولو دلایل ذکر شو  او همدا

چی مونږ یی اورو په حقیقت کی واقع دی چی بعضی مسلمانانی زنانه د کفارو ملک ته د رسیدو سره سم پرده پریږدی چی سبب یی په زړه کی د ایمان کمی ،د د حجاب باره کی د الله او رسول د حکم نافرمانی ده

حالانکه د الله عبادت او اطاعت په هر ځای کی پکار دی باید مسلمان سړی او ښځی دی د الله تابعداری په ټولو ملکونو کی وکړی الله تعالی فرمایی

بیشکه الله تاسو لره څارونکی دی

کومه ښځه چی د اور نه نجات او د قبر عذاب نه حفاظت غواړی هغه دی د الله اطاعت او د  هغه د فرایضو پابندی وکړی

او د بی پردګی نه دی ځان وساتی ځکه د مخ یا پنډی ښکاره کول په قبر او دقیامت په ورځ د عذاب سبب ګرځی

د کومی زنانه چی د جنت د حصول خواهش وی هغه دی د الله د احکامو تابعداری او د پردی پابندی وکړی ځکه جنت او د الله رضا هغه زنانه وو ته حاصله ده چی تابعداری او پاکی دی

او د ګناه ګارو کثرت دی تا په دهوکه کی وانچوی څه نیک خلک همیشه کم وی الله فرمایی که په ځمکه کی د ډیرو خلکو تابعداری وکړی د الله د لاری نه به دی ګمراه کړی

او د هغه سره ایمان رانوړه مګر لګو خلکو

## صله رحمی

**۱. د خپلوانو زیارت نه کول( د هغوی کور ته نه تلل)**



## په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د صله رحمی کټ کول دی ( چی د خپلوانو یو بل کره تګ لاره نه وی )

مسلمان ته په صله رحمی حکم شوی دی

نبی علیه السلام فرمایی څوک چی په الله او اخرت باندی ایمان لری نو خپلولی دی قایمه کړی

د خپلولی د قایمولو ثواب اجر په رزق کی پراخی او د اثراتو باقی پاتی کیدل دی

نبی علیه السلام فرمایی څوک چی غواړی په رزق کی یی پراخی راشی او اثر یی باقی پاتی شی نو صله رحمی دی وپالی

او د صله رحمی نه پالل د تعلق قطع کول دی الله تعالی فرمایی ایا تاسو ګمان کوی که تاسو وګرځی نو په ځمکه کی به فساد کوی او خپلولی به کټ کوی همدا خلک دی چی الله پری لعنت کړی دی دوی یی کاڼه کړی دی او سترګی یی ورله ړندی کړی دی

د عایشه رضی الله عنها څخه روایت دی نبی علیه السلام فرمایی خپلولی د عرش سره تړل شوی ده هغه وایی چا چی زه وپاللم الله دی وپالی او چا چی زه کټ کړم الله دی کټ کړی

همدا دلایل دخپلولو د قایمولو د ترغیب او د دی د کټ کولو د ترهیب لپاره کافی دی

## ۲ـ د معمولی سبب د وجی د خپلوانو سره قطع تعلقی ( خفګان) او د هغوی پریخودل

بغیر د سبب شرعی نه د خپلوانو پریخودل جایز ندی بلکی خپلولی قایمول واجب دی اګر که خپلوان ستا ذات ته ضرر رسوی ځکه اصلی خپلولی قایمونکی هغه  دی چی د خپلوانی د ورانی باوجود ورسره ده روغه کوی عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه فرمایی
**" لَيْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُكَافِئِ، وَلَكِنَّ الْوَاصِلَ مَنْ إِذَا قُطِعَتْ رَحِمُهُ وَصَلَهَا " (مسند احمد 6785)**

**خپلولی قایمونکی هغه ندی چی په بدل کی خپلولی قایموی بلکی هغه دی چی که ده سره بل څوک تعلق کټ کوی دا یی ورسره قایموی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ابو هریره رضی الله عنه فرمایی

**أَتَى رَجُلٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ لِي قَرَابَةً أَصِلُهُمْ وَيَقْطَعُونَ، وَأُحْسِنُ إِلَيْهِمْ وَيُسِيئُونَ إِلَيَّ، وَيَجْهَلُونَ عَلَيَّ وَأَحْلُمُ عَنْهُمْ، قَالَ: «لَئِنْ كَانَ كَمَا تَقُولُ كَأَنَّمَا تُسِفُّهُمُ الْمَلَّ، وَلَا يَزَالُ مَعَكَ مِنَ اللَّهِ ظَهِيرٌ عَلَيْهِمْ مَا دُمْتَ عَلَى ذَلِكَ» الادب المفرد 52**

**[قال الشيخ الألباني] :**

**صحيح**

**چی نبی علیه السلام ته یو سړی وویل  ای د الله رسول زما خپلوان دی زه ورسره خپلولی پالم خو هغوی یی نه پالی زه ورسره احسان کوم خو هغوی راسره بد کوی زه یی خیال ساتم هغوی هیڅ خیال راباندی نکوی**

**نبی علیه السلام وفرمایل که ته په خپله خبره کی ریشتینی یی نو دالله له طرفه به ستا سره همیشه یو مددګار وی تر څو چی ته په همدی حال قایم یی**

## ۳. د خپلوانو تپوس نه کول هغوی سره رابطه نه ساتل اګر که د موبایل رابطه وی کله چی زیارت یی ممکن نه وی

## ۴. د غریبانو خپلوان پرواه نکول د هغوی سره مالی مدد پریخودل

الله تعالی فرمایی

**{وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَى وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ}[النور: 22]**

**پتاسو کی دی مالداره قسم نکوی چی خپلوانو مسکینانو او د الله په لاره کی هجرت کونکو ته مال ورکړی او بخښنه او معافی دی وکړی ایا تاسو دا نه خوښوی چی الله تاسو ته معافی وکړی بیشکه الله غفور رحیم دی**

د سلمان بن عامر رضی الله عنه څخه روایت دی نبی علیه السلام فرمایی

**" الصَّدَقَةُ عَلَى الْمِسْكِينِ صَدَقَةٌ، وَعَلَى ذِي الْقَرَابَةِ اثْنَتَانِ: صَدَقَةٌ وَصِلَةٌ "**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ابن ماجه 1844**

**په مسکین باندی صدقه کول صرف صدقه حسابیږی لیکن په خپلوان باندی د صدقی دوه اجره دی صدقه او صله رحمی**

( یو اجر د صدقه بل د صله رحمی

د بهز بن حکیم څخه روایت دی هغه د خپل پلار نه هغه د خپل پلار نه روایت کوی ما نبی علیه السلام ته وویل

**يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَنْ أَبَرُّ؟، قَالَ: «أُمَّكَ» . قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «أُمَّكَ» . قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «أَبَاكَ» . قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «الْأَدْنَى فَالْأَدْنَى»**
سنن ابن ماجه **3658**

**ای د الله رسول زه د چا سره نیکی وکړم ؟ نبی علیه السلام وفرمایل مور سره مور سره مور سره بیا پلار سره بیا چی کوم ډیر قریبی خپلوان وی**

## ۵. په هغه رشته دارو باندی خرچه نکول چی د هغوی خرچه پتا باندی لازم ده

په خپلوانو باندی خرچه کول لازم دی کله چی د هغوی څوک نه وی چی خرچه پری وکړی خصوصا کله چی یی یو کس وارث وی

الله فرمایی

**{وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَلِكَ} [البقرة: 233]**

**په وارث باندی همدغه شان**

که وارث نه وی بیا هم ورله په هغوی خرچه کول  د وس مطابق مستحب دی ځکه دی کی ډیر فضل او خیر دی

نبی علیه السلام فرمایی

**ابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ: أُمَّكَ , وَأَبَاكَ , وَأُخْتَكَ , وَأَخَاكَ , ثُمَّ أَدْنَاكَ أَدْنَاكَ "**

**السنن الكبرى للبيهقي17699**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شروع وکړه په هغه چا چې ستا عیال دی مور ستا پلار خور ستا ورور بیا قریبی رشته دار**

د نبی علیه السلام ددی قول مطلب چې مور ستا یعنی مور باندی مال خرچ کړه...

## واده ( نکاح)

### ۱. د ښځې په انتخاب کې بې پرواهي کول

که څوک د واده اراده لری باید د دینداری ښځې انتخاب وکړی چې ددین په کارونو کې ورسره مدد کوی او پدی باندی نبی علیه السلام امر کړی دی هغه فرمایي

**«تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَلِحَسَابِهَا وَلِجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ»صحيح البخاري 5090**

**ښځه د څلور صفاتو په وجه په نکاح اغستلې شي د مال دوجې د حسب د وجې د ښایست د وجې د دین د وجې پس په دین داره ځان کامیاب کړه ( نکاح ورسره وکړه ) لاس به دی په خاورو خړ شي (کامیاب به شې)**

### ۲. کوم هلک چې د نکاح اراده لری هغه د جینی لیدو ته نه پریخودل

د هلک لپاره مستحب  دی چې( د ښځې د کولو نه مخکی ) د ښځې مخ او لاسونو ته وګوری

چې په کی او هغه څه کی فکر وکړی چې په نکاح باعث وی نبی علیه السلام هغه چا ته فرمایلی وو چې د نکاح اراده یی لرله هغی ته وګوره

نبی علیه السلام فرمایي

"إذا خطب أحدكم امرأة فلا جناح عليه أن ينظر إليها إذا كان إنما ينظر إليها لحطبته وإن كانت لا تعلم"،

(c) ketabton.com: The Digital Library

أحمد "5/ 424"

**کله چې یو کس د ښځې کولو اراده وکړي نو څه باک نشته چې ورته وګوري که د نکاح کولو اراده یې لرله اګر که ښځې ته پته نه وي( کله چې ورته ګوري)**

البته سړي لپاره جایز ندی چې هغه زنانه ته وګوري چې د نکاح اراده ورسره نه لري او نه به ورته په خلوت کې ګوري هغه وخت کې ورته کتلی شي چې هغې ته پته نه وي یا ورته پته وي او خپل اهل ورسره ناست وي

البته بعضی خلک خپلی لورګانی د نکاح په بهانه خلکو ته ښایي چې دا کار د غیرت والا کس نشی کولی

حالانکه ښځې ته کتل د هغه چا لپاره جایز دی چې په ریښتیا هغه د واده اراده لري او یا د عقد نه پس

## ۳. د سبق ویلو په بهانه واده وروسته کول

دا د شرع مخالفت دی ځکه مسلمان ته د ځان او شرمګاه په حفاظت باندې امر شوی دی په وخت باندې د واده فایده داده چې دی سره د بدن او ذهن د صحت او د نفس د راحت حفاظت کیږي نبی علیه السلام فرمایلي دي

**«يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ، مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ، فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ، وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ، فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ، فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ»**
سنن ابن ماجه **1845**

**ای د ځوانانو جماعت څوک چې تاسو کې د واده کولو استطاعت لري واده دې وکړي ځکه پدې سره د نظر او شرمګاه حفاظت کیږي او څوک چې وس نلري هغه دې روژې نیسي ځکه روژې دده لپاره ډال دی**

پدې وجه د سړي یا ښځې له طرفه د سبق په بهانه د واده وروسته کول یو عجیب کار دی چې د غربیانو له طرفه په مونږ کې رایج شوی دی او امت اسلامیه دا قسم رواج نلري

نو کله چې یو ځوان د واده خرچې برداشت کولی شي او عاقل وي چې د ښځې سره په ښه طریقه زندګی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیرولی شی هغه لپاره واده کول مستحب دی او کله پری واجبیږی دغه رنګه زنانه هم او په وخت سره واده کول دښځی او سړی دواړو لپاره دوایی ده چی پدی زمانه کی ډیر اهمیت لری

## ۴. په مهر کی دومره زیادت کول چی د وس نه باهر وی

اصل خبره داده چی د مهر څه حد په شریعت کی مقرر ندی لیکن په مهر کی زیادت کول د نبی علیه السلام د طریقی مخالفت دی او دا د واده نه د وروسته کیدو سبب دی نو باید ددی دروازه بنده کړی شی او د جینی سرپرست له په مهر کی کمی کول او د خپلو لورګانو لپاره نیک خاوند لټول ضروری دی

نبی علیه السلام خپلو بیبیانو ته ۱۲ نیم اوقیه مهر ورکړی وو

عمر رضی الله عنه فر مایلی دی

**" لَا تُغَالُوا صَدَاقَ النِّسَاءِ، فَإِنَّهَا لَوْ كَانَتْ مَكْرُمَةً فِي الدُّنْيَا، أَوْ تَقْوًى عِنْدَ اللَّهِ، كَانَ أَوْلَاكُمْ وَأَحَقَّكُمْ بِهَا مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مَا أَصْدَقَ امْرَأَةً مِنْ نِسَائِهِ، وَلَا أُصْدِقَتِ امْرَأَةٌ مِنْ بَنَاتِهِ أَكْثَرَ مِنَ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ أُوقِيَّةً،سنن ابن ماجه 1887**

**خبردار په مهرونو کی زیادت مه کوی ځکه که چیرته دا په دنیا کی د عزت سبب وی نو نبی علیه السلام به کړی وی نبی علیه السلام خپلی هیڅ بیبی یا لور لپاره د دولس اوقیه نه ډیر مهر ندی مقرر کړی**

## ۵. د نورو زنانه و په شرکت  د یوی ښځی د خپل خاوند سره یو ځای وظیفه کول

دا ددوه وجوهاتو په وجه منع ده

۱ پدی کی د کفارو سره مشابهت دی ځکه ښځه او خاوند په یو ځای کی کار کوی چی پدی کی د ښځی ملګری په دوی سلام کوی ( او یو بل سره ګپ شپ لګوی) همدا شان د سړی ملګری هم دوی سره ملاقات کوی

۲ د سړی پردو زنانه و ته کتل پدی حال کی چی هغوی ډول او سینګار کړی وی او خپلی متې او مخونه یی ښکاره کړی وی حالانکه دا حرام کار دی او که چیرته ددی فعل باره کی مونږ اوریدلی نه وی یا خلکو مشاهده کړی نه وی نو مونږ به ددی تصدیق نه وی کړی چی د توحید او غیرت والا مسلمانان هم دا کار کوی

## په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۶ ـ د واده د شپې د ادابو لحاظ نکول**

**۷. په طعام کې اسراف کول**

**۸. په ولیمه کې اسراف کول**

مخکې د اسراف څخه د منع دلایل ذکر شو لکه الله فرمایي اسراف مه کوی ځکه الله د اسراف کونکو سره مینه نکوی

انس رضی الله عنه فرمایي

**«مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْلَمَ عَلَى شَيْءٍ مِنْ نِسَائِهِ مَا أَوْلَمَ عَلَى زَيْنَبَ، فَإِنَّهُ ذَبَحَ شَاةً»**
سنن ابن ماجه **1908**

**نبی علیه السلام په خپله هیڅ بیبی باندی دومره ولیمه نده کړی څومره چې یې زینب باندی کړی وه په هغې یې یوبیزه ولیمه کړی وه**

نو سنت طریقه میانه روی او دومره طعام تیارول دی چې کفایت کوی او د اسراف نه بغیر د خلکو اکرام کول او په میانه روی کې ټول خیر دی

**۹. د واده په مراسمو کې د روپو شیندل ددی په وجه د الله د نومونو سپکاوی کیږی چې پدی روپو باندی لیکلی شوی وی**

د الله د نومونو ایاتونو احترام مطلوب دی که په درهم باندی وی یا نورو پاڼو باندی الله تعالی فرمایي

**وَمَنْ يُعَظِّمْ حُرُمَاتِ اللَّهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَهُ عِنْدَ رَبِّهِ} [الحج: 27]**

**او څوک چې د الله د محارمو احترام کوی دا دده لپاره دده د رب په نزد غوره کار دی**

او یو بل مقام کې فرمایي

**{ذَلِكَ وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوبِ} [الحج: 32]**

**څوک چې د الله د شعایرو احترام کوی نو دا د زړونو د تقوی نښه ده**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۰. په واده کی د ډمانو سړو او ښځو حاضرول او د هغه کیسټو غږول چی ګانی بجانی پکی وی

دا کار حرام دی د ټنګ ټکور استعمال هیڅکله جایز ندی د قران حدیث او اقوالو د صحابه نه ددی په تحریم باندی دلایل مخکی ذکر شو

البته د زنانه و لپاره د واده په شپه د چمبی وهل د هغه لوبو سره جایز دی چی فحش خبری پکی نه وی

او د الله په شرع کی د حرام شیانو نه کفایت موجود دی

بیا همدا ډمان ددی کار په عوض کی حرام مال اخلی او څوک چی دوی له مال ورکوی هغه په حرام کی پیسی خرچ کوی دا پیس کله د زرګونو په مقدار کی وی نو دا ټول ممنوع کارونه دی الله دی پدی عمل کی واقع خلکو ته هدایت کړی

## ۱۱ـد ښځی لپاره د لاوډ سپیکر استعمال

ښځی ته په اواز ښکته کولو حکم شوی دی حتی په عباداتو کی نو په نورو شیانو کی خو به خامخا اواز ښکته کوی

نو د ښځی لپاره د لاوډ سپیکر استعمال قطعا جایز ندی

## ۱۲ ـ د واده په مراسمو کی د زنانه وو وغیره تصویران ویستل

د تصویر ټول اقسام منع دی خصوصا د زنانه وو تصویر ځکه سړی ددوی تصویران ګوری او دا تجربه شوی امر دی او اکثر اوقاتو کی د زنانه و تصویران خپاره شی او سړو ته ورسیږی چی پدی سره د هغوی عزت پامال شی او د پلارانو او کورنی عزت یی تس نس شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تصویر نه د منع دلایل مخکی ذکر شو او هر کله چی ښځه عورت دی نو د هغی تصویر په سختی سره منع دی

### ۱۳ . هغه څوک رټل چی د یوی ښځی نه زیاتی یی کړی وی

دا یو مصیبت دی چی د اسلام دشمنانو ترویج کړی دی ځکه د ډیرو ودونو حکم شریعت کړی دی او د شریعت حکم به په سر سترګو قبول وی دی وجی نه هغه چاته بد رد ویل چی د یوی ښځی نه ډیری یی کړی وی د جاهل او هغه چا څخه صادریږی چی خواهش پرستو خلکو ورله په زړه کی شبهات اچولی وی

الله تعالی فرمایی{**وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً [النساء: 3]**

**نکاح وکړی خومره چی ستاسو خوښه وی د زنانه وو څخه دوه دری څلوی که تاسو د عدل قایمولو نه ویریدلی نو بیا یوه وکړی**

او نبی علیه السلام د یوی نه ډیری ښځی کړی دی دغه رنګه صحابه کرامو

نو ډیر ښځی کول مباح او جایز عمل دی او د هغه چا په حق کی مستحب دی چی یوه ښځه ورله کافی نه وی او د بلی د کولی رغبت لری

## د ژبی غلطیانی

### ۱. په غیبت او چغل خوری کی تساهل کول

**او د مسلمانانو په اخلاقو یا شکلونو پسی مسخره کول**

دا ټول حرام کارونه دی هیڅ مسلمان له دی ته متوجه کیدل پکار دی الله تعالی فرمایی

**ای مومنانو یو قوم دی بل پسی مسخره نکوی کیدای شی هغوی ددوی نه غوره وی نه دی بعضی زنانه په نورو پسی مسخری کوی کیدای شی هغوی ددوی نه غوره وی یو بل باندی عیبونه مه لګوی نه بد القاب استعمالوی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل ایت کی الله فرمایی

**بعضی پټاسی کی دی د بعضو نورو غیبت نکوی ایا پټاسو کی یو تن خوښه ګڼړی چی دورو غوښه په مړینه وخوری یقینا تاسو دا بد ګڼړی**

دا د غیبت نه د نفرت کولو تاکید دی

**د چغل خوری باره کی نبی علیه السلام فرمایی چغل خور سړی جنت ته نشی داخلیدی**

**ابن عباس رضی الله عنهما فرمایی نبی علیه السلام په دوه قبرونو باندی تیر شو او ویی فرمایل دوی ته عذاب میلاویږی د کومی غټی ګناه په وجه ورته نه میلاویږی بلکی دی یو به چغل خوری کوله...**

نو چغل خوری حرامه ده او دکبایرو څخه ده

نمام ( چغل خور ) هغه چا ته ویل کیږی چی د یو کس خبره واوری او نورو ته یی نقل کړی دی لپاره چی دواړو مابین کی جنګ واچوی

یا هغه څو ک چی د ځانه دروغ خبری جوړوی دی لپاره چی د دوستانو مابین کی دشمنی واچوی

او په الله قران رسول پسی مسخری کول کفر دی

**الله تعالی فرمایی که ته ددوی نه پوښتنه وکړی نو خامخا دوی به ووایی مونږ خو مسخری او لوبی کولی ته ورته ووایه ایا په الله ایاتونو او د هغه په رسولانو پسی تاسو ټوقی کولی عذرونه مه پیش کوی تاسو د ایمان نه پس کافر شوی یی**

په ټولو مسلمانانو باندی د مسلمانانو د اخلاقو ددین او د نبی د سنتو محبت فرض دی او دا د ایمان دلیل دی او په دین پسی ټوقی کول کفر دی والعیاذبالله

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۲ـښکنځلی بد رد او لعن طعن کول

ددی ټولو نه منع راغلی ده دا د مومنانو صفات ندی عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمایی نبی علیه السلام فرمایلی دی مومن به طعن کونکی لعنت ویونکی نه وی نه به فاحش او بد رد وایی

نبی علیه السلام فرمایی د قیامت په ورځ به لعنت ویونکی خلک نه شفاعت کولی شی نه د چا باره کی ګواهی

دغه رنګه بدی ردی ویل ددی ټول اقسام حرام دی نبی علیه السلام فرمایی هر مسلمان په بل مسلمان باندی حرام دی د هغه وینه مال او عزت

بل روایت کی دی مسلمان ته ښکنځلی کول فسق دی

جابر بن سلیم فرمایی نبی علیه السلام ماته فرمایلی وو هیچا ته ښکنځل مه کوه

هغه فرمایی ددی نه پس ما نه ازاد مسلمان ته ښکنځل کړی دی نه غلام نه اوښ او نه ګډی بیزی ته

### ۳. ځان مال او بچو ته ښیری کول

ددی ځخه منع راغلی ده کوم مسلمان چی پدی عادی وی باید ترک یی کړی جابر بن عبدالله رضی الله عنهما فرمایی

نبی علیه السلام فرمایلی دی

**ځان ته ښیری مه کوی مه خپلو اولادو او خادمانو ته مه خپلو مالونه ته**

**هیڅ داسی ساعت نشته چی د الله نه پکی څه وغوښتی شی او هغه یی قبول نکړی**

الله تعالی فرمایی **که چیرته الله تعالی خلکو ته شر په جلدی ورکولی لکه څنګه چی دوی خیر په جلدی سره غواړی نو ددوی نیټه به پوره کړی شوی وی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴. ورځو میاشتو او کلونو ته بد رد ویل

ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی نبی علیه السلام فرمایی" **قَالَ اللَّهُ: يُؤْذِينِي ابْنُ آدَمَ، يَسُبُّ الدَّهْرَ، وَأَنَا الدَّهْرُ، بِيَدِي الْأَمْرُ، أُقَلِّبُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ "**
مسند احمد**7245**

**الله تعالی فرمایلی دی انسان ماته تکلیف راکوی ځکه هغه زمانی ته بد رد وایی او زه زمانه یم ورځ او شپه اړوم راړوم**

یو بل روایت کی راځی نبی علیه السلام فرمایی

**هیڅوک دی پتاسو کی دا نه وایی ای د زمانی خیبته ځکه الله تعالی زمانه ده**

د الله دا قول چی زه زمانه یم شپه او ورځ اړوم راړوم ددی معنی داده چی په زمانه کی چی کوم خیر او شر جاری وی دا الله په اراده تدبیر علم او حکمت سره وی دی کی الله سره هیڅوک شریک نشته الله چی څه وغواړی کیږی او څه چی وغواړی نه کیږی

دی وجی نه پدواړو حالاتو کی د الله تعریف او حمد پکار دی په هغه ښه ګمان کول او هغه ته توبه او انابت کول ضروری امر دی

کلونو ته سخت ویل یا ورځو ته سپیری ویل زمانی ته د بدرد ویلو څخه ندی لکه الله تعالی فرمایی

بیا به ددی نه پس ووه سخت کلونه راشی

بل ځای کی فرمایی په هغه ورځ چی سپیره او سخته وه

ځکه دا صفت د خلکو په وجه شوی دی یعنی په هغوی باندی به دا کلونه سخت وی او دا ورځ به په هغوی سپیره وی

او داسی نور البته د ورځ یا کال هیڅ اختیار نه وی اختیار خو ټول د الله په لاس کی دی

## ۵. د الله مخلوقاتو ته بد رد ویل هغوی باندی لعنت ویل لیکن دا هغه مخلوقاتو پسی خاص دی چی قران حدیث کی یی بدی او لعنت نه وی راغلی

ددی نه منع راغلی ده نبی علیه السلام جابر رضی الله عنه ته فرمایلی وو هیچا ته بد رد مه وایه



### په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو دا عموم دی ټول مخلوقات پکښې داخل دی

همدا وجه ده چې جابر رضی الله عنه ددی نه د عموم فایده اغستی وه او فرمایلی یی وو ددی نه پس ما ازاد غلام اوښ او بیزی ته بد رد ندی ویلی

**بل حدیث کی دی نبی علیه السلام یو سفر کی روان وو پدیکښې یو کس خپلی اوښې باندی لعنت ووایه نبی علیه السلام وفرمایل د اوښې والا کس څه شو؟ یو کس وویل زه یم نبی علیه السلام وفرمایل اوښ دی وروسته کړه بیشکه ستا ښیری قبولی شوی**

د نبی علیه السلام نه ثابته ده چې هغه د بانګی هوا او مرغانو ته د بد رد ویلو نه منع کړی ده

دا دلیل دی چې منع عام ده هر شی ته شامل ده د کوم چې شریعت کی بدی او لعنت وارد نه وی

## ۶. صحابه و او تابعینو ته ښکنځلی کول

صحابه باره کی رد بدل ویل کفر دی ځکه الله ددوی صفت بیان کړی دی الله فرمایی

محمد د الله رسول دی او کوم کسان چې دده ملګری دی په کافرانو باندی سخت او خپل مابین کی رحم دل دی ته به وینی دوی رکوع او سجده کی د الله فضل او رضا به لټوی د سجدی د اثر د وجی به ددوی په مخونو کی نښانی وی

نبی علیه السلام فرمایی **زما صحابه وو ته بد رد مه وایی قسم په هغه ذات چې زما لاس د هغه په لاس کی دی که تاسو کی یو تن د احد دغره په مقدار سره زر د الله په لاره کی خرچ کړی د هغوی د یو مد یا نیم مقدار ته به ونه رسیږی**

نو چا چې صحابه وو ته بد رد وویل هغه د الله دا صفت رد کړ او د قران د صریح ایت انکار یی وکړ او همدا کفر صریح دی

البته تابعینو ته بد رد ویل حرام او کبیره ګناه ده لیکن کله د کفر درجی ته هم رسیږی ځکه دوی د صحابه و نه پس غوره خلک دی نبی علیه السلام ددوی د فضیلت ګواهی ورکړی ده هغه فرمایلی دی بهترین خلک زما په زمانه کی دی بیا هغه چې دی پسی دی با هغه چې هغوی پسی دی

## ۷. علماو ته ښکنځل کول او هغوی پسی مسخری کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی کی هیڅ شک نشته چی دوی ته بد رد ویل حرام او کبیره ګناه ده لیکن کله به د کفر درجی ته رسیږی کله چی دوی ته بد رد ویل ددین او ددوی په دین باندی د تمسک د وجی نه وو الله تعالی فرمایی **بیشکه د الله په بنده ګانو کی علما د الله نه ډیر ویریږی**

او فرمایی ووایه **ایا برابر دی هغه کسان چی علم لری او کوم چی علم نلری**

فرمایی **الله ګواهی ورکوی چی هیڅ لایق د عبادت نشته مګر الله دی او ملایکی او اهل علم هم (ګواهی ورکوی ) دوی په عدل ولاړ دی نشته لایق د عبادت مګر الله دی او هغه د عزت حکمت والا ذات دی**

نو کوم خلک چی الله تعالی په ځان او پریشتو پسی په ګواهی کی پیوست کړی دی د هغوی اکرام او احترام پکار دی

او دوی ته بد رد ویونکی ددوی په شان کی سپکاوی کوی که چیرته دا کار د هغوی د اسلام د وجی نه وی نو دا ارتداد او کفر دی که چیرته دا کس جاهل نه وو

الله تعالی فرمایی

قل اباالله

## په مختلفو مناسباتو او مراسمو کی غلطیانی

**۱. په ولیمو کی اسراف د خوراکی شیانو په ګنده ځایونو کی غورځول او په ولیمو کی یو بل باندی فخر کول**

**۲. په مختلفو الاتو سره د ګانو بجانو اوریدل**

**۳. د مختلفو حرامو مراسمو قایمول لکه د میلاد اخترونه د مور ځوی او ماشوم د په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پیدایش میلاد او دغه رنګه نور ماتمونه وغیره**

### ۴. پدی مراسمو کی د سړو او ښځو شرکت او سړو مخکی د ښځی ډول سینګار

ددی منکراتو او غلطیانو تفصیل او د حرمت دلایل ددی رساله په مختلفو مقاماتو کی تیر شو دا ټول کارونه نن صبا په کثرت سره موجود دی الله تعالی دی مسلمانان ددی قسم ګناهونو څخه وساتی او د خپل دین بصیرت دی ورنصیب کړی او د توبه توفیق دی ورکړی

### ۵. په هغه لوخی کی خوراک څښاک کول چی د سرو یا سپینو زرو نه جوړ وی

پدی لوخو کی خوراک څښاک حرام دی حذیفه رضی الله عنه فرمایی نبی علیه السلام فرمایلی دی د سرو او د سپینو زرو په لوخی کی څښاک مه کوی نه ددی په کاسو کی خوراک کوی

د ام سلمه رضی الله عنها څخه روایت دی نبی علیه السلام فرمایی څوک چی د سرو یا سپینو زرو په لوخو کی څښاک وکړ هغه په خپله خیټه کی د جهنم اور اچوی

دا احادیث د سرو او سپینو په لوخو کی د خوراک څښاک په حرمت باندی دلیل دی

دغه رنګه هر لوخی چی سره یا سپین زر پکښ استعمال شوی وی په لوخو کی کاسه چمچ ګلاس او هر هغه شی داخل دی چی د خوراک څښاک لپاره استعمالیږی

### ۶. د هغه اخبارو وغیره د خوراک او څښاک لپاره استعمالول چی د الله یا رسول نوم پکښ لیکلی شوی وی

دا د هغه منکرانو څخه دی چی نن سبا شایع او منتشر دی او خلک یی پرواه نکوی حالانکه مسلمان به د الله د حرماتو او شعایرو احترام کوی الله تعالی فرمایی

دی وجی نه کوم اخبارات چی د الله په نوم یا د قران په ایاتونو مشتمل وی د هغی احترام تعظیم او د سپکاوی نه یی حفاظت لازمی دی ځکه د الله د ایاتونو او نومونو احترام ضروری دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو پدی اخباراتو کی د ډوډی وغیره خوراکونو په رانغښتلو سره ددی سپکاوی کیږی چی هر ګز جایز ندی

## په لباس کی غلطیانی

اول

د سړو لباس

### ۱. د کپړی یا پرتوګ راښکل یعنی د غوزانو نه یی ښکته کول

ددی څخه منع راغلی ده لیکن نن سبا خلک په کثرت سره دا کار کوی او د ګناه ویره ورسره نه وی

نبی علیه السلام فرمایی **کومه جامه چی د غوزانو نه ښکته شی هغه به په اور کی وی**

**البته که د پیڅو ښکته کول د تکبر په وجه وی نو دا خو بیا غټه ګناه ده دی وجی نه سزا یی داده چی د قیامت په ورځ به ورته الله نه ګوی ( هغه کس ته چی پیڅی ښکته کوی )**

نبی علیه السلام فرمایی د قیامت په ورځ به الله هغه کس ته د رحمت په نظر نه ګوری چی خپلی جامی د تکبر د وجی راښکی

د مسلم په روایت کی دی **چا چی خپله جامه راښکله چی پدی سره یی تکبر مقصد وو نو الله به ورته د قیامت په ورځ د رحمت په نظر ونه ګوری**

نو د پیڅو ښکته کول حرام دی خصوصا کله چی تکبر مقصد وی بیا خو یی سزا نوره هم زیاته ده

**د مغیره بن شعبه رضی الله عنه نه روایت دی ما نبی علیه السلام ولیده چی د سفیان بن ابی سهیل باندی یی لاس ایخی وو او فرمایل یی ای سفیان خپل پرتوګ د ګیټو څخه مه ښکته کوه ځکه الله د جامی راښکونکی سره محبت نکوی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۲ـد تنګو او نرو جامو اغوستل

که چیرته عورت پکښې ښکاره کیږی یا د بدن د خاص اندام مقدار نو دداسی کپړو نه اغوستل فرض دی

الله تعالی فرمایی

**ای د ادم بچیانو بیشکه مونږ ستاسو لپاره داسی لباس نازل کړی دی چی ستاسو ستر پټوی**

البته که عورت پکښې نه ښکاریده یا د خاص اندام مقدار ترینه نه معلومیده نو اغوستلو کی یی څه باک نشته اګر که تنګی وی

مګر که د کفارو یا د زنانه و د کپړو سره پکښې مشابهت وی

### ۳. هغه کپړی اغوستل چی د زنانه و د لباس مشابه وی

دا قسم جامی اغوستل حرام دی نبی علیه السلام په هغه سړو لعنت کړی چی د ښځو سره مشابهت کوی او په هغه ښځو چی د سړو سره مشابهت کوی

علما فرمایی د تشبه ..

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی نبی علیه السلام په هغه سړی باندی لعنت کړی چی د ښځو پشان جامی اغوندی او په هغه ښځه چی د سړی پشان جامی اغوندی

### ۴. د شهرت لباس اغوستل

ددی نه مراد هغه جامی او لباس دی چی د مسلمانانو مابین کی غیر معروف وی یا ددی په وجه سړی ته اشاری کیږی کله چی یی واغوندی ځکه دا ډیر د فخر جامی وی

یا ډیری خیرنی کپړی چی اغوستونکی په هغی سره مشهوریږی حالانکه د ښه لباس د اغوستلو قدرت لری

(c) ketabton.com: The Digital Library

نبی علیه السلام فرمایی **چا چی د شهرت جامی واغوستلی الله به هغه ته د ذلت جامی ورواغوندی**

امام شوکانی **فرمایی دا حدیث د شهرت د لباس د اغوستلو په تحریم باندی دلالت کوی لیکن دا په قیمتی لباس پسی خاص ندی بلکی دا هغه چاته هم شامل دی چی یو کس د غریبانانو جامی واغوندی دی لپاره چی خلک یی وینی او تعجب وکړی چی دا هم غریب شوی دی**

ابن رسلان رحمه الله فرمایی

**کله چی پدی جامو سره په خلکو کی شهرت مقصود وی نو د قیمتی او غیر قیمتی لباس هیڅ فرق نشته نه ددی چی ددی کس لباس د خلکو د لباس موافق وی یا مخالف ځکه د تحریم علت شهرت دی**

## ۵. داسی جامی اغوستل چی ستر لره نه پټوی لکه د پوټبال وغیره لوبو لوبو لپاره چی کوم لباس اغوستی کیږی چی پنډی نه پټوی او بیا هغی کی د خلکو مخی ته وتل

د نامه نه تر زنګون پوری حصه د سړی عورت دی او ورنونه د عورت حصه ده مسلمان ته حکم شوی دی چی د خپل عورت حفاظت وکړی مګر د ښځی او وینزی نه

**د بهز بن حکیم نه روایت دی هغه د خپل پلار نه هغه د خپل پلار نه روایت کوی ما وویل ای د الله رسول صلی الله علیه وسلم زمونږ عورتونه بعضی مونږ ښکاره کوو او بعضی پټوو نبی علیه السلام وفرمایی د خپل عورت حفاظت وکړه مګر د خپلی ښځی او وینزی نه**

**ما وویل کله چی مونږ (قوم ) د یو بل سره ناست یو**

**هغه وفرمایل که ته وکولی شی چی هیڅوک یی ونه وینی نو دا کار وکړه**

او ورنونه د عورت حصه ده نبی علیه السلام فرمایی **د نامه نه تر زنګون پوری حصه عورت دی**

بل حدیث کی دی نبی علیه السلام فرمایی **ورون عورت دی**

بل روایت کی هغه ددی په پټولو حکم کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۶ـ مسجد ته د تلو په  وخت کی زینت( ځان نه ښایسته کول)

دا د الله ددی قول مخالفت دی

**{يَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ } [الأعراف: 31]**

**ای د ادم بچو د هر مسجد په خواه کی زینت اختیار کړی**

کله چی مونځ کی انسان الله ته متوجه کیږی نو باید ددی لپاره زینت اختیار کړی شی او انسان عطر استعمال کړی د بد بویه شیانو ښخه ځان وساتی

همدا مستحب زینت دی

### ۷ـ هغه جامه اغوستل چی د روح والا شیانو تصویران پکښی وی خصوصا د کافرو ډمانو لوبغاړو یا مشرانو تصویران

ځکه د هغه جامی اغوستل حرام دی چی د انسان حیوان مرغی تصویر وی پری

د تصویر ویستلو په کور کی راځوړندولو په جامو باندی ایستلو د تحریم باره کی دلایل ډیر زیات دی«**نَصَبَتْ سِتْرًا فِيهِ تَصَاوِيرُ، فَدَخَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَزَعَهُ**»، **قَالَتْ: فَقَطَعْتُهُ وِسَادَتَيْنِ،**

**صحيح مسلم 95**

**د عایشه رضی الله عنها ښخه روایت دی چی هغی یو پرده راځلی وه چی تصویران پکښی وو نبی علیه السلام راننوته او هغه یی لری کړه هغه فرمایی ما ترینه دوه بالختونه جوړ کړل نبی علیه السلام به پری تکیه وهله**

علما فرمایی **په سړی او ښځی باندی حرام ده چی داسی کپړه واغوندی چی د ځناور وغیره تصویر پری وی یا یی راځوړنه کړی یا یی ددیوال لپاره پرده کړی**

بیا د هغه جامو اغوستل چی  د کفارو تصویر پری وی دی کی د هغوی خوښ ګڼړل د هغو سره دوستی کول راځی او دا ستر مصیبت دی ځکه د کافر سره به بغض او نفرت کولی شی نه چی هغه خوښ کړی شی احترام تعظیم او محبت ورسره وساتل شی

۸ـ د ډول واده وغیر لپاره د سړو لخوا د سرو زرو ګوتمی جوړول

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره زر د سړو لپاره حرام دی نبی علیه السلام فرمایی

**زما د امت د ښځو لپاره سره زر او ریښم حلال کړی شوی دی او ددی امت په سړو باندی حرام کړی شوی دی**

برا بن عازب فرمایی

**وَنَهَانَا عَنْ: خَوَاتِيمِ الذَّهَبِ،الادب المفرد 924**

**نبی علیه السلام مونږ د سرو زرو د ګوتمو څخه منع کړی یو**

**عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ فِي يَدِ رَجُلٍ فَنَزَعَهُ فَطَرَحَهُ وَقَالَ: " يَعْمِدُ أَحَدُكُمْ إِلَى جَمْرَةٍ مِنْ نَارٍ فَيَجْعَلُهَا فِي يَدِهِ**

**صحیح مسلم(2090)**

**د ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چی نبی علیه السلام د یو سړی په ګوته باندی د سرو زرو ګوتمه ولیده نو راویستله او ویی غورځوله بیا یی وفرمای تاسو کی یو تن د اور سکروټه په ګوته کوی**

نو سرو زرو د ګوتمی څخه منع عام دی د ډول نکاح واده یا بل مقصد لپاره اغوستل یی جایز ندی

**د ښځی لباس**

## ۱. تنګی او نری جامی او هغه جامی اغوستل چی د پردو سړو نظر راړوی

دا حرامی دی د ښځی لپاره جایز نده چی د پردو سړو مخکی داسی جامی واغوندی چی د بدن اندامونه یی پکښ ښکاره کیږی نه دومره نری وی چی د څرمن رنګ یی پکښ معلومیږی نه داسی لباس چی دسړو نظر ځان ته راړوی

او بیشکه پدی ګناه کی ډیری مسلمانانی ښځی واقع شوی دی که چیرته دوی توبه ونه باسی نو کیدای شی د ا عمل یی د جهنم ته د تلو سبب وګرځی

الله تعالی فرمایی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**{وَلا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ} [النور: 31]**

**ډول به نه ښکاره کوی مګر خپل خاوندانو ته**

بل مقام کی فرمایی

**{وَلا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ} [النور: 31]**

**خپلی ښپې به د ځمکی سره نه وهی دی لپاره چې هغه ډول راښکار ه شي کوم چې دوی یی پټوی**

نو هر کله چې د بنګړو وغیره شړنګار اواز ښکاره کول حرام دی نو د نور ډول ښکاره کول به څنګه وی؟

بلکی د هغه جامو به څه حال وی چې د زنانه سینه او شاه ښکاره کوی د هغی مټ پنډی او مخ پکښې ښکاری

ولا حول ولا قوه الا بالله

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی نبی علیه السلام فرمایی

**" صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا: قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ، وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلَاتٌ رءُوسُهُنَّ كَأَمْثَالِ أَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ، لَا يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يَجِدْنَ رِيحَهَا، وَإِنَّ رِيحَهَا لَتُوجَدُ مِنْ كَذَا وَكَذَا "**

**صحيح مسلم (2128)**

**د اور والا دوه قسمه خلک ما ندی لیدلی**

**هغه خلک چې د غوا د لکی پشان کوړی یی په لاس دی او نور خلک پری وهی**

**او زنانه چې په دنیا کی په غاړه لباس په اخرت کی لغړی سړو لره مایله کونکی**

**داسی ګبرې وګی به روانی وی لکه چاق اوښان**

**جنت ته به داخلی نشی نه به د جنت بو منده کړی حالانکه د جنت بوی د دومره دومره لری نه محسوسولی شی**

**عَنِ ابْنِ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أَبِيهِ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَسَاهُ قُبْطِيَّةً فَكَسَاهَا**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**امْرَأَتَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا فَعَلْتَ بِالْقُبْطِيَّةِ؟» ، قَالَ: كَسَوْتُهَا الْمَرْأَةَ، قَالَ: «مُرْهَا فَلْتَتَّخِذْ تَحْتَهَا غِلَالَةً لَا تَصِفُ حَجْمَ عِظَامِهَا»حسن**

**مسند احمد 21788**

**د اسامه بن زید نه روایت دی نبی علیه السلام ما ته یوه پیړه کېړه راکړه ما هغه خپلې ښځې ته ورکړه نبی علیه السلام وفرمایل څه وجه ده چې ته هغه کېړه نه اغوندې ما وویل ما هغه خپلې ښځې له ورکړې ده نبی علیه السلام وفرمایل هغې ته امر وکه چې لاندې ترې څه شی واچوی څکه زه ویرېږم چې په هغې کې به یې د بدن اندامونه ښکاره شي**

## ۲. د هغه جامو اغوستل چې د لاندې نه کولاو وی کومې چې پنډۍ او قدمونه نه پټوی

او هغه کپړې چې د پردو سړو مخې ته د ښځو ښایست ښکاره کوی

د ښځې لپاره جایز نده چې دا قسم جامې د سړو مخې ته واغوندې برابره ده که پردې سړې په کور کې وی یا باهر

بلکې هغې باندې واجب ده چې دې قسم کپړو نه ځان وساتي او نورې زنانه ترینه هم منع کړې چې د ګناه نه خلاصه شي او د هدایت خیر او پاکدامنې طرفته دعوت دې ورکړي

په مخکنې مساله کې ددې دلایل بیان شوی د الله نه دعا کوم چې د مسلمانانو زنانه د کفارو د شر او مشابهت څخه وساتي او د منافقانو کید مات کړې مونږ د هغوی د لارې نه بچ کړې

## ۳. د لنډ لستوڼو والا قمیص اغوستل چې مټ پکښې ښکارې او په بازار او ګاړو کې سړو ته د هغې اظهار کول

مونږ مخکې د نبی علیه السلام دا قول بیان که چې ښځه ټول عورت دې کله چې د کور نه ووځې شیطان یې د خلکو سترګو کې اوچته کوی

د استشرفها مطلب دادې چې شیطان اشاره کوی او د خلکو سترګې هغې ته متوجه کوی چې فتنه کې یې واچوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ددی باره کی تفصیلی دلایل مخکی تیر شو

## ۴. دداسی لباس اغوستل چی د سړو سره پکښ مشابهت وی

ددی نه منع شوی ده څکه د ښځی لپاره خاص لباس وی چی هغی سره یی تمیز وی او د سړو لپاره جدا لباس وی چی هغی سره پری د ښځو نه متمیز وی

دی وجی نه د سړو سره په لباس شکل او تګ( مزل ) کی مشابهت جایز ندی

لعن

تلبس لبسه راوړه

## ۵. د باروکه ( جعلی ویښتانو ) لګول څکه دا د ویښتانو وصل دی

د ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چی نبی علیه السلام په هغه ښځه باندی لعنت ویلی دی چی ویښتان لګوی یا ددی طلب کوی او په هغه ښځه چی خالونه لګوی یا ددی طلب کوی

د اسما رضی الله عنها نه روایت دی چی یوی ښځی د نبی علیه السلام نه پوښتنه وکړه ای د الله رسول زما د یوی لور په سر باندی سپوږی مرض لګیدلی دی چی ټول ویښتان یی تری خیژولی دی او ما هغه په نکاح ورکړی ده ایا زه وله ویښتان ایخودی شم هغه وفرمایل الله تعالی په ویښته ایخودونکی ښځه او چا له چی ایخودلی شی دواړو باندی لعنت کړی دی

**د معاویه بن ابی سفیان نه روایت دی چی هغه په منبر باندی وو او د یو دربانچی د لاس نه یی د ویښتو مجموعه راوغسته او ویی ویل څه شول ستاسو علما؟**

**ما د نبی علیه السلام نه اوریدلی دداسی شی نه یی منع کوله**

**او ویل یی بنی اسرایل هله هلاک شول کله چی د هغوی زنانه وو دا شیان ( ویښتان ) ګدل شروع کړل**

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دی کی هیڅ شک نشته چی د باروکه څخه منع راغلی ده

**۶۔ د نوکانو رنګ کول چی د اودس په وخت د هغی په وجه څرمن ته اوبه نه رسیږی**

په اودس کونکی باندی لازمه ده چی خپل ټول بدن ته اوبه ورسوی او په بدن کی نوکان هم شامل دی

او د نوکانو رنګ کولو په وجه د لاس ټولو اندامونو ته اوبه نه رسیږی دی وجی د اودس فرض نه ادا کیږی

الله تعالی فرمایی

**{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ}،المائدة 6**

**ای مومنانو کله چی تاسو مونځ ته پاځیږی نو خپل مخونه او لاسونه د څنګلو پوری ووینځی او په خپلو سرونو باندی مسح کوی او ښپی وینځی تر ګیټو پوری**

نو هر کله چی اودس نه ونشی نو مونځ هم صحیح ندی نو کومه ښځه د مونځ په نه قبلیدو باندی راضی کیږی نو څوک چی د نوکانو رنګ استعمالوی باید د اودس په وخت کی دی لری کړی

**۷۔ د جعلی نوکانو اغوستل یا د ښپو او لاسونو د نوکانو غټول**

پدی سره د فطرت دستنو مخالفت راځی لکه ددی بیان په متفق علیه حدیث کی راغلی دی

نبی علیه السلام فرمایی **" الْفِطْرَةُ خَمْسٌ، أَوْ خَمْسٌ مِنَ الْفِطْرَةِ: الْخِتَانُ، وَالِاسْتِحْدَادُ، وَتَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ، وَنَتْفُ الْإِبْطِ، وَقَصُّ الشَّارِبِ "**
ابن ماجه 295

**پینځه شیان د فطرت څخه دی**

**د نامه نه لاندی ینښتان ختمول سنت ګری د بریتانو کټ کول د تخرګونو ویښتان ختمول او د نوکانو کټ کول**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انس رضی الله عنه نه روایت دی هغه فرمایی

نبی علیه السلام زمونږ لپاره د بریتونو په کټ کولو د نوکانو په کټ کولو د تخرګونو ویښتو په ختمولو او د نامه نه لاندی ویښتانو خرولو لپاره وخت مقرر کړی دی چی د څلویښت ورځو نه یی ډیر نه پریږدو

دی باره کی د زنانه او سړی یو شان حکم دی

# د کفارو سره مشابهت

## ۱. د مسلمانانو سړو له کفارو سره په ګیره خریلو او بریتونو غټولو کی مشابهت

نبی علیه السلام د مجوسو او مشرکانو په مخالفت حکم کړی دی او د ګیری په غټولو او د بریتونو په کمولو یی حکم کړی دی د ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی نبی علیه السلام فرمایی

**د مشرکانو سره مخالفت وکړی ګیری غټی کړی او بریتان واړه کړی**

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی نبی علیه السلام فرمایی

**«جُزُّوا الشَّوَارِبَ، وَأَرْخُوا اللِّحَى خَالِفُوا الْمَجُوسَ»صحیح مسلم 55**

**بریتونه کټ کړی او ګیری غټی کړی د مجوسو مخالفت وکړی**

د لغت علما فرمایی **د ګیری نه مراد هغه ویښته دی چی په د زنی او غومبوری په اطرافو راخیژی**

## ۲. په لباس کی د مسلمانو سړو د کفارو سره مشابهت

ددی نه منع راغلی ده عبدالله بن عمرو بن العاص فرمایی

**أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى عَلَيْهِ ثَوْبَيْنِ مُعَصْفَرَيْنِ قَالَ: " هَذِهِ ثِيَابُ الْكُفَّارِ لَا تَلْبَسْهَا "**حديث أبي أمامة الذي سيرد 264/5، قال: فقلنا: يا رسول الله، إن أهل الكتاب يتسرولون ولا يأتزرون، فقال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "تسرولوا وائتزروا، وخالفوا أهل الكتاب"

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسند احمد6513

**نبی علیه السلام ماباندی دوه زیړی کپړی ولیدی نو ویی فرمایل دا د کافرو جامی دی نو مه یی اغونده**

**نبی علیه السلام فرمایی د اهل کتابو مخالفت وکړی**

**ما وویل ای د الله رسول اهل کتاب خو پرتوګونه اغوندی او لنګ نه اچوی ؟ نبی علیه السلام وفرمایل لنګ او پرتوګ اچوی او د اهل کتابو مخالفت کوی**

نو کوم لباس چی کافرو پسی خاص وی مسلمان به هغه نه اغوندی

## ۳. د هغه اخترونو لمانځل چی کافر یی لمانځی

دا حرام کار دی هیچا له جایز ندی چی د نصارو اخترونه ولمانځی نه په هغی مشارکت وکړی بعضی مسلمانان په خپلو موسساتو او کارخانو کی د کافرو مزدورانو ته اجازت ورکوی چی خپل اخترونه ولمانځی او دوی ورسره هم شرکت کوی حالانکه دا جایز ندی نبی علیه السلام فرمایی

«مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ»ابو داود 4031

**چا چی یو قوم سره مشابهت اختیار کړ هغه به ددوی څخه شی**

شیخ الاسلام فرمایی **ددی حدیث کم ازکم دلالت کوی چی د هغوی سره مشابهت حرام دی اګر که ددی د ظاهر څخه معلومیږی چی هغه چا ته کافر وویلی شی چی ددوی سره مشابهت کوی**

د اهل کتابو او مشرکانو سره په اخترونو کی شرکت کول حرام دی اګر که دا مشارکت د څه شی په هدیه کولو یا مبارکی سره وی دی لپاره چی د شرک جرړه کټ شی او مسلمان په کافر باندی غالبه وی او د الله د امر تابعداری وشی

الله تعالی فرمایی

**وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فَاسِقُونَ{ [الحديد: 16]**

**دوی دی د هغه اهل کتابو په څیر نه ګرځی چی هغوی باندی امید اوږد شو او زړونه یی سخت**

**په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شول نو ډیر ددوی نه فاسقان وو**

ابن کثیر رحمه الله فرمایی

**الله تعالی مومنانو لره منع کړی دی چی د کفارو سره په هر قسم اصولو او فروعو کی مشابهت وکړی**

## ۴- د کافرو پشان سر ګمنزول

ددی نه منع راغلی ده

ځکه مسلمان باندی د کافرو مخالفت په شکل کی هم لازم دی او هغه ته امر شوی چی د خپل دین او شریعت اوامر ومنی

حدیث کی راغلی

**«وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ مُوَافَقَةَ أَهْلِ الْكِتَابِ فِيمَا لَمْ يُؤْمَرْ بِهِ، فَسَدَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاصِيَتَهُ، ثُمَّ فَرَقَ بَعْدُ صحيح مسلم 90**
**چی نبی علیه السلام یو ځل د اهل کتابو سره په ویښتو پریخودلو کی موافقت کړی وو بیا یی مخالفت وکړ**

دا دلیل دی چی د هغوی مخالفت په ویښتانو د  هغی په کیفیت کی د شارع مقصد دی

دی لپاره چی د هغوی سره ظاهری مشابهت ختم شی کوم چی په زړه کی د هغوی سره محبت اچوی

# تصویر

## ۱. د ضرورت نه بغیر د روح والا شی تصویر ویستل

دا د هغه ګناهونو څخه ده چی عام شوی دی او دی کی خلکو دومره تساهل او نرمی اختیار کړی چی بعضی ورته مباح وایی چاته یی حرمت ندی معلوم

سبب یی د مسلمانانو په اخرت او د هغی د ورځی نه په نجات باندی اهتمام نه کول دی

## په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د روح والا شی تصویر ایستل حرام دی ځکه دلایل عام دی هیڅ د هغه تصویر باره کی یی توپیر ندی کړی چی روح لری یا نه

هر شی ته چی تصویر ویل کیږی حرام دی ویستل یی جایز ندی او ددی په حرمت باندی دلایل بیشمار دی

ابن عمر رضی الله عنهما فرمایی

**" الَّذِينَ يَصْنَعُونَ هَذِهِ الصُّوَرَ يُعَذَّبُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيُقَالُ لَهُمْ: أَحْيُوا مَا خَلَقْتُمْ "**
مسند احمد**5168**

**نبی علیه السلام فرمایلی دی کوم خلک چی دا تصویران جوړوی دوی ته به قیامت کی عذاب میلاویږی**

په پینځمه مساله کی ددی باره کی نور احادیث هم بیان شوی وو

چی تصویر حرام دی مګر هغه تصویر چی د ضرورت د وجی وی لکه د پاسپورټ تصویر وغیره ځکه دا ضروری شی دی سره ددی چی زړه کی به ورسره نفرت لری راضی به پری نه وی

البته د هغه تصویرانو راټولول چی په جاولو کارټنو او اخباراتو باندی وی ځکه دا ډیر زیات دی او ددی راټولول ذلت دی او په قواعد فقهیه کی یو قاعده دا هم ده چی مشقت اسانی راکاږی

## ۲. د روح والا شیانو تصویران په مجالسو کی راځوړندول لکه مجسمی وغیره او د هغی نه ختمول

دا د تصویر څخه ډیره ګناه لری ځکه دا د تصویرانو تعظیم دی

عایشه رضی الله عنها فرمایی **چی هغی یوه پرده راځوړنده کړی وه چی تصویران پکښ وو نبی علیه السلام هغه راوشلوله**

بل حدیث کی دی **نبی علیه السلام به کور کی هیڅ تصویر نه پریخوده چی تصویران به پکښ وو**

د علی رضی الله عنه نه روایت دی **چی نبی علیه السلام هغی ته امر کړی وو چی هر تصویر ختم کړی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د تصویرانو راځوړندول حرام دی او کله چې مجسمه وی بیا خو یې حرمت سخت دی نو مسلمان باندی لازم دی چې د الله نه ویریږی او په کورکی ټول تصویران چې مجسمی دی او که د انسان یا حیوان تصویران دی ټول وشلوی

الله تعالی دی مونږ د ګناهونو څخه وساتی

### ۳- د یاداشت لپاره د تصویرانو ساتل که په کاغذ وی یا په مجسمه کی وی

د یاداشت لپاره په کورکی د تصویرانو ساتل جایز ندی ځکه مسلمان ته د تصویرانو په ختمولو د مجسمو په ماتولو مامور دی نو ددی په کورکښ ساتل جایز ندی

ددی په ماتولو لری کولو باندی احادیث مخکی تیر شو

### ۴. د تصویر الات هغه چا باندی خرڅول چې حرام کی یې استعمالوی

مسلمان باندی لازمه ده چې ددی نه اجتناب وکړی ځکه نبی علیه السلام فرمایی

**وَإِنَّ اللَّهَ إِذَا حَرَّمَ شَيْئًا حَرَّمَ ثَمَنَهُ" 1.** [3: 6]
وأخرجه أحمد 242/1 و293، 322،

**کله چې الله تعالی یو شی حرام کړی د هغی پیسی هم حراموی**

یو بل حدیث کی د بوتانو د قیمت اغستلو نه منع راغلی ده او متقدمینو او متاخرینو علماو ویلی دی د تصویرانو خرڅول حرام او پیسی اغستل پری منع دی او بیشکه چې د تصویر الات ددی په حکم کی دی ځکه نبی علیه السلام د شرابو د لوخو په ماتولو حکم کړی وو

## کورنی غلطیانی( خطاوی)

### ۱. د ښځی او خاوند مابین کی بی اتفاقی د معمولی سبب د وجی جنګونه کول په ښی طریقی سره زندګی نه تیرول

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاوند له پکار ده چې د خپلې ښځې په بد روی صبر وکړی او ښځې له هم پکار ده چې د خاوند په سختی او بد روی صبر وکړی ښځې باندی د غصی نه اجتناب لازم دی نبی علیه السلام فرمایی«**لَا تَغْضَبْ**» **مسند ابي يعلى1593**

**غصه مه کوه**

نو کله چې ددوی نه یو په غصه شی بل به صبر کوی او د غصی جواب به په غصه سره نه ورکوی چې شیطان پرې غلبه ونکړی خاوند به د ښځې سره په ښه طریقه زندګی تیروی الله تعالی فرمایی ددوی سره په ښه طریقه زندګی تیره کړی

نبی علیه السلام فرمایی«**اسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا، سنن ابن ماجه 1851**

**د زنانه باره کی نرمی کوی**

بل حدیث کی دی نبی علیه السلام فرمایی«**أَفْضَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا، وَخِيَارُكُمْ خِيَارُكُمْ لِنِسَائِهِمْ**»
مسند ابي يعلى**5926**

**په مومنانو کی کامل ایمان والا هغه دی چې اخلاق یی ښه وی او پتاسو کی بهترین هغه دی چې د ښځو لپاره یی اخلاق ښه وی**

ښځه به د خاوند عزت کوی په هر کار کی به ورله تابعداری کوی ځو پوری چې ګناه نه وی د کور نه به د هغه د اجازت نه بغیر نه وځی او که ښځه دا ټول کارونه وکړی هغی لپاره جنت دی نبی علهی السلام فرمایی کومه ښځه چې وفات شوه او خاوند ترینه راضی وو نو جنت ته به داخله شی

دی وجی نه سړی په ښځه باندی ځرونکی دی الله تعالی فرمایی

**{الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ} [النساء: 34]**

**په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سړی په ښځو باندی قایم ( څارونکی مشران ) دی دی وجی نه چی الله تعالی بعضو لره په بعضو غوره والی ورکړی دی**

او فرمایی وَلِلرِّجالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (228)البقرة

**د سړو یوه درجه په ښځو باندی ډیره ده او الله عزت حکمت والا دی**

د عبد الرحمان بن عوف رضی الله عنه څخه روایت دی نبی علیه السلام فرمایی کله چی ښځه پینځه مونځونه اداکړی د رمضان روژی ونیسی د خپلی شرمګاه حفاظت وکړی د خپل خاوند تابعداری وکړی نو ورته وبه ویل شی جنت ته داخله شه د کومی دروازی نه چی ستا خوښه وی

## ۲ـپه خرچه او ورکړه کی د بچیانو مابین کی بی انصافی کول

د بچیانو باره کی عدل انصاف واجب دی نبی علیه السلام فرمایی د الله نه ویریږی او د اولادو مابین کی انصاف وکړی

عن النعمان بن بشير: أن أباه بشير بن سعد جاء بابنه النعمان، فقال: يا رسول الله، إني نحلت ابني هذا غلامًا كان لي، فقال رسول الله ﷺ: «أكل بنيك نحلت؟» قال: لا. قال: «فارجعه»
أخرجه أيضًا الإمام مالك (125/2)

**د نعمان بن بشیر رضی الله عنه نه روایت دی چی د هغه پلار هغه د نبی علیه السلام حضور ته راوسته او ویی ویل ما دی ځوی ته یو غلام هدیه کړی دی نبی علیه السلام وفرمایل ایا ټولو بچو ته دی هدیه کړی دی که صرف ده ته ؟هغه وویل نه صرف دی ته ؟هغه وفرمایل بیا یی بیرته ترینه واخله**

البته که یو بچی له د شی زیاتو ورکولو څه سبب وی نو څه باک نشته لکه هغه د پلار سره کار کوی دغه شان که پلار یو ځوی ته د واده یا علم حاصلولو لپاره څه زیات ورکړی نو نور بچیان ددی مستحق ندی لیکن که دا سبب په بل بچی کی هم موجود وی د کوم په وجه چی والد دغه بچی ته زیات مال ورکړی دی نو دی بچی ته به هم دغه شان ورکوی

## ۳ـ د بیبیانو مابین کی په تقسیم کی ظلم کول

تقسیم په دوه قسمه دی مالی بدنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بدنی تقسیم نه مراد دادی چی د نورو بیبیانو په شان ورسره شپه تیره کړی

او دی دواړو تقسیمونو کی عدل واجب او ظلم حرام دی

دی وجی نه تقسیم بدنی هم واجب دی او په وجوب باندی یی د الله دا قول دلیل دی

د یو قوم دشمنی دی ددی باعث نشی چی تاسو عدل ونکړی عدل وکړی دا تقوی ته نژدی خبره ده

انس رضی الله عنه فرمایی«**السُّنَّةُ إِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ الْبِكْرَ عَلَى امْرَأَتِهِ أَقَامَ عِنْدَهَا سَبْعًا، وَإِذَا تَزَوَّجَ الثَّيِّبَ عَلَى امْرَأَتِهِ أَقَامَ عِنْدَهَا ثَلَاثًا»ترمذي 1139**

**سنت دادی چی کله سړی نوی ښځه وکړی نو هغی سره به وه شپی تیروی او که کونډه وکړی نو دری شپی به ورسره تیروی باقی ورځی به تقسیموی**

دی باره کی چی څوک زیاتی کوی هغه به ګناه ګار وی

نبی علیه السلام فرمایی

**د چا چی دوه ښځی وی او یوی ته ډیر مایله وی د قیامت په ورځ به داسی حالت کی راشی چی یوه پوختی به یی کږه وی**

دغه رنګه په تقسیم مالی کی هم عدل واجب دی او ظلم کول پکښ جایز ند ی

## ۴. د شریعت ددی حکم پریخودل چی دین داره او اخلاق مند سره خپلولی وکړی

الله تعالی فرمایی د یتمیانانو جینکی په نکاح ورکړی او خپلو نیکو غلامانو له نکاح وکړی که چیرته دوی غریب وی الله تعالی به یی په خپل فضل سره مالداره کړی

نبی علیه السلام فرمایی

**«إِذَا أَتَاكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ خُلُقَهُ وَدِينَهُ فَزَوِّجُوهُ، إِلَّا تَفْعَلُوا تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ عَرِيضٌ»سنن ابن ماجه 1967**

## په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کله چې تاسو ته هغه څوک راشي چې ستاسو د هغه دین او اخلاق خوښ وی نو خپلولی ورسره وکړی که دا ونکړی نو په ځمکه کی به فتنه او فساد واقع شی**

## ۵. د غیر محرم سړی سره د زنانه لاس میلاوول

دا حرام کار دی ځکه ښځی له جایز ندی چی پردی سړی ته لاس ښکاره کړی نو د هغه سره میلاوول به یی څنګ جایز شی؟

نبی علیه السلام فرمایی **ښځه ټول عورت دی**

د معقل بن یسار رضی الله عنه نه روایت دی نبی صلی الله علیه وسلم **فرمایی**

**«لَأَنْ يُطْعَنَ فِي رَأْسِ رَجُلٍ بِمِخْيَطٍ مِنْ حَدِيدٍ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ تَمَسَّهُ امْرَأَةٌ لَا تَحِلُّ لَهُ»مسند الروياني1283**

**که د یو کس په سر کی د کمر تیګی په تکړی سره ګوزار وشی دا ورله غوره ده ددی نه چی د هغه زنانه سره لاس میلاو کړی چی حلاله ورله نده**

همدا وجه ده چی نبی علیه السلام به د زنانه و سره لاس نه میلاوو

عایشه رضی الله عنها فرمایی **قسم په الله د نبی علیه السلام لاس د کومی ښځی د لاس سره په بیعت کی ندی میلاو شوی**

## ۶. د خاوند د ورونړو د ترونو ځامنو وغیره غیر محرمو نه پرده نه کول

د د حرامو کارونو څخه ده ځکه ښځی ته حکم شوی چی د غیر محرم نه مخ پټ کړی او کله چی دوی د خاوند خپلوان وی لکه د هغه ورور د تره ځوی وغیره نو بیا حکم نور هم سخت دی عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روایت دی نبی علیه السلام **فرمایی**

**په زنانه و باندی د داخلیدو نه ځان وساتی نو یو سړی پوښتنه وکړه چی د لیور باره کی څه حکم دی ؟ نبی علیه السلام وفرمایل لیور خو مرګ دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ځکه چې پده باندی تهمت لګول بعید دی

## ۷. په کور یا ګاړی کی د زنانه سره خلوت

د هیڅا لپاره جایز ندی چی د زنانه سره خلوت وکړی نه د زنانه لپاره جایز دی چی د پردی سړی سره خلوت وکړی نه په کور کی نه په ګاړی وغیره کی

نبی علیه السلام **فرمایی**

**هیڅ یو کس دی پټاسو کی د پردی زنانه سره خلوت نه کوی مګر که هغی سره محرم وی**

بل حدیث کی دی نبی علیه السلام فرمایی« **أَلَا لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ لَا تَحِلُّ لَهُ، فَإِنَّ ثَالِثَهُمَا الشَّيْطَانُ،مسند احمد 462**

**هیڅ یو سړی د پردی ښځی سره خلوت نه کوی مګر دریم د هغوی شیطان وی**

او د محرم خلوت نه مراد دادی چی د کور یا حجره یا ګاړی دروازه رابنده وی یا د خلکو د سترګو نه پناه وی

## ۸. د سخت ضررورت نه بغیر په کور کی خادمان ډریوران یا خادمانی ښځی ساتل

البته که ډریور او د کور خادمه دواړه ښځه او خاوند وی بیا دومره باک نشته که دا نه وی نو که چیرته خادمه ځوانه ښځه وی خاوند ورسره نه وی نو کیدای شی د هغی په وجه فتنه واقع شی

چا ته چی نن صبا د کورونو پدی کی د خادمانو او ډریورانو احوال معلوم دی هغه ته پته ده چی ډیر ددوی نه په منکراتو کی واقع شوی دی او ډیر کم مالکان داسی دی چی په خادماتو باندی د پردی د کور نه د نه وتلو حوالی سره سختی کوی او څوک چی غواړی د خپل دین پر واه وکړی نو خپلو خادمانو ته دی د شریعت د احکامو حکم وکړی

او خپل کور ځان او بچی دی د ډریورانو د شر او د خادماتو د فتنه څخه محفوظ کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۹. د خادمانو سړو سره د ښځو یوځای والي او د خادماتو سره د سړو یو ځای والی**

دی کی هیڅ شک نشته چی د پردی ښځی سره خلوت حرام دی او دی کی خادمان هم شامل دی

او د کور مالک دی باره کی مسولیت لری بعضی کورونه خالي وی او هغی کی خادمان ډریوران او خادمات یو ځای اوسیږی نو دا حرام کار دی

او د کور خاوند پدی سره ګناه ګار دی که ددی کار نه منع ونکړی

پدوی باندی لازمه ده چی داسی د اختلاط څخه د منع کیدو اسباب اختیار کړی او د خلوت مخنیوی وکړی کوم سره چی فاحشی او حرام کارونه مخی ته راځی

الله تعالی دی مسلمانو ته بصیرت ورکړی او د ګناه اسباب دی ترینه لری کړی

**۱۰. د کورد خادمه لپاره د محرم نه رواستل کله چی ضرورت پیښ شي**

دا د ظاهری خطاوو څخه ده ځکه د محرم نه بغیر د زنانه سفر کول حرام دی تر دی چی د محرم نه بغیر حج ته هم نشی تلی نو نور سفر به لا څه وی

نبی علیه السلام فرمایی

ښځه به سفر نکوی مګر د محرم سره

ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی نبی علیه السلام فرمایی «**لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُسَافِرَ مَسِيرَةَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ إِلَّا مَعَ ذِي مَحْرَمٍ مِنْهَا**»**سنن ابن ماجه 2899**

**د زنانه لپاره جایز ندی که په الله او اخرت باندی ایمان لری چی د یوی ورځي او شپی په مقدار سفر وکړی مګر د محرم سره**

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۱۱ . د محرم نه بغیر د ښځې سفر کول بری سفر وی که بحری او که هوایی

دا حرامه ده مخکی ددی باره کی دلایل ذکر شو

### ۱۲. د خدمت لپاره د غیر مسلمو راوستل

که چیرته ددوی راوستل جزیره العرب ته وی نو دا حرامه ده نبی علیه السلام ددی نه منع کړی ده هغه فرمایی په جزیره العرب کی دوه دینونه نشی جمع کیدی لهذا یهود او نصاری د جزیره العرب نه اوباسی

د مزدوری او خدمت لپاره د کافرو راوستلو سره ډیر شرونه راځی د هغوی دینی عادتونه بد اخلاق وغیره په ماحول کی خپریږی او خلک ترینه متاثر کیږی چی د کفارو او مسلمانانو د اختلاط شر او فتنی ملاحظه شوی دی

## په کورونو جوړولو کی غلطیانی

### ۱. په کالو ( لوخو ) وغیره کی اسراف

دی سره د شریعت د حکم خلاف دی ځکه شریعت په میانه روی او اسراف نه کولو باندی امر کړی دی

الله تعالی فرمایی او اسراف مه کوی بیشکه الله د اسراف کونکو سره مینه نه کوی

او الله فرمایی او اسراف مه کوه په اسراف کولو سره

دغه رنګه فخر او ځان خودنه پدی چی کور ته دومره کالی راوړی چی وس یی پری نه راځی

باید مسلمانان ددی نه اجتناب وکړی ځکه دا بد مقاصد دی البته د په لوخو او سامان د کور ډولی کولو کی څه باک نشته خو پوری چی اسراف پکښ نه وی



## په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه په دیوالونو پردی راځوړندول د وریښمو استعمال وغیره او د ډیر قیمتی سامان اغستل د اسراف څخه دی

باید هر شی کی میانه روی وکړی شی او چا چی په زندګی او ټولو احوالو کی د سلفو تابعداری وکړه نو دا کمال دی الله دی زموږ په حال رحم وکړی موږ ته دی بخشش وکړی

## ۲. د بعضو کورونو نه د نورو ښکاره کیدل

دی ته توجه پکار ده څکه په کورونو کی بعضی رازونه او ستر وی چی پټول او خیال ساتل یی ضروری دی

د کورو د بهرنی ساحو ښکاریدل د زنانه او دکور د مالک د تنګستا سبب ګرځی باید ددی علاج وشی

په خوراک او څښاک کی غلطیانی

## ۱. د خوراک څښاک په شیانو کی اسراف او د خوراک سامان په ګنده ځایونو کی غورځول

الله تعالی فرمایی او خوراک څښاک کوی لیکن اسراف مه کوی بیشکه الله د اسراف کونکو سره مینه نه کوی

اسراف مه کوه بیشکه اسراف کونکی د شیطان ورونه دی او شیطان د خپل رب نافرمان دی

اسراف د میلمه په احترام کی د حد نه تجاوز کول البته که یو شی د خوراک یا صدقه لپاره مختص وو نو څه باک نشته ( د خوراک نه پس یی صدقه کوو یا خوړل کیده ) او که ډیران یا ګنده ځای ته یی غورځوو نو دا د الله د نعمتونو سپکاوی او د هغی خرچ کول د الله په نافرمانی کی دی

خصوصا کله چی داسی غریبانان موجود وی چی خوراک ته حاجت لری نو پدی وخت کی د عذاب نازلیدل متوقع دی

نبی علیه السلام فرمایی خوراک څښاک او صدقه کوی او جامی اچوی څو پوری چی اسراف او تکبر نه وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲. په چپ لاس خوراک څښاک

ددې نه منع راغلې ده ځکه دې کې د شیطان سره مشابهت دی نبي علیه السلام فرمايي «**إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَأْكُلْ بِيَمِينِهِ وَلْيَشْرَبْ بِيَمِينِهِ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَأْكُلُ بِشِمَالِهِ وَيُشْرَبُ بِشِمَالِهِ» مسند ابي يعلى 4273**

**کله چې تاسو کې یو تن خوراک کوی نو په ښي لاس دې کوی او کله چې څښاک کوی نو په ښي لاس دې کوی ځکه شیطان په چپ لاس خوراک څښاک کوی**

## ۳. په لختو کې د خوراک بهیول او په لختو کې د پاتې شوی طعام غورځول

زما د نیکه العلامه محمد بن ابراهیم څخه دې باره کې پوښته شوی وه هغه په جواب کې فرمایلي وو

الله تعالی په خپلو بنده ګانو قسم قسم نعمتونه کړي دي هغوی ته یې ددې په شکر ادا کولو امر کړی دی او ددی څخه د خوراکونو او څښاک نعمتونه دي

الله فرمایي

**د الله د رزق څخه خوراک وکړی او الله له شکر ادا کړی**

مسلمان باید ددې نعمتونو شکر ادا کړي ددې د شکر څخه دا هم ده چې سپک ونه ګڼړلی شی نه یې سپکاوی وشی نه په ګنده ځایونو کې وغورځول شی

البته په حوضونو کې د خوراک نه پس لاس وینځلو کې تفصیل دی مع چیرته لاس پس د ډوډۍ پوټې وی او هغه یې دی ځایونو کې وغورځول نو دا حرام کار دی ځکه پدې کې د نعمت سپکاوی دی

البته که لاس یا لوخی پسې د طعام څه غوړځې وی او د طعام پوټې یا د ډوډۍ ټکړې پسې نه وی نو بیا یې په وینځلو کې څه حرج نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه په لاس پسې څه نښتي وي هغه ګنډګی ده څه قیمت نه لري نه څوک د هغې په خوړلو کې رغبت لري بلکې دا د لاس ګنډګی ده که چیرته په لوخي پرته وي نو هیچا به یې د خوړو رغبت نه وی کړی هر څومره چې وړی تړی وی دغه رنګه که لاس پسې داسي پوټې نختي وی چې لری کول یې مشکل وی لکه د وریجو داني وغیره نو وینځل یې جایز دی

دی نه معلومه شوه چې د سایل طعام غورځول یا د هغه څښاکی شیانو بهیول چې هغه د خوراک څښاک لایق وی دی نه منع راغلی ده ځکه دا د الله د نعمت سپکاوی دی

## ۴. د خوراک څښاک په شروع کې بسم الله نه ویل

د خوراک په ابتدا کې په بسم الله ویلو حکم شوی دی

عمر بن ابی سلمه رضی الله عنه فرمایی«**يَا غُلاَمُ، سَمِّ اللَّهَ، وَكُلْ بِيَمِينِكَ، وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ**»**صحيح البخاري5376**

**نبی علیه السلام هغه ته فرمایلی وو ای غلام د الله نوم واخله او په ښی لاس خوراک وکړه او د هغه طرفنه خوراک کوه چې تاته نژدی وی**

نبی علیه السلام فرمایی

**شیطان د هغه طعام څخه خوراک کوی چې د الله نوم پری وانغستلی شي**

# په جنازه کې غلطیانی

## ۱. د تعزیت په وخت د قاریانو حاضرول

دا یو بدعت دی ددین سره هیڅ تعلق نلری

پدی باندی الله ته قربت حاصلولو د ځانه د شریعت جوړول دی چې الله یې اجازت ندی کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی فرمایی

**ایا ددوی لپاره شریکان شته چی ددوی دپاره یی دین مشروع کړی دی چی الله پری اجازت ندی کړی**

د تعزیت په وخت د قاریانو حاضرول د نبی علیه السلام څخه ثابت ندی نه په خیر القرون کی چا دا عمل کړی دی

نو د تعزیت لپاره کیناستل اصل کی مکروه دی بلکی سنت داده چی هر تعزیت کونکی دی فورا خپل کور ته واپس کیږی دی لپاره چی غم ختم شی د تعزیت لپاره د خلکو کیناستلو باره کی ټول مذاهبو د کراهت قول کړی دی نو کله چی صرف کیناستل مکروه دی نو پدی کی دا نور بدعات بالاولی ناجایز دی لکه قرات د قاریانو حاضرول د مالونو خرچ کول وغیره

ابن قیم رحمه الله فرمایی د تعزیت کول د نبی علیه السلام طریقه وه لیکن د تعزیت لپاره اجتماع او قران لوستل یا د قبر په خواه کی قران لوستل د نبی علیه السلام نه نقل ندی دا ټول بدعات خرافات دی

او پدی زمانه کی د خلکو د مصروفیت د وجی خلک د تعزیت لپاره کیناستلی نشی چی پدی سره په اجتماع کی څه منکر نه وی البته لګ وخت د تعزیت لپاره کیناستل بغیر د اجتماع نه پدی سره سنت ادا کیږی ځکه په څه سره چی یو سنت عمل پوره کیږی هغه خپله هم سنت وی

## ۲. د مړی د کور له طرفه خلکو لپاره خیراتونه او ډوډی ګانی تیاریدل

دا د سنت مخالفت او دمړی د خلکو مشغولول دی سنت دادی چی د مړی کور لپاره دومره خوراک تیار کړی شی چی هغوی له کافی وی

د عبد الله بن جعفر نه روایت دی چی کله د جعفر رضی الله عنه د شهادت خبر راغی نو نبی علیه السلام وفرمایل«**اصْنَعُوا لِآلِ جَعْفَرٍ طَعَامًا، فَقَدْ أَتَاهُمْ مَا يَشْغَلُهُمْ، أَوْ أَمْرٌ يَشْغَلُهُمْ**»**سنن ابن ماجه 1610**

**د جعفر د کورو خلکو لپاره طعام تیار کړی ځکه دوی ته داسی مصیبت رسیدلی دی چی په**



**په مختلفو شعبو کی د خلکو نه سر زد غلطیانی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هغی مشغول شوی دی**

امام ابن قیم فرمایی

**د نبی علیه السلام طریقه دا وه چی د مړی کوروالاو به د خلکو لپاره طعام نه تیاروو بلکی امر یی کړی وو چی نور خلک د هغوی لپاره طعام تیار کړی او هغو کور ته یی ولیږی او دا کار د سترو اخلاقو او د اهل میت څخه د بوج اوچتول دی ځکه هغوی د مړی په وجه خلکو لره د طعام نه مشغول دی**

## ۳. د میلمنو لپاره مراسم د کور رڼا کول او هدیه تقسیمول

دا د بدعاتو څخه دی ځکه د کور رڼا کول د مړی د اعلان په څیر دی چی ددی نه منع راغلی ده په دویمه مساله کی تیر شو چی د اهل میت سره په طعام تیارولو کی مدد کول سنت دی نه دا چی دوی ته په هغه څه سره تکلیف ورکړی شی چی الله پری هیڅ دلیل ندی نازل کړی او په سنت کی خیر او برکت دی په بدعت کی شر او مصیبت دی

## ۴- په مړی باندی ژړا کول

دا کار حرام دی او د جاهلیت صفت دی بلکی د کفر د شعبو څخه دی نبی علیه السلام فرمایی دوه صفتونه په خلکو کی د کفر دی په نسب باندی طعنونه کول په مړی ژړا کول

د ابو مالک اشعری رضی الله عنه نه روایت دی نبی علیه السلام فرمایی

**" أَرْبَعٌ فِي أُمَّتِي مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ لَا يَتْرُكُونَهُنَّ: الْفَخْرُ فِي الْأَحْسَابِ، وَالطَّعْنُ فِي الْأَنْسَابِ، وَالِاسْتِسْقَاءُ بِالنُّجُومِ، وَالنِّيَاحَةُ "، وَقَالَ النَّائِحَةُ: «إِذَا لَمْ تَتُبْ قَبْلَ مَوْتِهَا يُقَامُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَيْهَا سِرْبَالٌ مِنْ قَطِرَانٍ وَدِرْعٌ مِنْ جَرَبٍ»مسند ابي يعلى1577**

**څلور شیان زما په امت کی د جاهلیت دی چی پریږدی یی نه په نسب باندی فخر کول په نسبونو طعن کول د ستورو څخه باران غوښتل او په مړی ژړا کول**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**او فرمایلي یې دي په مړي باندې ژړا کونکې ښځه که توبه ونه باسي او مرګ پرې راشي نو د قیامت په ورځ به ودرولې شي په هغې باندې به د تارکوړو ځادر او د ...زغره وي**

د ام سلمه رضی الله عنه نه روایت دی فرمایي**قَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ:لَمَّا مَاتَ أَبُو سَلَمَةَ قُلْتُ غَرِيبٌ فِي أَرْضِ غُرْبَةٍ:لَأَبْكِيَنَّ بُكَاءً يُتَحَدَّثُ عَنْهُ وَكُنْتُ قَدْ هَيَّأْتُ الْبُكَاءَ عَلَيْهِ إِذْ أَقْبَلَتِ امْرَأَةٌ مِنَ الْمُسْعِدَاتِ تُرِيدُ أَنْ تُسْعِدَنِي فَاسْتَقْبَلَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ: "تُرِيدِينَ أَنْ تُدْخِلِي الشَّيْطَانَ بَيْتًا أَخْرَجَهُ اللَّهُ مِنْهُ؟ ", قَالَتْ: فَكَفَفْتُ عَنِ الْبُكَاءِ ولم أبك ابن حبان 3144**

**کله چې ابو سلمه وفات شو ما وویل دا ناشنا دی او په دې ځمکه کې ناشنایي ده ( یعنی هیڅوک مونږ دلته نه پیژنې) خامخا زه به دې پسې داسې ژړا وکړم چې خلک به یې یادوی کله چې ما د ژړا لپاره ځان تیار که او دیکښ یوه بل ښځه هم راغله چې زما مدد یې اراده وه نبی علیه السلام هغې ته مخې ته راغلی او ویې فرمایل ایا ته غواړې چې داسې کور ته شیطان داخل کړې چې الله ترینه ویستلی دی نو ما د ژړا نه ځان منع کړ او ومې نه ژړلې**

د نیاحه نه مراد په ژړا اواز اوچتول او د مړي صفتونه بیانول دي په مړي باندې په ژړا اواز اوچتول د کوترې د اواز سره مشابه دي دا ټول د الله په قدر باندې غصه کول دي چې د صبر منافي عمل دی او دا د کبایرو څخه دي ځکه وعید پرې راغلی دی

**۵. د مخونو وهل د جیبونو شلول او د جاهلیت اوازونه لګول**

دا ټول منکر اعمال دي او حرام کار دی ځکه دا د جاهلیت والاو صفات دي چې د الله په قضا باندې د نه راضی کیدو او په مصیبت باندې د بې صبرۍ دلیل دی د ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی نبی علیه السلام فرمایلي دي هغه زمونږ نه ندی چې مخونه ووهي جیبونه شلوی او د جاهلیت چغې وهي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نبی علیه السلام دا قول چی زمونږ نه ندی یعنی زمونږ د طریقی والاو څخه ندی

دا ددی کار په تحریم باندی دلالت کوی

**حَدَّثَنِي أَبُو بُرْدَةَ بْنُ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: وَجِعَ أَبُو مُوسَى وَجَعًا شَدِيدًا، فَغُشِيَ عَلَيْهِ وَرَأْسُهُ فِي حَجْرِ امْرَأَةٍ مِنْ أَهْلِهِ، فَلَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يَرُدَّ عَلَيْهَا شَيْئًا، فَلَمَّا أَفَاقَ، قَالَ: أَنَا بَرِيءٌ مِمَّنْ بَرِئَ مِنْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بَرِئَ مِنَ الصَّالِقَةِ وَالحَالِقَةِ وَالشَّاقَّةِ»**

أخرجه مسلم في الإيمان باب تحريم ضرب الخدود وشق الجيوب رقم 104

د ابو برده رضی الله عنه نه روایت دی چی ابو موسی اشعری یو ځل بی هوشه شو او د هغه سره د کور د یوی ښځی په غیږه کی وو نو هغی چغی شروع کړی ابو موسی پدی حالت کی هغی ته هیڅ جواب ورنکړی شو لیکن کله چی هوش کی شو نو ویی وفرمایل زه د هغه څه نه  بری یم چی الله او رسول ترینه بری دی نبی علیه السلام د هغه ښځی نه بری دی چی د مصیبت په وخت کی چغی وهی او د هغی نه چی د مصیبت په وخت کی سر خروی او د هغی نه چی د مصیبت په وخت کی جامی شلوی

## ۶. جنازه پسی د ښځو تلل

ددی نه منع راغلی ده ام عطیه رضی الله عنها فرمایی«**نُهِينَا عَنِ اتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ، وَلَمْ يُعْزَمْ عَلَيْنَا**»

ابن ماجه 1577

**نبی علیه السلام مونږ د جنازی پسی تګ نه منع کړی یو لیکن پدی کار کی په مونږ باندی سختی نده شوی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جنازه پسې د زنانه تګ د ډیرو منکراتو سبب دی پدې کې د هغې نه چغې او بې صبرۍ مخې ته راځي

**۷. د خاوند د خپلې ښځې نه علاوه په مړی باندې د بل چا ددرې ورځو نه ډیر خفګان کول البته د هغه خپله ښځه به څلور میاشتې او لس ورځو عدت تیروی**

دا کار حرام دی ام حبیبه رضی الله عنها فرمایي«**لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ، إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا**»**مسند احمد26765**

**نبی علیه السلام په منبر باندی فرمایلي وو د هیڅ زنانه لپاره جایز ندی چې په الله او اخرت باندی ایمان لري چې مړی باندی ددرې شپو نه ډیر خفګان وکړی مګر په خپل خاوند باندی څلور میاشتې او لس ورځې**

د احداد معنی داده چې د ډول عطرو نکریزو وغیره نه به ځان ساتي کوم نه چې ښځه په عدت کې منع شوی ده

نو د ښځې لپاره د درې ورځو نه ډیر احداد ندی جایز مګر په خپل خاوندباندی

الله تعالی فرمایي{**وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا**} [البقرة: 234]

**پتاسو کې چې د کومو زنانه و خاوند وفات شي او خپلې ښځې پریږدی نو په ځانونو به څلور میاشتې او لس ورځې انتظار کوی**

**۸. په اخبارونو وغیره کې د مړی اعلان کول**

د نعی نه مراد د یو چا د مرګ خبر خپرول دي او ددی نه منع راغلې ده امام ترمذی فرمایي بعضې

(c) ketabton.com: The Digital Library

علماو نعی مکروه ګڼلی ده او د نعی نه مراد د هغوی په نزد چی خلکو کی اعلان وکړی شی چی فلانی مړ شو دی لپاره چی جنازه ته یی حاضر شی

او بعضی اهل علمو ویلی دی پدی څه باک نشته چی یو سړی خپلو خپلوانو ته د مړی خبر ورکړی

د نعی نه منع د حذیفه او ابن مسعود په حدیث کی راغلی ده او د هغی معنی داده چی خلکو کی ګرځیدل او ددفن نه وروسته یا د هغه خلکو لپاره اعلان کول چی مونځ کول یی پری اراده نه وی

البته هغه چا ته خبر ورکول چی جنازی ته حاضریږی دی کی څه باک نشته ځکه نبی علیه السلام د نجاشی د مرګ اعلان کړی وو دی لپاره چی صحابه په هغه جنازه وکړی او ځکه چی هغه د کفارو په ملک کی وفات شوی وو

## ۹. د عدت والا ښځی د سپوږمی د لیدو چت ته د ختلو او په خپلوانو باندی د مصافحه نه بغیر سلام کولو نه منع کول

د عوام په نزد د شایع غلطیو څخه یو دا هم ده حالانکه سنت کی پینځه شیان راغلی دی چی د عدت په حالت کی به تری ښځه اجتناب کوی

۱. د هغه کور څخه وتل چی خاوند یی کله وفات شو او هغه هلته وه مګر د ضرورت په وجه

۲ د ډول لباس اغوستل د ډول او سینګار والا لباس به نه اچوی

۳ عطر په لباس یا بدن به عطر نه لګوی البته که د حیض نه پاکه شوه بیا لک شان عطر استعمالولی شی او په ویښتو کی به نکریز یا عطر نه لګوی

سره زر به نه اچوی ځکه دا ډول دی

۵. رانجه به نه استعمالوی نه هغه رنګونه چی ځان پری ډولی کوی

دا پینځه شیان دی چی عدت والا ښځی باندی یی ترک لازم دی ددی نه علاوه ورله هر شی مباح دی هغه هر مباح شی کولی شی او د الله تقوی او څارنه به په هر وخت کی یاده لری

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۰. د کومی ښځی نه چی خاوند وفات شی هغی لپاره توری جامی خاص کول

پدی حالت کی توری جامی اغوستل لازم ندی د عدت په وخت ښځه صرف دړولی جامو څخه منع ده لکه رنګینی جامی یا ښایسته لباس ددی نه علاوه هر رنګ والا جامه اغوستلی شی لکه تور زیړ شین تر څو چی د ړول جامه نه وی

دا ټول کارونه د خاوند د حق د احترام په وجه وی ام عطیه رضی الله عنها فرمایی نبی علیه السلام فرمایلی دی«لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثَةٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ، فَإِنَّهَا تُحِدُّ عَلَيْهِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا، وَلَا تَكْتَحِلْ، وَلَا تَلْبَسْ ثَوْبًا مَصْبُوغًا إِلَّا ثَوْبَ عَصَبٍ، وَلَا تَمَسَّ طَيِّبًا إِلَّا عِنْدَ أَدْنَى طُهْرَتِهَا»المنتقى لابن الجارود766

**د زنانه لپاره جایز ندی چی په الله او اخرت ایمان لری چی د دری ورځو نه ډیر خفګان وکړی مګر په خپل خاوند باندی نو هغه به رانجه نه لګوی رنګینه جامه به نه اغوندی مګر د عصب کپړه عطر به نه استعمالوی مګر؟...**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**